# د افغانستان اسلامي امارت

# رسمي جريده

د امتياز خاوند :دعدليې وزارت

دچاپ نېټه :

يکشنبه د۱۴۲۱ه.ق کال د شوال المکرم

د مياشتې دولسمه نېټه

پرله پسې نمبر ۷۹۵

د کرنې او مالدارۍ وزارت د اړوندو تقنيني سندونو جريده

ګڼه ۷۹۵

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## قَالَ اللّٰهُ تبارَكَ وَتَعالىٰ !

## اَطِيْعُوْاللّٰهَ وَاَطِيْعُوْا الرَّسُوْلَ وَ اُولِى الْاَمْرِ مِنْكُمْ

ترجمه : اطاعت وکړی دالله جل جلاله او اطاعت وکړی د رسول ﷺ
او داولی الامر چې ستاسې څخه وی .

# فهرست


| ګڼه | دکرنې اومالدارۍ وزارت دا‌ړوندوتقنيني سندونوفهرست | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | دافغانستان اسلامي امارت دځنګلونوقانون . | ۱-۱۷ |
| ۲ | دافغانستان اسلامي امارت دځمکوالی(زمينداری)دچارودتنظيم قانون. | ۱۸-۹۱ |
| ۳ | دطبيعت دساتنې قانون . | ۹۲-۱۲۲ |
| ۴ | دنباتي قرانطين دخدمتونوقانون . | ۱۲۳-۱۴۳ |
| ۵ | دحيواني طب (وترنرۍ )دخدمتونوقانون . | ۱۴۴-۱۶۳ |
| ۶ | دښکاراوژويو(وحش) دژوندانه دپايښت قانون . | ۱۶۴-۱۷۶ |
| ۷ | دځرځای اومرعي قانون . | ۱۷۷-۱۸۴ |
| ۸ | دکرنې اومالدارۍ وزارت داجرآتواوفعاليتونودتنظيم مقرره . | ۱۸۵-۲۰۸ |
| ۹ | دنباتي قرانطين دخدمتونومقرره . | ۲۰۹-۲۲۴ |
| ۱۰ | دنباتي ناروغيواوآفتونوضددرملو(پستي سايدونو) دواردولو وېش اواستعمال مقرره. | ۲۲۵-۲۵۳ |
| ۱۱ | دکرنې اومالدارۍ وزارت دکرنيزو(زراعتي)کوپراتيفونودادارې مقرره. | ۲۵۴-۲۶۴ |
| ۱۲ | دکرنيزوڅېړنودمؤسسې (انستيتوت)اودهغې دعلمي کادرمقرره . | ۲۶۵-۲۷۸ |
| ۱۳ | دکرنې اومالدارۍ وزارت دفني(ميکانيزه)مرکزونو(استېشنونو) دتراکتورکارانواوکمباين کارانودمزد دورکولودځرنګوالي مقرره. | ۲۷۹-۲۸۴ |
| ۱۴ | دکيمياوي سرې اودکرنيزوخدمتونودتصدۍ اساسنامه . | ۲۸۵-۲۹۴ |
| ۱۵ | دکرنې داصلاح شووتخمونودتصدۍ اساسنامه . | ۲۹۵-۳۰۶ |
| ۱۶ | په خارجي اوغيرامارتي مؤسسوکې دښځودکارنه کولوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۰۷ |
| ۱۷ | دکوکنارودکښت دمخنيوي په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۰۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | دتریاکودکښت دبندېدوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان. | ۳۰۹ |
| ۱۹ | دتریاکودکښت دمخنیوي په هکله دامیرالمؤمنین پیغام . | ۳۱۲-۳۱۰ |
| ۲۰ | دکراموعلماو،طالبانو،مجاهدینواونوروشخاصو،امارتي دندوته دمنلواودهغوی درتبودتثبیت په هکله چې تراوسه ئې رتبې یادرجې نه دي تثبیت شوي ،دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان. | ۳۱۸-۳۱۳ |
| ۲۱ | امارتي دندوته په خپل وخت دحاضرېدواورخصتېدوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۲۴-۳۱۹ |
| ۲۲ | په جنګ کې دناوړه کارونواومنکراتودمخنیوي په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۲۶-۳۲۵ |
| ۲۳ | په ورزشي ډګرونوکې دمازیګرله آذان وروسته دلوبو نه کولوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۲۸-۳۲۷ |
| ۲۴ | دخارجي وکالت خطونودنه اجراء کولوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان . | ۳۲۹ |
| ۲۵ | دناحقه دعوې کوونکو،تزویرکوونکوو(جعل کارانو)،ناحقه شاهدی اداء کوونکو،ناحقه قسم خوړونکو،ددرواغواطلاع ورکوونکواوناحقه تورلګوونکودجزاء په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام حکم . | ۳۳۱-۳۳۰ |
| ۲۶ | داسلامي امارت په ملکي اونظامي اداروکې دربېرې وهلوخلکودکارونودنه اجراء کولوپه هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام په فرمان . | ۳۳۳-۳۳۲ |

# رسمي جريده

**دافغانستان اسلامي امارت د ځنګلونو**

**د قانون دانفاذپه هکله د افغانستان**

**اسلامي امارت دمقام**

**فرمان**

ګڼه :(۵۷)

نېټه : ۸/۱۰/۱۴۲۰هـ.ق

دافغانستان اسلامي امارت د وزیرانو دشوري د۹/۸/۱۴۲۰هـ.ق نېټې د(۳)ګڼې مصوبې پراساس دافغانستان اسلامي امارت دځنګلونودقانون انفاذ، په (۶)فصلونو او(۴۵)مادو کې منظوراو توشېح کوم .

دغه قانون دتوشېح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جريده کې دې خپورشي .

والسلام

داسلام خادم

امیرالمؤمنین ملامحمدعمر(مجاهد)

**فرمان مقام امارت اسلامی افغانستان**

**در موردا نفاذ قانون جنګلات**

**امارت اسلامی**

**افغانستان**

شماره :(۵۷)

تاریخ :۸/۱۰/۱۴۲۰هـ.ق

به اساس مصوبۀ شماره (۳)مؤرخ ۹/۸/۱۴۲۰هـ.ق شورای وزیران امارت اسلامی افغانستان ،انفاذ قانون جنګلات امارت اسلامی افغانستان رابه داخل (۶)فصل و (۴۵)ماده منظور وتوشیح میدارم .

این قانون ازتاریخ توشیح نافذ و درجریدۀ رسمی نشرګردد.

والسلام

خادم اسلام

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دافغانستان اسلامي امارت

# دځنګلونو قانون

## د افغانستان اسلامی امارت
## د ځنګلونو قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د ځنګلونو په اداري، ساتنې بیا ودانولو، اصلاح کولو، پر مختیااو ګټې اخیستنې پورې دا ړوند وچارو د تنظیم په مقصد وضع شوی دی.

**دوه یمه ماده:**

په دی قانون کې لاندی اصطلاح ګانې لاندینی مفهومونه افاده کوي:

۱- ځنګل: هغه ساحه ده چې ټوله او یا یوه برخه ئی طبیعي یامصنوعي میوه لرونکو او بې میووونو او بوټو احتوا کړی وی.

هغه ساحې چې پخوا ځنګل وو او د ځینو عواملو له امله ویجاړی او یا له منځه تللي وی او هغه امارتی ځمکې چې د امارت په لګښت د مصنوعی ځنګل په بڼه بدلیږی هم په دی تعریف کې شاملیږی.

۲- ساتنه: د کرنې او مالداری وزارت د مؤظفینو په واسطه د ځنګل ساتنه اوڅارنه ده.

## قانون جنگلات امارت اسلامی افغانستان
## فصل اول
## احکام عمومی

**مادۀ اول:**

این قانون به منظور تنظیم امور مربوط به اداره، حفاظت، احیاء،اصلاح، انکشاف وبهره برداری از جنگلات وضع گردیده است.

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده مینماید:

۱- جنگل: ساحۀ محلیکه کل ویاقسمتی از آن رابته ها ودرختان مثمر یا غیر مثمر به شکل طبیعی یامصنوعی احتوا کرده با شد.

ساحاتیکه قبلاً جنگل بوده,بنابر بعضی عوامل تخریب یا منهدم شده باشد وزمین های امارتی که به مصرف امارت به شکل جنگل مصنوعی درآورده میشود نیز داخل این تعریف میباشد.

۲- حفاظت: نگهداشت ومراقبت جنگل توسط مؤظفین وزارت زراعت ومالداری.

[illegible]

۱۱ـ بې میوې ځنګل : هغه ځنګل دی چې تولیدات ئې صنعتي او دسونك لرګي يا فرعي محصولات وي .

۱۲ـ دوحش ژوند : دغیر اهلي کوچنیو او سترو منکشفو او نامنکشفو ځناورو او بوټو دنسل پایښت او ساتنه ده .

۱۳ـ مجازی سیمې: هغه سیمې چې دامارت له خوا دوحش دژوندانه دپناهګاه اویاد عامه تفریح ځای(پارك)په توګه منع نه وی اعلام شوی .

۱٤ـ ممنوعه سیمې : هغه سیمې او ساحې دی چې امارت په هغو کې د حیواني او نباتي وحش له ژوند اود هغوی دژوندانه له چاپېریال نه هر راز ګټه اخیستنه منع کړې وی .

۱۵ـ پټنځای(پناهګاه) : هغه ټاکلې طبیعي او مصنوعي ساحه ده چې دحیواناتو اونباتاتو د بیلابیلو ډولونو دساتنې اودنسل دتکثیر اودهغو دژوندانه دچاپیریال دساتنې په مقصد تثبیته شوی ده اوپه هغې کې ښکار، دکبانو نیونه دام ایښودل،زهر ورکول، وژنه، ځورونه او نیونه او دطبیعي بوټو راټولول منع دی.

۱٦ـ ترساتنې لاندې سیمې: هغه ټاکلې ساحه

۱۱ـ جنگل غیرمثمر: جنگلی که تولیدات آن چوب صنعتی ومحروقاتی یا محصولات فرعی باشد .

۱۲ـ حیات وحش : بقا وحفاظت نسل نباتات وحیوانات کوچك وبزرك منکشف ونامنکشف غیر اهلی .

۱۳ـ مناطق مجاز : مناطقیکه از طرف امارت بحیث پناهگاه حیات وحش ویاتحت حفاظهٔ تفریحگاه(پارك)عامه،ممنوعه اعلان نشده باشد.

۱٤ـ مناطق ممنوعه : مناطق و ساحاتیکه امارت در آن هر نوع بهره برداری را از حیات وحش حیوانی و نباتی و محیط زیست آن، منع قرار داده باشد .

۱۵ـ پناهگاه : ساحهٔ معین طبیعی و مصنوعی که به منظور نگهبانی ,تکثیر نسل, حفظ وحمایهٔ کامل انواع مختلف حیوانات،نباتات و محیط زیست آن تثبیت گردیده ، شکار ماهی گیری، دام شانی ، زهر دادن، کشتن اذیت،دستگیری حیوانات وجمع آوری نباتات طبیعی در آن ممنوع باشد.

۱٦ـ مناطق تحت حفاظت : ساحهٔ معینی که

ده چې دځـــنو سیمه ئیزو څارویو او بوټو او دهغوی دژوندانه دچاپیریال دساتنې په مقصد تثبیت شوی ده .

۱۷ـ عامه تفریح ځای(پارک): دعامه‌ملکیت هغه ساحې یاټاکلې حدوددي چې دنباتي او حیواني طبیعي منظرو دساتنې اودډول ډول طبیعي او تاریخي مقصدونولپاره بیلې کړای شوي دي.

دریمه ماده :

ځنګلونه دامارت په تصرف کې دي او په هغو باندې داشخاصو لخوا مالکانه تصرف مجاز نه دي .

ـهغه ځنګلونه چې دهغو مالکین شرعي او قانونـــي اسناد ولري،ددې قانون له حکمونو څخه مستثنئ دي .

ـ دځنګلونوڅخه دګټې اخیستلولپاره دخصوصي برخې پانګه اچونه،دقانون سره سم مجازده.

ـ هغه طبیعي اومصنوعــي ځـنګلونه چې داسلامي امارت د ادارو لخـوا جوړاو احیاء شوي دي،داسلامي امارت په تصرف کې دي

د ځنګلونوساتنه دکرنې اومالــداري وزارت دسیمې د خلکواو د اسلامي امارت د نورو اړوندو ادارو دنده ده .

بـه منظور نگهبانی ، حفاظه وحمایهٔ بعضی از حیوانات ونباتات محلی ومحیط زیست آنها تثبیت گردیده است.

۱۷ـ تفریح گاه(پارك)عامه : ساحـــاتـــی از ملکیت عامه یاحدودمعینـی کـه برای حفظ مناظر طبیعی نباتی وحیوانی ومــقاصد متنوع طبیعی وتاریخی اختصاص داده شـده است.

مادهٔ سوم :

جنـگلات بـه تـصـرف امـــارت بـوده وتــصـرف مـالـکـانــه اشخاص در آن مـجازنیست .

ـجنگلاتیکه مالکین آن اسناد شرعی وقانونی داشته باشند از احـکام این قانون مستثنی میـــباشد .

ـ سرمایه گذاری بخش خـصوصی جـهت استفاده از جـنگلات، طبق قانون مجازاست.

ـ جنگلات طبیعی ومصنوعی ئیکه توسط ادارات امارت اسلامی احیاء واحداث گـردیده، در تصرف امارت اسلامـــی میباشـــد.

حفاظت جنگلات ازوظائف وزارت زراعـت ومالداری، مردم محل وسائر ادارات ذیربط امارت اسلامی میباشد .

## دوه یم فصل

## دځنګلونو اداره او له هغو څخه دګټی اخیستنې څرنګوالې

څلورمه ماده :

دکرنې اومالداری وزارت دځنګلونوپه اداری او ساتنې پوري اړوندی چاری ددغو لاندی هدفونو دعملی کولو په مقصد تر سره کوی:

۱ـ دسیمی داقلیم بدلون او ښکلا.

۲ـ دژوندانه دچاپیریال دککړتیا مخنیوی .

۳ـ له ګرځنده شګو څخه دکروندو، ودانیو او سړکونو دساتنې په مقصد دبادونو دچټکتیا کمښت .

٤ـ په شګو او خاورو دسیندونو، جهیلونو او بندونو د ډکیدومخنیوی.

۵ـ دخاوری دښوئیدو مخنیوي.

٦ـ له سیلاوونو سره مجادله.

۷ـ تر ځمکې لاندی او بو زیاتوالی .

۸ـ دځمکی پرمخ داوبو دبهیر تنظیم .

۹ـ په فنی ډول دونو غوڅول او تکثیرول .

۱۰ـ دځنګلونو دغوڅیدو له امله دپیدا شویو ضائعاتو مخنیوی .

۱۱ـ د عامه اړتیا وو دلری کولو په مقصد

## فصل دوم

## اداره وطرز بهره برداری از جنگلات

مادهٔ چهارم :

وزارت زراعت ومالداری، امور مربوط به اداره وحفاظهٔ جنگلات رابه منظور تحقق اهداف ذیل انجام میدهد :

۱ـ تغییر اقلیم وتزئین منطقه .

۲ـ جلو گیری از آلودگی محیط زیست .

۳ـ تخفیف سرعت بادها ، غرض حفاظت کشتزارها، ساختمانها وسرکها از ریگهای سیار .

٤ـ جلوگیری از پرشدن دریاچه ها،جهیل ها وبند ها از ریك وخاك .

۵ـ جلوگیری از فرسایش خاك .

٦ـ مجادله با سیلابها .

۷ـ افزایش آبهای زیرزمینی .

۸ـ تنظیم جریان آبهای سطح الارضی .

۹ـ قطع وتکثیر اشجار به صورت فنی .

۱۰ـ جلوگیری از ضائعات ناشی از قطع جنگلات .

۱۱ـ تهیه وعرضهٔ محصولات طبیعی وصنعتی

دځنگلونو دطبیعي او صنعتـي مـحصولاتو برابرول او وړاندی کول .

۱۲ـ دگرځندوی دپراختیا په مقصد دعـامه پارکونو بیا جوړونه او ساتنه .

۱۳ـ دوحشي ښاریو اوالـوتـونکـو دنسل او دوحش دژوندانه دسیمو ساتنه .

۱٤ـ د امنیتـي او سوق الـجیشي اهمیت لرونکو سیمو دنظم رعایتول .

پنځمه ماده :

ددی قانون په څلورمه ماده کې د درج شویو هدفونو دعملی کولو په مـقـصـد دواکـمـنو مقاماتو په منظوری دژونـدانـه د چاپیریال دساتنې (هیئت) جوړیزی .

شپږمه ماده :

دکرنې او مـالـداری وزارت مـکـلـف دی چی دځـنگلونو اداره پیا وړی کړی او داړتیا په صورت کی ئی پراخه کړی .

اوومه ماده :

(۱) دځنگلونو له عمده او فرعی محصولاتو څخه گټه اخیستنه پـه امارت پوری اړه لری.

(۲) انفرادی اشخاص او خصوصی مؤسسی کولی شـی دکرنې اومالداری له وزارت سره

جـــنـــگلات غــــرض رفـــع احتیاجات عامه .

۱۲ـ احیاء وحفاظهٔ پارکهای عــامــه غــرض انکشاف سیاحت (جهانگردی) .

۱۳ـ حفاظهٔ نسل حیـوانات وطیـور وحشی ومحل زیست وحوش .

۱٤ـ رعـایـت نـظـم مـناطـق دارای اهمیت امنیـتـی وسوق الجیشـی .

مادهٔ پنجم :

به منظور تـحـــقق اهـــداف مـندرج مادهٔ چهارم این قانون، هیئت (کمیسیون) حفاظت محیط زیست به منظوری مقامات صـالـحـه ایـجـاد مـیـگـردد .

مادهٔ ششم :

وزارت زراعت ومـالـداری مـکـلـف است ادارهٔ جنگلات را تقویه نموده، در صـــورت لـزوم تـوسـعه بـخـشد .

مادهٔ هفتم :

(۱) بـهـره بـرداری از مـحـصـولات عمده وفـرعی جـنـگلات،مربوط امارت میباشد .

(۲) اشخاص انفرادی ومؤسسات خصوصی در برابر پرداخت یك مـقـدار پـول میتوانند

چارتراشو،دډاگی له اره شویو لرگیو،پاله،نویو ایـښودل شـیو نیالگیو، سکرو، دسونك له لرگیو او له هغو نورو محصولاتو څخه چې له ځنگلونو څخه تر لاسه کیږي، دکـرنـې او مالدارۍوزارت دمسؤلـي اداری دمخکینې اجازه لیك له تر لاسه کولو پـرته استـفاده وکړی اووئی لیږدوی .

دوولسمه ماده :

دپستی دراټولولو نیټه دهری سیمی دشرائـطو له په پام کې نیولوسره دکرنې اومـــالدارۍ وزارت دمسؤلی اداری له خوااعـلا نـیږی .

## دریم فصل

## دځنگلونو ساتنه

دیارلسمه ماده :

دکرنې په ځمکه اویا د نورو مقصدونو لپاره دځنگلونو بدلول اوله منځه وړل مجاز نه دی مـگر په هغه صورت کې چې د امـارت پـه اجـازه دعـام الـمـنفعه امارتی پـروژو دجوړولو دمقصدونو لپاره لازم وبـلـل شی.

څوارلسمه ماده :

دځـنگلـونـو حـدود دواکـمـن فـنـی هیئت لـه خـوا ټـاکـل کـیږی .

چـوب اره شـده داگــه ، پـالـه نـونـهـال ، ذغـال، چـوب سـوخت وسـائـر مـحصولاتیکـه از جـنـگل بـه دست مـی آیـد،بـدون اجـازه نـامـۀ قـبلـی اداره‌ٔ مسؤل وزارت زراعت ومـالـداری نـقـل دهـد .

مادۀ دواز دهم :

تاریخ معین چیدن پسته، با در نظر داشت شرائط هر منطقه، از طـرف ادارۀ مسؤل وزارت زراعت ومالداری اعلان میگـردد.

## فصل سوم

## حفاظت جنگلات

مادۀ سیزدهم :

انهـدام وتبدیل جنگلات به زمیـن زراعتی یابه مقاصد دیگرمجـاز نیست ، جـز در صـورتیـکه به اجـازۀ امارت به مقاصد اعمـار پروژه هـای عـام المنفعۀ امارتی لازم دانسـتـه شـود .

مادۀ چهاردهم :

تعییـن حدود جنگلات توسـط هیئت فنـی ذیـصلاح صـورت میگـیرد.

**پنځلسمه ماده :**

په قصدی ډول دځنګلونو سوځول جرم دی.
سیمه ئیزی امارتی اداری او دسیمی خلك مکلف دی چی دناخاپی اورپه وژنه کی همکاری وکړی او دموضوع په هکله ډیر ژر واکمنو مراجعوته خبرور کړی .

**شپاړسمه ماده :**

دسوځولولپاره دځنګلونوله هغو لرګیو څخه کار اخیستل مجاز نه دی ، چی د فنی مقصدونو لپاره کارتری اخیستل کیږی .

**اوولسمه ماده :**

امارت کولی شی چی ددی قانون دڅلورمی مادی دحکم دعملی کولو په مقصد له ځنګلی منابعو او دامارتی ځنګلونو له لرګیو او څرځایونو څخه کار اخیستل په دائمی یا مؤقتی ډول منع اعلان کړی .

**اتلسمه ماده :**

امارتی او خصوصی مؤسسی تردغو شرطونو لاندی کولی شی دځنګلونو تر څنګ داړتیا وړ دستګاه وو په جوړولو لاس پوری کړی:

**مادهٔ پانزدهم :**

حریق عمدی جنگلات جرم میباشد .
ادارات محلی امارتی واهالی محل ، مکلف اند در اطفای حریق غیر مترقبه همکاری نموده و از موضوع به اسرع وقت به مراجع ذیصلاح اطلاع دهند .

**مادهٔ شانزدهم :**

استفاده از چوبهای جنگلات که به مقاصد فنی به کار برده میشود ، برای محروقات مجاز نیست .

**مادهٔ هفدهم :**

امارت میتواند به مقصد تطبیق حکم مادهٔ چهارم این قانون ، بهره برداری منابع جنگلی،استفاده از چوب و چراگاه های جنگل امارتی را به طور دائمی یا مؤقتی ممنوع اعلان نماید .

**مادهٔ هجدهم :**

مؤسسات امارتی وخصوصی تحت شرائط ذیل میتوانند به اعمار دستگاه های مورد نیاز در جوار جنگلات اقدام نمایند :

۱ـ دکرنی او مالداری له وزارت څخه د اجازه لیك ترلاسه کول .

۲ـ د ځنګل له ساحې څخه لږترلږه د پنځو کیلو مترو واټن رعایتول .

نولسمه ماده :

دونو غوڅول ، دڅانګو غوڅول ، ماتول ، د پوټکو ایستل ، ټپي کول ، پریکول او د بیخونو ایستل او دځنګلونو له میوه لرونکو او بې میووونو څخه دسکروبرابرول ، جوازنه لري .

شلمه ماده :

دځنګلونو د حالت دسمولو او ښه والي په مقصد،ونې یوازې دکرنې او مالداری وزارت په اجازه غوڅیدای شي .

یوویشتمه ماده :

(۱) په ځنګلونو کې دڅارنې دبرجونو تأسیساتو، سړکونو او دنوروآسانتیا وو له منځه وړل منع دی .

(۲) دځنګلونو ممنوعه سیمو ته سیاحت ،فلم اخیستنه او عکاسي او دنباتي او حیواني محصولاتو راټولول جواز نلري .

۱ ـ کسب اجازه از وزارت زراعت ومالداری .

۲ ـ رعایت حد اقل فاصلهٔ پنج کیلومتر از ساحهٔ جنگل .

مادهٔ نزدهم :

قطع ، شاخه زدن ، شکستاندن ،پوست کردن زخمی کردن ، بریدن ، ریشه کن کردن و کندن درختان و تهیهٔ ذغال از درختان مثمر وغیر مثمر جنگلات جواز ندارد .

مادهٔ بیستم :

قطع درختان به منظور اصلاح وبهبود وضع جنگلات ، صرف به اجازهٔ وزارت زراعت و مالداری صورت گرفته میتواند .

مادهٔ بیست و یکم :

(۱) تخریب برجهای ترصد ، تأسیسات سرکها وسائر تسهیلا ت داخل جنگلات ممنوع است .

(۲) سیاحت ، فلمبرداری وعکاسی از نقاط ممنوعه وجمع آوری محصولات نباتی وحیوانی جنگلات جواز ندارد .

پنځـــــم فصـــــل

مـــؤیـــــدات

شپږ ویشتمه ماده:

هغه څوك چې دځنګلو نو ساحه و پلـــوری دځــنګل د ساحې په بیرته ورکولوبر سیره له شرعی حکمونوسره سم سزاور کول کیږی.

اووه ویشتمه ماده:

(۱) هغه څوك چـــې ځنګلونو ته او رواچوی در سید لی تاوان په جبیره کولـــو بر سیره د شرعی حکمونوسره سم سزاورکول کیږی.

(۲) که چیری ددی مادی په لومړی فقره کی دلیکل شوی جرم دترسره کیدولـــه امله د خلکو ژوندیامالونه له خطرسره مخامخ شی مرتکب ته له شرعی حکمونوسره سم سزاورکول کیږی.

اته ویشتمه ماده:

هغه څوك چې له ځنګلونویادهغوله حاصلا تو نه په خپل سرګته واخلی یااستفاده وکړی له شرعی حکمونو سره سم سزاورکول کیږی .

نهه ویشتمه ماده:

هغه څوك چې د کرنې او مالـداری وزارت د رسمی اجازه لیك له ترلاسه کولو پر تــــه له ځنګلونونه په غیرمجازواټن کی ددستګاوو په

فصـــــــــل پنـــجم

مــــــؤیـــــدات

مادۀ بیست و ششم:

شخصیکه ساحـــۀ جنگلات را به فـــروش بر ساند ، عـلا وه براسترداد ســاحۀ جنگل طبق احکام شرعی مجازات میشود .

مادۀ بیست و هفتم :

(۱) شخصیکه جنگلا ت را آتش زند، علاوه بر جبران خسارۀ وارده طبق احـکام شریعت مجازات میگردد.

(۲) هــرگـــاه بـــــه اثر ارتـکـاب جـرم مــــــندرج فقرۀ (۱) ایـــن ماده ، حیات یـــا اموال مـــردم به خـــــطر مواجه شود مرتکب طبق احکام شرعی مجازات میگردد.

مادۀ بیست و هشتم:

شخـــصــیکه از جنـــگلات یا حــاصـــلات آن خودسرانه بهره برداری یااستفـاده نمایـد طبق احکام شـــــرعی مجازات میگردد.

مادۀ بیست ونهم:

شخصـــیکه بدون اجــازۀ رسمی وزارت زراعت و مالداری به تأ سیـس دستگاه ها در فاصلۀ غیر مجاز از جنگلا ت مبـادرت ورزد

جوړولولاس پوری کړی ،له شرعی حکمونو سره سم سزا ورکول کیږی.

**دیرشمه ماده :**

هغه څوك چی د ځنګلونو ساحه په خپل سر د کرنی په ځمکه بد له کړی د شریعت له حکم سره سم سزا ورکول کیږی .

**یودیرشمه ماده :**

هغه څوك چی د کرنی او مالداری وزارت له خبر تیا مخکی د پستی په را ټولولو لاس پوری کړی ، د راټولی شوی پستی په بیرته ورکولو برسیره له شرعی حکمونوسره سم سزا ورکول کیږی.

**دوه دیرشمه ماده:**

هغه څوك چی دځنګلونوحاصلات دواکمنو رسمی مراجعو له اجازی پرته ولیږدوی یائی ترعملیاتی (پروسس) مرحلولاندی ونیسی،له شرعی حکمونو سره سم سزا ورکول کیږی.

**دری دیرشمه ماده:**

دغولاندی اشخاصوته له شرعی حکمونو سره سم سزا و رکول کیږی:

۱- هغه مؤظف چی مخصوص څټکونه په یو ډول نه یو ډول د بل چا په واك کی ورکړی .

طبق احکام شرعی مجازات میگردد.

**مادهٔ سی ام :**

شخصیکه ساحهٔ جنگلات را خود سرانه به زمین زراعتی مبدل سازد طبق احکام شریعت مجازات میگردد.

**مادهٔ سی ویکم:**

شخصیکه قبل از ابلاغ وزارت زراعت و مالداری به چیدن پستهٔ اقدام نماید،علاوه بر استرداد پستهٔ جمع آوری شده طبق احکام شرعی مجازات میگردد.

**مادهٔ سی ودوم :**

شخصیکه محصولات جنگلات را بدون اجازه مراجع رسمی ذیصلاح حمل ونقل نمایدیاتحت مراحل عملیه(پروسس)قراردهد طبق احکام شرعی مجازات میگردد .

**مادهٔ سی و سوم :**

اشخاص آتی طبق احکام شرعی مجازات میگردند:

۱- مؤظفیکه چکش های مخصوص رابه نحوی ازانحاء دراختیار شخص دیگر قرار دهد.

۲ـ هغه څوك چې مخصوص څټکونه د برابرشوی پلان پر خلاف او په غیر فنی ډول استعمال کړی.

۳ـ هغه څوك چې جعلی څټك استعمال کړی .

**څلور دیر شمه ماده :**

دځنگلو نو د لرگیو صادرول جواز نه لری مر تکب ئی د قاچاقودانسداد دقانون له حکمونو سره سم تر عدلی تعقیب لاندی نیول کیږی.

**پنځه دیر شمه ماده:**

هغه څوك چې ځنگلونه ،دڅارنی بر جونه تأسیسات ، سړکونه او نوری آسانتیا وی له منځه یو سی ، له شرعی حکمونو سره سم سزا ور کول کیږی.

**شپږ دیر شمه ماده :**

هغه څوك چې ځنگلونه د غیر مجاز پنا هگاه یا ډار اچونی په توگه و ټاکی،د شریعت له حکمو نو سره سم تر عدلی څارنی لاندی نیول کیږی.

**اووه دیر شمه ماده:**

هغه څوك چې د ځنگلونوله طبیعی ونو څخه

۲ـ شخصیکه چکش های مخصوص را خلاف پلان مرتبه و به صورت غیر فنی استعمال نماید.

۳ـ شخصیکه چکش جعلی را استعمال نماید .

**مادهٔ سی و چهارم:**

صدورچوب جنگلات جواز ندارد ، مرتکب مطابق احکام قانون انسداد قاچاق مورد تعقیب عدلی قرار داده میشود.

**مادهٔ سی و پنجم:**

شخصیکه برجهای ترصد ، تأسیسات سرکها و سائر تسهیلات را قصداً تخریب نماید،طبق احکام شرعی مجازات میگردد.

**مادهٔ سی و ششم:**

شخصیکه جنگلات را به حیث پناهگاه غیر مجاز یا دهشت افگنی انتخاب نماید ، طبق احکام شرعی ، مورد تعقیب عدلی قرار میگیرد.

**مادهٔ سی و هفتم:**

شخصیکه از درختان طبیعی جنگلات

د سکرو د برا برولو په مقصد کار وا خـلي له شرعي حکمونوسره سم سزا ور کول کيږي.

**اته دير شمه ما ده:**

هـغه څوك چي د ځنګلونو د حاصلا تـو د راټولولو په بدل کي د محصول له ورکـولو څخه ډډه وکړي ، دشر عي حکمونو له مخي سزا ور کول کيږي.

**نهه دير شمه ما ده :**

هغه کســان يا مرا جع چـي ددي قا نون د يوو يشتمي ما دي ددوه يمي فقري د حکم پر خلا ف په سيا حت ،فلم اخيستنه، عکاسي اويادنبا تي اوحيوا ني محصولاتو په را ټو لو لو لاس پوري کړي ، له شر عي حکمونو سـره سم سزا ور کول کيږي.

**څلو يښتمه ما ده :**

هغه څوك چي ددي قا نون په نهمه ما ده کي د درج شوي ، برا بر شوي پلا ن پـر خلاف له ځنګلونو څخه ګټه وا خـلي، د شـر عـي حکمو نو له مخي سزا ور کول کيږي.

**يو څلو يښتمه ما ده :**

که چيري د هغوونو پر ځاي چـي د ګټي اخيستني وړوي او د فني اشخا صو له خوا په

جـهت تهـيهٔ ذغـال استفاده نما يـد طبق احکام شر عي مجـازات ميـگردد.

**ما دهٔ سي و هشتم :**

شخصيـکه از پر دا خت محصول در برابر جمع آوري حاصلا ت جنگلات،تخلف ورزد طبـق احـکام شر عي مـجا زات مـيـگر دد.

**ما دهٔ سي و نهم:**

اشخـاص يا مرا جعيـکه مخا لـف حـکم فقرهٔ (۲) ما دهٔ بيسـت و يکم اين قا نون به سيا حت،فلمبر داري ، عکا سـي و يا جمع آوري محصولات نباتي وحيـواني بپردازد ، طبـق احـکام شرعي مجازات ميگردد .

**مادهٔ چهلم :**

شخصيکه خـلاف پلان مرتبـه مندرج مادهٔ نهم اين قانون از جنگلات بهره بـرداري نمايد، طبق احکام شرعي مجـازات مـيـگردد .

**مادهٔ چهل ويکم :**

هرگاه عوض اشجاريکه غرض بهره بـرداري مساعد بوده وذريعهٔ اشخاص فني نشاني شده

نبنه شوی وی ، نوری ونی غوڅی کړی شی غوڅوونکی سړی ته له شرعی حکمونو سره سم سزا ور کول کیږی.

## شپږم فصل

## وروستنی حکمونه

**دوه څلویښتمه ماده :**

(۱) د ځنګلونو فنی مؤظفین اوساتونکی دفنی اومسلکی فعالیتونو په ترسره کولو مکلف دی .

(۲) دځنګلونو دفنی مؤظفینواوساتونکو درتبو دټاکنی اودمخصوصو جامو(یونیفورم) څرنګوالی دجلا مقرری په واسطه تنظیمیږی.

**دری څلویښتمه ماده :**

(۱) په دائمی یا مؤقت ډول له ځنګلونواو یا د هغو له قروغ ځخه دګټی اخیستنی په هکله د تصمیم نیول د کرنی او مالداری وزارت واك دی .

(۲) د کرنی او مالداری وزارت اړوند مسؤلین مکلف دی چی ددی مادی په لومړی فقره کی ددرج شوی موضوع په هکله په ممکنو وسائلوسره ټولوته خبرورکړی .

باشد ، اشجار دیگر قطع گردد شخص قطع کننده طبق احکام شرعی مجازات میگردد .

## فصل ششم

## احکام نهائی

**مادۀ چهل ودوم :**

(۱) مؤظفین فنی وحفاظوی جنگلات مکلف به اجرای فعالیت های فنی ومسلکی میباشند .

(۲)چگونگی تعیین رتب ولباس مخصوص (یونیفورم) مؤظفین فنی وحفاظوی جنگلات توسط مقررۀ جداگانه تنظیم میگردد .

**مادۀ چهل و سوم :**

(۱) اتخاذ تصمیم در مورد بهره برداری از جنگلات یا قروغ (منع) آن ، به صورت دائمی یا مؤقتی از صلاحیت وزارت زراعت ومالداری میباشد .

(۲) مسؤلین مربوط وزارت زراعت ومالداری مکلف میباشند موضوع مندرج فقرۀ (۱) این ماده را با وسائل ممکنه به اطلاع عامه برسانند .

خلور خلویښتمه ماده :

دځنګلونو له قــــروغ شویو څړځایونو څخه څارویو ته د وښو دبرابرولو څرنګوالـــــی د جلا مقررې په واسطه تنظیمیږي .

پنځه خلویښتمه ماده :

دغه قانون د توشیح له نیټـې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي .

مادۀ چهل و چهارم :

تعلیف حیوانات ازعلــفچر قــروغ (منــع ) شدۀ جنگلات توسط مقررۀ جداگانه تنظیــم میـــــــــــــگردد .

مادۀ چهل و پنجم :

این قانون از تاریخ توشیح نافـــذ بوده و در جریدۀ رسمی نشر گردد .

# رسمي جريده

دکرنې اومالدارۍ وزارت د اړوندو
تقنيني سندونو د انفاذ په هکله
دافغانستان اسلامي امارت دمقام
فرمان

ګڼه :(۳۵)

نېټه :۱۴۲۱/۹/۳

لومړۍ ماده :

دافغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء د تائيد پر اساس ، دکرنې او مالدارۍ وزارت لاندې ذکر شوي تقنيني سندونه توشېح کوم :

۱-دافغانستان اسلامي امارت دځمکوالۍ (زمينداري) دچارو د تنيظم قانون .

۲- دطبيعت د ساتنې قانون .

۳- د نباتي قرانطين د خدمتونو قانون .

۴-دحيواني طب(وترنرۍ)خدمتونوقانون.

۵- دښکاراودڅویو (وحش) دژوندانه د پايښت قانون.

۶- دخړ ځای قانون .

۷- دکرنې اومالدارۍ وزارت د اجراآتو او فعاليتونود تنظيم مقرره .

۸- دنباتي قرانطين دخدمتونو مقرره .

فرمان

مقام امارت اسلامئ افغانستان درمورد
انفاذ اسناد تقنينی مربوط وزارت
زراعت ومالداری

شماره : (۳۵)

تاريخ :۱۴۲۱/۹/۳

مادهٔ اول :

به اساس تائيد رئيس الوزراء امارت اسلامی افغانستان،اسناد تقنينی ذيل الذکر وزارت زراعت ومالداری را توشيح ميدارم :

۱ - قانون تنظيم امور زمينداری امارت اسلامی افغانستان .

۲- قانون حفاظت طبيعت .

۳- قانون خدمات قرانطين نباتی .

۴- قانون خدمات طب حيوانی (وترنری) .

۵- قانون شکار و ابقای حيات وحش .

۶- قانون علفچر .

۷- مقررهٔ تنظيم اجراآت وفعاليت های وزارت زراعت ومالداری .

۸- مقررهٔ خدمات قرانطين نباتی .

# رسمي جريده

۹- دنباتي ناروغيو او آفتونوضد درملــو (پستي سايدونو )دواردولـــو ،وېش او استعمال مقرره .

۱۰- دکرنې اومالدارۍ وزارت دکرنيزو (زراعتي)کوپراتيفونوداداري مقرره .

۱۱- دکرنـــيزوڅېړنو د موسســـې (انستيتوت)اودهغې دعلمي کادرمقرره.

۱۲- دکرنې او مالدارۍ وزارت دفنـــي (ميکـــانيزه )مرکزونــو(استيشـــنونو) دتراکتور کارانو اوکمباين کـــارانودمزد دورکولودڅرنګوالي مقرره .

۱۳- دکيميـــاوي ســـرې اودکرنـــيزو خدمتونو دتصدۍ اساسنامه .

۱۴- دکرنې داصلاح شويو تخمونو د تصدۍ اساسنامه .

**دوه يمه ماده :**

ددې فرمان په لومړۍ ماده کې درج شوي تقنيني سندونه،دتوشېح له نېټې څخـــه نافذاوپه رسمي جريده کې دې خپاره شي.

والسلام

داسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد)

۹- مقرره توريد ، توزيع واستعمال ادويهٔ ضـــــد آفـــــات و امــــراض نباتي (پستي سايد ها ) .

۱۰ مقررهٔ ادارهٔ کـــوپراتيـــف هـــاى زراعتى وزارت زراعت ومالدارى .

۱۱ مقررهٔ موسســـــهٔ (انســـتيتوت ) تحقيقات زراعتى وکادر علمى آن.

۱۲- مقـــررهٔ طـــرز پرداخـــت مـــزد تراکتور کـــاران و کمبـــاين کـــاران مراکز (استيشن هاى)فنى ( ميکـــانيزه ) زراعتى وزارت زراعت ومالدارى .

۱۳- اساسنامه تصدى کودکيميـــاوى و خدمات زراعتى .

۱۴- اساسنامه تصـــدى تخـــم هـــاى اصلاح شدهٔ بذرى .

مادهٔ دوم :

اســـناد تقنينـــى منـــدرج مـــادهٔ اول اين فرمان از تـــاريخ توشيـــح نـــافذ ودر جريدهٔ رسمى نشر گردد.

والسلام

خادم اسلام

اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد)

بسم الله الرحمن الرحيم

# دافغانستان اسلامي امارت

# دځمکوالی(زمینداری)

# دچاروتنظیم قانون .

## دافغانستان اسلامي امارت دځمکوالۍ (زمینداری) دچارو دتنظیم قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

لومړۍ ماده:

دغه قانون داسلامي شریعت دحکمونو په رڼاکې ددغو لاندې موخو (هدفونو) دتأمینولو په مقصد وضع شوی دی:

۱-په ښه توگه په هېواد کې دځمکوالۍ (زمنیدارۍ) دچارو تنظیمول.

۲-په تېرو نظامونو (رژیمونو) کې دځمکو داصلاحاتو دعملي کولو له امله دپیداشویو ستونزو لرې کول.

۳-داملاکي دفترونو او په هغو پورې داړوندو سندونو تنظیمول.

۴-دځمکو ثبتول.

۵-دامارت په راتلونکو اقتصادي اوپرمختیائي پلانونو کې داستفادې په مقصد داړمنو املاکي شمېرنو او احصائیو راټولول.

۶- داشخاصو،امارت،موات،مرعٰی اووقفي ملکیتونو بېلول.

## قانون تنظیم امور زمینداری امارت اسلامی افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

مادهٔ اول:

این قانون درروشنی احکام شریعت اسلامی به منظور تأمین اهداف ذیل وضع گردیده است:

۱-تنظیم بهتر امور زمینداری درکشور.

۲-رفع مشکلات ناشی ازتطبیق اصلاحات اراضی در نظام (رژیم )های گذشته .

۳-تنظیم دفاتر املاکی واسناد مربوط به آن.

۴-ثبت اراضی.

۵-جمع آوری ارقام واحصائیه های موثق املاکی ،به منظور استفاده ازآن در پلان های اقتصادی وانکشافی آیندهٔ امارت.

۶- تفکیک ملکیت اشخاص ، امارت،موات،مرعیٰ ووقفی .

۷-دامارتي اومواتي ځمکو وېشل.
۸-د(۱۳۵۷)هجري لمریز کال د غوايې دمیاشتې له اوومې نېټې وروسته دغیرشرعي اوغیرقانوني وېشل شویو ځمکو اعاده کول.
۹-په هېوادکې دځمکوالې دواحد ډاډمن نظم جوړول.

دوه یمه ماده :
په دې قانون کې لاندې اصطلاح ګانې لاندېنې مفهومونه افاده کوي:
۱-دځمکې خاوند:هغه شخص دی چې دشرعي اوقانوني سندونوله مخې په خپلې ځمکې باندې مالکانه واک ولري دځمکې خاوند پېژندل کېږي.
۲-ورثه :هغه اشخاص دي چې دوراثت له حصر وروسته دارونده شرعي محکمې له خوادمتوفئ دموروثي مال مستحق وپېژندل شي.
۳-کورنۍ :مېړه ،مېرمن اوهغه اولاد دی چې واده ئې نه وي کړې.
۴-ناقل :هغه شخص دی چې امارت،داصلي استوګنې له ځای پرته په

۷-توزیع زمین های امارتی وموات.
۸-اعادهٔ زمین توزیع شده غیرشرعی وغیرقانونی بعد از هفت ثور (۱۳۵۷هـ .ش).
۹-ایجاد نظم واحد با اعتبار زمینداری درکشور.

مادهٔ دوم :
اصطلاحات آتي دراین قانون دارای مفاهیم ذیل است :
۱-مالک زمین :شخصیکه برزمین خود به اساس اسناد شرعي و قانوني تصرف مالکانه داشته باشد ،مالک زمین شناخته می شود .
۲-ورثه: اشخاصیکه بعد از حصر وراثت ، تو سط محکمهٔ شرعي مربوط مستحق مال موروثي متوفیٰ شناخته شوند.
۳-خانوار :شوهر، زن واولاد یکه ازدواج نکرده باشد .
۴-ناقل: شخصیکه امارت درمحل دیگر غیر محل سکونت اصلي ،برای وی زمین

بل ځای کې ځمکه ورته ورکړې وي.

۵-قانوني وکیل : هغه شخص دی چې دځمکې دخاوند ، ورثې یا شریکانو له خواد شرعي وثیقې په اساس دوکیل په توګه ټاکل شوی وي .

۶-کرنیزه ځمکه :دځمکې هغه ساحه ده چې د قانون له حکمونو سره سم تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې ونیول شي.

۷-دخصوصي ځمکو ساحه :داشخاصو شرکتونو او دغیر امارتي حقوقي شخصیتونو دځمکې ټوټه یا ټوټې دي چې په یوه ځای او یا په څو ځایونو کې واقع وي.

۸-دامارتي ځمکو ساحه :

۱-دباغي ،آبي اوللمي ځمکوټوټه یا ټوټې او هغه غونډۍ ،چمني ځمکې ،جبه زارې ځمکې ،ځنګلونه ، څړ ځایونه ،کړکې

توزیع نموده باشد.

۵-وکیل قانونی :شخصیت که ازطرف مالک زمین ،ورثه یا شرکاءبه اساس وثیقهٔ شرعي به حیث وکیل تعیین ومقرر شده باشد.

۶-زمین زراعتي :ساحهٔ زمینی که مطابق احکام این قانون تحت بهره برداري زراعتي قرار گرفته بتواند.

۷-ساحهٔ زمینهای خصوصی :قطعه یاقطعات زمین اشخاص ،شرکت ها وشخصیت های حقوقی غیر امارتي که در یک یا چند محل واقع شده باشد.

۸-ساحهٔ زمین های امارتي :

۱-قطعه یا قطعات زمین باغي ،آبي ، للمي ، تپه ها ،چمني،جبه زار جنګل زار ،علفچر ،نی زار وسائر

لرونکې(نیزارې) ځمکې اوهغه نورې ځمکې دي چې دامارت دځمکو داساس په دفتر کې ثبت شوې وې .

۲-هغه ځمکې دي چې عامه ملکیت بلل کېږي.مګردامارت دځمکې داساس په دفترکې ثبت نه وي.

۳-هغه ځمکې دیَ چې دتصفیې په ترڅ کې شرعاًداشخاصو ملکیت وربانديې ثابت نه شي.

۹-دمرعیٰ(چراګاه.مالچر.متروکه)ځمکو ساحه:

۱-مرعیٰ هغه ناآباده ځمکه ده چې شرعاً دامارت یاشخص ملکیت پرثابت نه وي.

۲-دکلي یاښاردپاي دکورسره چې یوجهوري الصوت(لوړآوازه)شخص پرلوړ ځای ودریږي او په زوره ناره وکړي ترهغه ځایه چې ددغه لوړ آوازه شخص آوازورسیږي،داځمکه مرعیٰ ګڼل کېږي .

۱۰-دوقفي ځمکو ساحه :

وقف،حبس(بندیدل)دعین دي په ملک دالله تعالیٰ(ج) کې چې دواقف له ملکیت څخه وځي او دموقوف علیه په ملکیت کې نه داخلېږي .

زمین ها ئیکه درد فتر اساس اراضي امارت ثبت بوده باشد.

۲-زمین هائیکه ملکیت عامه محسوب گردیده .ولی دردفتر اساس اراضی امارت ثبت نباشد.

۳-زمین هانیکه درجریان تصفیه شرعاً ملکیت اشخاص با لای آن ثابت نشود.

۹-ساحۀ زمین مرعیٰ (چراگاه.مالچر.متروکه):

۱-مرعیٰ آن زمین های بائریست که شرعاً ملکیت امارت یاشخص برآن ثابت گردد.

۲-هرگاه درخانۀ آخرقریه یاشهر.یک شخص جهوری الصوت(بلند آواز)استاده گرددوبه آوازبلندصدانمایدتاهرجائیکه صداي این شخص بلند آواز برسد،این زمین مرعیٰ شمرده میشود .

۱۰-ساحه زمین هاي وقفی :

وقف،حبس(بندشدن)عین است درملک الله تعالیٰ(ج)که ازملکیت واقف خارج ودرملکیت موقوف علیه داخل نه می گردد.

۱۱-بکره(موات)خمکه:هغه خمکه ده چې هېڅکله ترکرکښلې لاندې نه وي راغلې(دشخصي.امارتي .مرعئ اووقفي املاکوڅخه پرته ټول دښتونه.غرونه.غونډۍ (تپې).رودونه.ناآبادي ډبريني خمکې اوځنګلونه موات(وچ)املاک ګڼل کيږي).

۱۲- شاړه خمکه :هغه خمکه ده چې په عادي شرائطوکې په پر له پسې توګه .له پنځوکلونونه زيات کرنه پکې نه وي شوې اووروسته له اصلاح (جوړيدو)ياداوبولګولودنوي سيستم له منځته راتلوڅخه تر.کښت اوزراعت لاندې ونيول شي.

۱۳-ټوټه(قطعه)دهغې خمکې محدوده ده چې شاو خوا ئې عامه ياد اشخاصو او دحقوقي شخصيتونو ملکيت احاطه کړې وي ، باغي او تاکي خمکه که څه هم دهماغې محدودې يوه برخه وي ، جلا ټوټه بلل کېږي .

۱۴-کوچنی ټوټه:هغه خمکه ده چې

۱۱-زمین بکر(موات):زمینیکه اصلا تحت زرع قرار نگرفته باشد(بدون املاک شخصي.امارتی.مرعی ووقفي تمام دشتها.کوه ها تپه ها.دریاها. زمین های بانرسنگزار وجنگل هااملاک موات (خشک) شمرده میشوند).

۱۲- زمین بائر:زمینیکه بیش از پنج سال متواتر.درشرائط عادی تحت زرع قرار نگرفته وبعد از اصلاح یااحداث سیستم جدید آبیاري . تحت کشت وزراعت قرار گرفته بتواند.

۱۳-قطعه:محدوهٔ زمینی است که اطراف آنرا ملکیت عامه یا اشخاص ویا شخصیت های حقوقي احاطه کرده باشد،زمین باغي وتا کي گرچه جز همان محدوده با شد.قطعهٔ علیحده شمرده می شود.

۱۴-قطعهٔ کوچک : زمینیکه مساحت آن

مساحت ئې له يوه هکتار(پنځوجريبو)نه کم وي.

۱۵-اضافه جريبي ځمکه :دهغه شخص دنيول شوي ځمکو الي(زمیندار ی) دساحې يوه برخه ده چې د په حکم وړسند کې دليکل شوې ځمکې له اندازې نه زياته تثبيت شي.

۱۶-دحکم وړسند:هغه سند دی چې دخاوند د ځمکې مشخصات په کې ليکل شوي وي او د دې قانون له حکمونوسره سم دحکم وړوبلل شي.

۱۷-مستحق : هغه شخص دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم ځمکه ور باندې ويشل کېږي .

۱۸-دځمکې بدلون اوتحو لات : دځمکې ددرجې،مساحت،حدودواو حق آبي (داوبودحق) بدلون دی .

۱۹-هيئت:دځمکوالی دچارودتصفيې اوتنظيم هئت.

۲۰-اظهارليک(اظهارنامه):هغه چاپي پاڼه ده چې له ۱۳۵۷هجري لمريز کال نه مخکې داشخاصو دځمکوالی دساحې دتوتې ياټوټو دکميت اوکيفيت دثبتولو اودمالیې دتثبیتولوپه مقصدوېشل شوې ده اويادااسلامي تحريک له بريالیتوب وروسته وېشل کېږی.داظهارليک جدول (فورمه) د ملکيت سند نه شي بلل کيدای اويوازې‌دامارتي جائزه عوائدو(ماليې)لپاره کارول کېږي .

۲۱-بي ځمکې بزگر:هغه شخص دی چې خپله ځمکه نه لري اود بل شخص د ځمکې

کمتر از یک هکتا ر (پنج جريب ) باشد.

۱۵-زمين اضافه جريبي : قسمتی از ساحهٔ زمينداري متصرفهٔ شخصی که اضافه از اندازهٔ زمين مندرج در سند مدار حکم وی تثبيت گردد.

۱۶-سند مدارحکم : سندی که درآن مشخصات زمين مالک ثبت بوده وبه ا ساس احکام اين قانون مدار حکم ، شنا خته مي شود.

۱۷-مستحق : شخصيکه مطابق حکام این قانون ، زمين برايش تو زيع می گردد.

۱۸-تغييروتحولات زمين: تغيير درجه ،مساحت ،حدودو حق آبهٔ زمين.

۱۹-هیٔت:هیٔت تصفيه وتنظيم امور زمينداري.

۲۰-اظهارنامه :ورق مطبوعی که قبل از سال (۱۳۵۷)به منظور ثبت کميت وکيفيت قطعه ياقطعات ساحهٔ زمينداري اشخاص وتثبيت ماليه توزيع گرديده است ويا بعد از پيروزي تحريک اسلامي توزيع ميگردد.جدول(فورمه) اظهار نامه سند ملکيت شمرده شده نميتواند وصرف جهت جمع آوري عوائد جائزهٔ امارتی(ماليه)از آن استفاده ميشود .

۲۱-دهقان بی زمين :شخصيکه از خود زمين نداشته وبه کشت وکارزمين

په کر کېله لاس پورې کوي .

۲۲-لږ ځمکې بزګر :هغه شخص دی چې له پنځو جريبو نه دکمې لومړی درجه ځمکې يا دهغې دمعادل خاوند وي اودکرکيلې په کار بوخت وي .

۲۳-دکرنې اجير:هغه شخص دی چې خپله ځمکه نه لري او دنقدي يا جنسي اجورې په بدل کې دکرنې کارونه تر سره کوي .

۲۴-بې وزلی کوچی :هغه کوچی دی چې دنورو له مزدوری يا شپنې پرته بل عائد ونه لري .

۲۵-دخصوصي ځمکو دثبت داساس دفتر: هغه دفتر دی چې ددې قانو ن دحکم وړ سند ونو له مخې دغير امارتي ،اشخاصو شرکتو نو او دحقوقي شخصيتونو دځمکو الی ((زمينداری ))دساحې دټوټې يا ټوټو کمي اوکيفي مشخصات لېږد ونې او بدلونونه پکې ليکل شوي وي .

۲۶-دامارت دځمکو دثبتولو داساس دفتر:هغه دفتر دی چې امارتي

شخص ديگری می پردازد. -

۲۲-دهقان کم زمين :شخصيکه مالک کمتر از پنج جريب زمين در جه اول يا معادل آن بوده وبه کار زراعتي مشغول باشد .

۲۳-اجير زراعتي :شخصيکه ازخود زمين نداشته وکارهای زراعتي رادر مقابل مزد نقد يا جنس معين انجام می دهد.

۲۴-کوچي بي بضاعت: کو چي ايکه جُزاز مزد وري يا چوپاني ديگران منبع عائد ديگری نداشته باشد.

۲۵-دفتراساس ثبت اراضي خصوصي: دفتری که مشخصات کمي وکيفي انتقالات وتحولات قطعه يا قطعات ساحهٔ زمينداري غير امارتي اشخاص،شرکت ها وشخصيت های حقوقی برويت اسناد مدار حکم اين قانون در آن ثبت باشد.

۲۶-دفتر اساس ثبت اراضي امارت : دفتريست که در آن اراضي امارتي با

خمکې دهغوپه کمي اوکيفي مشخصاتو سره پکې ليکل شوي وي.

دريمه ماده :

په هېواد کې دځمکوالۍ دچارو تنظيمول دکرنې اومالدارۍ وزارت دځمکوالۍ دچارو دمعينيت په غاړه دي.

## دوه يم فصل

## دځمکې دملکيت د حکم وړ سندونه

څلورمه ماده :

دځمکې دملکيت دحکم وړ سندونه په لاندې ډول دي.

۱- د ځمکې دپېرودنې ، تمليک ، هبې تره کې، ويش اوتبادلې په هکله دمحکمې شرعي سند ،ابراء خط،اصلاح خط اوهغه قطعي فيصله چې داملاکي سندونو پراساس صادرشوي دي اولاندې شرطونه لري:

الف:دقضاپه ديوان کي دمحفوظ ثبت لرل .دقضا په ديوان کې له محفوظ ثبت پرته شرعي وثيقه دواکمنې محکمې په تائيددحکم وړکيداى شي.

ب:دحکم وړ شـرعي سندياد حکم وړفرمان چې باطلوونکي ئې موجود نه وي.

مشخصات کمي و کيفي آن ثبت باشد .

مادهٔ سوم :

تنظيم امور زميندارى در کشور به عهده معينيت امور زميندارى وزارت زراعت ومالدارى مى باشد.

## فصل دوم

## اسنادمدارحکم ملکيت زمين

مادهٔ چهارم:

اسنادمدارحکم ملکيت زمين عبارت اند از:

۱-سندشرعي محکمه مبني بر خريد،تمليک،هبه،ترکه،تقسيم ، تبادله زمين،ابراءخط،اصلاح خط وسند فيصله قطعي که مستندبر اسناد املاکي صادر گرديده وحاوى شرائط ذيل مى باشد:

الف:داشتن ثبت محفوظ به ديوان قضاء. وثيقهٔ شرعى بدون ثبت محفوظ به ديوان قضاءباتائيدمحکمهٔ ذيصلاح مدار حکم شده ميتواند.

ب:سند شرعى مدار حکم يافرمان مدار حکم که مبطل آن موجودنباشد.

ج:په شرعي وثيقه کې ليکل شوې ځمکه که چېرې دماليې تابع وي،دماليې په دفتر کې قيده وي.

۲-دامارت (دولت)فرمان دوزيرانوشورئ(صدارت)فرمان اودامارت له ملکيت نه دځمکې دپېرودنې سند چې دغه لاندې شرطونه ولري :

الف :له واکمني اداري څخه صادريدل .

ب:شرعي سند اودحکم وړنورهغه سندونه چې باطلوونکی ئې موجود نه وي .

ج:په هغه صورت کې چې ځمکه دمالېې تابع وي،دماليې په دفتر کې قيد وي.

۳-دماليې ورکولو هغه سند چې دغه لاندې شرطونه ولري :

الف:شرعي سند يادحکم وړهغه فرمان چې باطلوونکی ئې موجودنه وي.

ب:داملاکواوماليې داساس په دفترکې دثبت لرل.

۴-دحقآبې (داوبودحق) هغه سند چې دغه لاندې شرطونه ولري :

الف:دهغه دباطلوونکي ،نشتوالی.

ب:داملاکو اودماليې داساس په دفترکې

ج :زمين داخل وثيقهٔ شرعي اگر تابع ماليه امارتي بوده به دفترماليه قيد باشد.

۲-فرمان امارت (دولت)فرمان شوراى وزيران (صدارت ) وسند خريد زمين از ملکيت امارت که شرائط ذيل را دارا باشد:

الف:صدور ازادارهٔ باصلاحيت .

ب:سند شرعي وديگر اسناد مدار حکم که مبطل آن موجود نباشد.

ج:درصورتيکه زمين تابع ماليه بوده به دفتر ماليه قيد باشد.

۳-سند ماليه دهي که شرائط ذيل را داشته باشد:

الف:سند شرعي يا فرمان مدار حکم که مبطل آن موجود نباشد.

ب:داشتن ثبت به دفتر اساس املاک وماليه.

۴-سند حقابه که حائز شرائط ذيل مى باشد:

الف : عدم موجود يت مبطل آن.

ب:به دفتر اساس املاک وماليه

ثبت وي .
۵-عرفي سندپه دغولاندې شرطونو سره دحکم وړدی:
الف:دځمکې پلورونکی د حکم وړسند ولري .
ب: عرفي سند چې د(۱۳۵۴)هجري لمريز کال دزمري (اسد) دمياشتې له پنځلسمې نېټې مخکې برابر شوی وي او پېرودونکي له (۱۳۵۷)هجري لمريز کال نه مخکې داظهارليک فورمه ډکه کړې وي او دهماغې ټوټې دپولي دشريکانو(پلوان شريکانو)له خوا له تصديق وروسته ئې اړوندې څانګې ته سپارلې وي .په هغو سيمو کې چې له ۱۳۵۷هجري لمريزکال نه مخکې اظهار ليک نه وي وېشل شوی اويا ويشل شوي وي خود ثبت دفتر ئې له منځه تللی وي، په داسې حال کې چې په ځمکې باندې ادعا نه وي شو ې او دځمکې پېرو-دنه اوپه هغې باندې دپيرودونکي واکمني دپولي دشريکانو او دهغې سيمې دخلکو له

ثبت با شد.
۵- سند عرفي تحت شرائط ذيل مدار حکم مي باشد :
الف: فروشندهٔ زمين جائز سند مدار حکم با شد.
ب :سند عرفي قبل از تاريخ ۱۵ اسد (۱۳۵۴)، ترتيب ومشتري قبل از سال ۱۳۵۷ فورمهٔ اظهار نامه را خانه پري وبعد از تصديق پلوان شريکان همان قطعه به شعبهٔ مربوطه تسليم داده باشد.در محلا تيکه قبل از سال (۱۳۵۷) توزيع اظهار نامه صورت نگرفته ويا صورت گرفته ، اما دفتر ثبت آن از بين رفته باشد درحالی که بالای زمين ادعا موجود نباشد وخريد زمين و تصرف خريدار بر آن از طرف پلوان شريکان واهالي محلی که زمين در آن موقعيت

خوا چې ځمکه پکې پرته ده تصدیق او دسیمې امارتې اداره ئې تائید کړي .

۶-دځمکې دملکیت رسمي سند چې دغه لاندې شرطونه ولري :

الف- دځمکې د حکم وړښتیز سند مو جود وي.

ب- سند دځمکې له قانوني تصفیې وروسته صادر شوی وي .

ج- سند داملاکو او دمالیې داساس په دفتر کې ثبت شوی وي.

د- په ځمکې باندې موُجه ادعا موجود ه نه وي .

۷-دځمکې د ملکیت سند (شرعي قباله) چې دغه لاندې شرطونه ولري :

الف : سند دځمکې له قانوني تصفیې وروسته داړوندې محکمې له لارې برا بر شوی وي.

ب : داملا کو او دمالیې داساس په دفتر کې ثبت وي .

پنځمه ماده:

دمالیې په دفتر کې ددې قانون په خلورمه ماده کې درج شوي حکم

دارد ، تصدیق شود وادارهٔ امارتي محل آنرا تا ئید نماید.

۶-سند رسمي ملکیت زمین که شرائط آتي را دارا باشد:

الف :سند بنیادي مدار حکم زمین مو جود با شد.

ب: سند بعد از تصفیهٔ قانوني زمین صادر شده باشد.

ج: سند درد فتر اساس املاک ومالیه ثبت با شد.

د : بالای زمین ادعای موُجه موجود نباشد.

۷- سند ملکیت زمین(قبالهٔ شرعي ) که شرائط ذیل را داشته باشد:

الف: سند بعد از تصفیهٔ قانوني زمین، از طریق محکمهٔ مربوط تر تیب شد ه باشد .

ب: در دفتر اساس املاک ومالیه ثبت با شد.

مادهٔ پنجم :

عدم ثبت اسناد مدار حکم مندرج مادهٔ چهارم این قانون به دفتر مالیه باعث

ورسندونو نه ثبتيدل دسند د باطليدو باعث نه کېږي دڅلورمې مادې په دريم جزء کې درج شوی سند لدې حکم څخه مستثنیٰ دی .

شپږمه ماده:

په دې قانون کې ددرج شوې ځمکې دحکم وړ سندونه دځمکې له تصفيې وروسته د تصفيې دهيئت له خوا اړوندې محکمې ته سپارل کېږي او دمحکمې له لارې په شرعي سند بدلېږي.

اوومه ماده:

هغه شخص چې په څو ځايونو کې ځمکه ولري داړوندو سيمونه داطلاعاتي فورموله بشپړولو او دځمکوالۍ دساحې له تصفيه کولو وروسته دخپلې ځمکوالۍ دټولې ساحې شرعي سند دهغې سيمې دمحکمې له لارې تر لاسه کولی شي چې ځمکه پکې ولري او دا کار ورته آسان وي .

اتمه ماده:

ژرنده ،پايکو اودکرنې هغه نور غير منقول تأسيسات او تجهيزات

ابطال سند نمی شود. سند مندرج جزء (۳) مادهٔ چهارم از اين حکم مستثنیٰ مي باشد.

مادهٔ ششم :

اسناد مدار حکم زمين مندرج اين قانون بعد از تصفيهٔ زمين تو سط هيئت تصفيه به محکمهٔ مربو ط ارجاع واز طريق محکمه به سند شرعي تعويض می گردد.

مادهٔ هفتم:

شخصيکه در چند محل زمين داشته باشد بعد از تکميل فورمهٔ اطلاعاتي از محلات مربو ط وتصفيهٔ ساحهٔ زمينداری ، سند شرعي تمام ساحهٔ زمينداري خو د را توسط محکمهٔ محلی که درآن زمين داشته وبرايش سهل تر باشد ، بدست آورده مي تواند.

مادهٔ هشتم :

آسياب ،پا يکوب و سائر تأسيسات وتجهيزات غير منقول زراعتي که درساحهٔ زمينداري شخص

چې دشخص دخمکوالی په ساحه کې واقع دي او دده ملکیت وپیژندل شي،دشخص په شرعي سند کې درج اودخمکې اومالیې دثبتولوداساس په دفتر کې ثبتیږي .

نهمه ماده:

(۱)- هغه خمکه وال چې د حکم ورسندونلري اودهغه متصرفه خمکه دامارتي املاکوپه دفترکې ثبت نه وي اونورو اشخاصو په هغې کې دملکیت ادعانه وي کړې.دکرنیز کارښې یکې ولیدل شي.بلوان شریکان اودکرنې اواوبولګولوادارې اودمحل داداري مرکزدهغه تصرف تائیدکړي،نوموړې خمکه دمالکانه تصرف پراساس د شخص ملکیت شمېرل کیږي.

(۲)- په هغه صورت کې چې امارت ددې مادې په لومړې فقره کې ددرج شوي شخص دتصرفاتوباطلوونکي سند ونه وړاندې کړي اودغه ادعاءدزماني ترتېریدو(مرورزمان)لاندې نه وي راغلې اوخمکه دامارت ملکیت وپیژندل شي .پدې حالت کې لاندې اجرآآت په پام کې نیول کیږي:

قرار داشته وملکیت وی شناخته شود.درسندشرعی شخص درج وبدفتراساس ثبت زمین و مالیه ثبت میگردد.

ماده نهم:

(۱)زمینداریکه سندمدارحکم نداشته وزمین متصرفه وی ثبت دفتر املاک امارتي نبوده واشخاص دیگر ادعای ملکیت درآن نکرده.علائم آبادی کارزراعتی مشاهده شود.بلوان شریکان وادارات زراعت وآبیاری ومرکزاداره محل تصرف اوراتائیدبدارند، زمین مذکور باساس تصرف مالکانه ملکیت شخص محسوب میگردد.

(۲)-درصورتیکه امارت اسنادمبطل تصرفات شخص مندرج فقره (۱)این ماده راارائه نمایدواین ادعاتحت مرورزمان نیامده باشد وزمین ملکیت امارت شناخته شود،دراین حالت اجرآآت ذیل رعایت میگردد:

په هغه صورت کې چې دتصرف شوی ځمکوالی ساحه دیوې کورنی (یوخانوار)تر لسوجریبولوړی درجه ځمکې یادهغې معادل وي، په وړیا توګه دځمکه وال په تصرف کې ورکول کېږي اودلوړی درجې معادل‌له لسوجریبوڅخه زیاته،دورځې په نرخ په پنځه کاله قسط پر ځمکه وال پلورل کېږي.

**لسمه ماده:**

دځمکوالی دهغې ساحې په هکله چې اضافه جریبي ولري،داضافه جریبي ځمکې په هکله ددې قانون دنهمې مادې له حکم سره سم اجراآت کېږي.

**یوولسمه ماده:**

هغه ناقلین چې ددې قانون له نافذېدومخکې ئې له حکومت نه ځمکه ترلاسه اوقبض کړې ده،ددغولاندې اجراآتو تابع دي :

۱-په هغه صورت کې چې ناقل یاورثې ئې دځمکې دثمن قسطونه ورکړي وي داړوندې ځمکې دملکیت سندورکول کېږي .

درصورتیکه ساحهٔ زمینداري متصرفهٔ یک خانوار ،الیٰ ده جریب زمین درجه اول یا معادل آن باشد طور رایگان به تصرف زمیندار گذاشته شده وبالاتر از ده جریب معادل درجه اول به نرخ روز بالای زمیندار به قسط پنج سال بفروش میرسد.

**مادهٔ دهم:**

درمورد ساحهٔ زمینداري که حائز اضافه جریبي باشد، درمورد زمین اضافه جریبي طبق حکم مادهٔ نهم این قانون اجراآت میگردد.

**مادهٔ یازدهم :**

ناقلینی که قبل ازانفاذ این قانون ازحکومت زمین دریافت وقبض نموده اند،تابع اجراآت ذیل میباشد:

۱-درصورتیکه ناقل یاورثه اش تمام اقساط ثمن زمین راپرداخته باشد سندملکیت زمین مربوط برایش داده میشود.

۲-په هغه صورت کې چې ناقل یا ورثې ئې دځمکې دثمن دقسطونویوه برخه ورکړې وي، پاتې قسطونه دناقل په خوښه(رضا)دورځې په نرخ تثبیت اودهغوله ورکولووروسته داړوندې ځمکې دملکیت سند ورکول کېږي.

۳-په هغه صورت کې چې ناقل یاورثې ئې دځمکې قسطونه نوي ورکړي،دځمکې بیه (قیمت)دورځې په نرخ تثبیتېږي اودبیې(قیمت)له ورکولووروسته داړوندې ځمکې دملکیت سندورکول کېږي.

۴-که چېرې ناقل یاورثه ئې دسختومحیطي شرائطوله امله دځمکې پرېښودلو(ترک کولو)ته اړشوی وي،دراتلوپه صورت کې که چېرې پرځمکه باندې امارتي تأسیسات نه وي جوړشوي،دپلوان شریکانواولړترلږه له خلکوڅخه دپنځو تنوبااعتباره داسې اشخاصوچې شریعت مقدس ئې شاهدي قبلوي اودسیمې داداري مرکزپه تصدیق کولای شي ،ځمکه بیاتر کټې اخیستنې لاندې ونیسي اودورځې په نرخ دټولوقسطونوله تحویلولووروسته د

۲-درصورتیکه ناقل یا ورثه اش اقساط ثمن زمین را قسماً پرداخته باشدا قساط باقیمانده برضا ئیت ناقل به نرخ روز تثبیت وبعد از پرداخت آن سند ملکیت زمین مربوط برایش داده می شود.

۳-درصورتیکه ناقل یا ورثه آن اقساط زمین را نپرداخته باشد قیمت زمین برضائیت ناقل به نرخ روز تثبیت گردیده وبعد از پر داخت قیمت سند ملکیت زمین مربوط برایش داده می شود .

۴-هرگاه ناقل یا ورثهٔ اوبنا بر شرائط دشوار محیطي مجبور به متروک گذاشتن زمین شده باشد، درصورت مراجعه در حالیکه بالاي زمین تأسیسات امارتي ایجاد نشده باشد بتصدیق پلوان شریکان واقلاً پنج نفر اشخاص بااعتبار مردم که شریعت مقدس شاهدي آنراقبول نموده ومرکز اداري محل مي تواند زمین را دوباره مورد بهره بر داري قرار داده،وبعد از تحویلي کلیه اقساط قیمت زمین برضائیت ناقل به نرخ روز سند

ملکیت شرعي سند واخلي .

که چیرې دناقل پر پر ېښودل شـــوې (متروکې ) ځمکې باندې قسماً امـــارتي تأسیسات جوړ شوي وي ، پاتې ځمکـــه ناقل ته سپارل کیږي اود ځمکـــې هغـــه برخه چې پر هغې باندې تأسیسات جـوړ شوي دي ، په هغه صورت کـــې چـــې دځمکې ټول قسطونه ئې ورکـــړي وي د امار ت له لورې استملاک کیږي.

په هغه صورت کې چې دناقل پـــر ټولــه پر ېښودل شوې (مـــتروکې ) ځمکـــې بـــاندې تأسیســـات جـوړ شـــوي وي اودځمکې دټمن ټول قســـطونه تحویـــل شوي وي، پدې صورت کې هم نوموړې ځمکه استملا ک کیږ ي .

دوولسمه ماده:

په هغو مستحقو کسانو باندې چـــې ددې قانون له حکمونو سره سم ځمکه وېشـــل کیږي،که چیرې ئې دځمکې ټوله بیه نـــه وي ورکړې ، دتصفیې دهیئـــت لخـــوا یوازې دځمکې د وېش او تصرف ســـند ورکـــــول کـــــیږي

شـــرعي ملکیـــت اخـــــذ نمـــاید.

هرگا ه بالای زمین متروک ناقل قســـماً تأسیسات امارتي ایجاد شده باشد، زمـــین باقیماند ه برای نـــاقل ســـپرده میشـــود واندازهٔ زمینیکه با لای آن تأ سیســـا ت ایجاد شده در صورتیکه کلیـــه اقســـاط قیمت زمین را تحویل نمـــوده باشـــداز طـــــــرف امـــــــارت اســـــتملا ک میـــــــگردد.

در صورتیکه از طرف امارت با لای زمین متروک نا قل کلاً تأسیسات احداث شده باشد وکلیه اقساط قیمت زمین از طـــرف ناقل تحویل شده باشد درین صورت هـــم زمـــــــین مذکـــــــــور استملا ک می گردد.

مادهٔ دوازدهم :

به مستحقینی که طبق احکام این قـــانون . زمین توزیع میگردد، درصورتیکه تمـــام قیمت زمین را نپر داخته باشد، از طـــرف هیٔت تصفیه صرف سند توزیـــع زمـــینِ وتصرف داده میشود .آنها هنوز مـــالک رقبهٔ زمین شناخته نمیشـــوند. بعـــد از

خو دوی لا تر هغه وخته پورې د ځمکې درقبې خاوندان نه پېژندل کېږي. دځمکې دټول ثمن له ورکولو وروسته عقد بشپړ او مستحق ته دسیمې دځمکوالی دچارو دتنظیم دادارې لـه خـو ا داړونـدې محکمې له لارې شرعي سند ورکـول کېږي .

دیارلسمه ماده:

که چېرې شرعي سندیا دځمکې دوېش سندله شخص نه ورک شي،مثل ئې ورتـه ورکول کېږي.

دریم فصل

دځمکې تصفیه

څوار لسمه ماده:

(۱)دکرنې اومالدارۍ وزارت دځمکوالی دچارو دتنظیم عمومي اداره له تخنیکـي اواداري پلوه دځمکوالی دچارو دتصفیـي او تنظیم عملیه رهبري کوي .

(۲)دافغانستان اسلامي امـارت سـتره محکمه،دمالیې ، اوبواوبرېښنا اودکرنـې او مالدارۍ وزارتونه دځمکې دڅېړنـې او نقشې‌اخیستنې عمومي ریاست اواړوندې

پرداخت تمام ثمن زمین،عقـد تمـام و توسـط ادارهٔ تنظیـم امورزمینـداري محـل، از طریـق محکمـهٔ مـر بوطـه بـرای مسـتحق سـند شـرعي داده میشود.

مادهٔ سیزدهم:

هرگاه سند شـرعي یاسـند توزیـع،از نزدشخص مفقودشود،مثل آن برایش داده میشود.

فصل سوم

تصفیهٔ زمین

مادهٔ چهاردهم:

(۱) ادارهٔ عمومی تنظیم امورزمینـداری وزارت زراعت ومالداری عملیهٔ تصفیـه وتنظیم امور زمینداری رااز‌لحاظ تخنیکـی واداری رهبری مینماید.

(۲) ستره محکمـهٔ امـارت اسـلامی افغانستان ،وزارتهای مالیـه،آب وبـرق زراعت ومالداری،ریاست عمومی مطالعه ونقشه برداری زمـین وادارات ذیربـط

سيمه ئيزې ادارې ددې مادې په لومړۍ فقره کې ددرج شوی حکم په عملې کولو کې ګډمسئوليت لري.

(۳) په ساحه کې عملي کاردتصفيې دهيئتونوله خواترسره کېږي.

پنځلسمه ماده:

دځمکې دتصفيې هيئت په لاندې ترکيب سره فعاليت کوي:

۱-دځمکوالۍ دچارودتنظيم دادارې استازې دآمرپه توګه .

۲-دځمکوالۍدچارودتنظيم دادارې څخه دځمکې دتصفيې اوادارې چارومسؤل دغړي په توګه .

۳-دسترې محکمې،ماليې اوداوبواوبرېښنا دوزارتونو دسيمې درواجولو دادارې او دځمکې دځېړنې او نقشې اخيستنې دعمومې ادارې دځمکې دنقشې او ثبت (دکد سترتيم) استازې دغړو په توګه.

شپاړسمه ماده :

دځمکې دتصفيې هيئت دغه لاندې واکونه او دندې لري:

۱- دځمکوالۍ دساحې تصفيه کول،دسند

محلي در تحقق حکم مند رج فقرهٔ(۱) اين ماده مسؤليت مشترک دارند.

(۳)کار عملي در ساحهٔ توسط هيئت های تصفيه انجام می يابد .

مادهٔ پانزدهم :

هيئت تصفيهٔ زمين به ترکيب ذيل فعاليت مينمايد:

۱-نمايندهٔ ادارهٔ تنظيم امورزمينداري به حيث آمر.

۲-مسؤلين تصفيهٔ زمين وامور اداري ازاداره تنظيم امور زمين داري به حيث عضو .

۳- نماينده ګان ستره محکمه، وزارت هاي ماليه ، آب وبرق، ادارهٔ ترويج محل وهيئت رياست نقشه وثبت زمين(تيم کد ستر) ادارهٔ عمومي مطالعه ونقشه برداري زمين به حيث اعضاء.

مادهٔ شانزدهم :

هيئت تصفيهٔ زمين ، دارای وظائف وصلاحيت های ذيل می باشد:

۱- تصفيهٔ ساحات زمينداري ، توزيع سند

وېش او مستحق ته دځمکې وېش.

۲ - دځمکې ددرجې دحدود واو داوبو د(حق آبه) تثبيتول .

۳-داشخاصو اودامارت دملکيتونو اود مرعىٰ،وقفي اومواتي ځمکوجلا کول.

۴- دځمکې له تصفيه کولو وروسته دشرعي سند دبرابرولو په مقصد اړوندې محکمې ته دسند ونو لېږل اودقانون له حکمونو سره سم واکمنو محکمو ته ددعوىٰ ګانو وړاندې کول.

۵-له تصفيې وروسته په اړوندو دفترونو کې دځمکوالۍدساحې او دشرعي سند ثبتول.

۶- داړوند ې سيمې داملا کې اساس په دفترونو اود امارتي جائزه عوائدو په دفتر(دماليې په دفتر) کې دثبتولو په مقصد دشرعي سند لېږل.

۷- خاوند ته دشرعي سند سپارل .

۸-خاوند ، قانوني ممثل يا دمتوفىٰ شرعي ورثې ته دپخوا وېشل شويو ځمکو د(۱۳۵۷هـ.ش کال دثورله (۷)نېټې څخه وروسته )دشريعت سره سم بېرته ورکول.

وتوزيع زمين به مستحق .

۲- تثبيت حدود ، درجه وحق آبهٔ زمين .

۳-تفکيک ملکيت اشخاص،امارت وزمين هاي مرعىٰ، وقفي وموات .

۴- ارسال اسناد بعد از تصفيهٔ زمين جهت ترتيب سند شرعي به محکمهٔ مربوطه و احالهٔ دعاوي طبق احکام قانون به محاکم ذيصلاح.

۵- ثبت ساحهٔ زمينداري وسند شرعي ،بعد از تصفيه وترتيب بد فاتر مر بوط.

۶- ارسال سند شرعي غرض ثبت بدفاتر اساس املا کي ودفتر عوائد جائزهٔ امارتي(دفترماليه) محل مربو ط .

۷- تسليمدهي سند شرعي به مالک .

۸- استرد اد زمين هاى قبلاً توزيع شده (بعد از ۷ ثور سال ۱۳۵۷هـ ش) مطا بق شريعت به مالک ، ممثل قانوني يا ورثهٔ شرعي متوفىٰ.

۹- داړوند ولا يت دځمکوالـــی دچـــارو دتنظيـــم اداري او اداري مرکـــز تـــه داجراآتو در پوټ لېږل.

اوولسمه ماده :

دځمکې دځېړني او نقشـــې اخيـــستنې دعمومي رياست، دځمکې دثبت او نقشې د ريا ست (کد ستر دټيم ) هئت ددغـــو لاندې دنـــدو پـــه تـــر ســـره کولـــو مکلف دی :

۱-دکدستر د نتيجو دثبت شويو نقشو او داحتمالي خاوندانو دلست په واک کـــې ورکولو په هکله دمعلوماتو وړاندې کول.

۲-دځمکـــې دټوټودمســـاحت تثبيتـــول اودکروکي (سکيچ)ترسيمول .

۳-دځمکې دټوټې دځلوروخواووتثبيتول.

۴-په جريب بـــاندې دځمکـــې دسيمه ايزمقياس تعديلول.

۵-دهغودندوترســـره کـــول چـــې پـــه اړونـــده نقشـــه کـــې دځمکـــې دمشـــخصاتودتثبيتولوپـــه مقصـــد دهغوترسره کولوته اړتيااحساس شي.

۹-ارســـال گزارش اجـــراآت بـــه ادارهٔ تنظيـــم امورزمينـــــداري ولايـــت مربوط ومرکزاداره.

مادهٔ هفدهم:

هئـــت رياســـت نقشـــه وثبـــت زمـــين (تيم کدستر)رياست عمومـــي مطالعـــه ونقشـــــه بـــــرداری زمـــين به اجـــرای وظـــائف ذيـــل مکلف ميباشد:

۱-ارائـــهٔ معلومـــات درمـــورد نقشـــه هـــای ثبـــت شـــده ،نتـــائج کدســـتر ولســـت مـــالکين احتمـــالی .

۲-تثبيت مســـاحت وترســـيم کروکـــی (سکيچ)قطعات زمين.

۳-تثبيـــت حدوداربعـــهٔ قطعـــهٔ زمـــين.

۴- تعديـــل مقيـــاس محلـــی زمين به جريب.

۵-ايفـــای وظائفيکـــه بـــه منظـــور تثبيـــت مشـــخصات زمين درنقشهٔ مربوطبه انجام آن ضرورت احساس شود.

اتلسمه ماده:

دکرنې،داوبو دتنظيم اودماليې استازي هريوپه وارسره دځمکې دټوټودرجې په تشخيص اوتثبيت اوداوبودحق اودجائزه عوائدو(ماليې)په ټاکنه مکلف دي.

نولسمه ماده :

خاوند يادهغه قانوني ممثل مکلف دی چې دځمکوالیداړوندې ساحې دتصفيه کولوپه مقصد په سيمه کې دتصفيې هيئت دکار تر پايه پورې له هغوی سره مرسته وکړي.

شلمه ماده:

په ښه توگه دساحوي چارودترسره کولواودځمکې دتصفيوي چارودتنظيم دعملي کولوله امله دپيداشويوعملي ستونزرودحل کولوپه مقصدپه ولايتونوکې په دې لاندې ترکيب سره هيئت (کميسيون)جوړيږي .

۱-والي درئيس په توگه.

۲-دکرنې داداري آمردمرستيال په توگه.

۳-مستوفي،داوبولگولوداداري آمر دځمکې دڅېړنې اونقشې اخيستنې

مادهٔ هجدهم :

نماينده گان زراعت ،تنظيم آب وماليه هرکدام بالنوبه مکلف به تشخيص وتثبيت درجه، تعيين حقابه وعوائدجائزه(ماليه) قطعات زمين ميباشند.

مادهٔ نُزدهم:

مالک ياممثل قانوني وی ،مکلف است غرض تصفيهٔ ساحهٔ زمينداری مربوط تاختم کار هيئت تصفيه درمحل با آنها همکاري نمايد.

مادهٔ بيستم:

بمنظور انجام بهتر امور ساحوي ،حل مشکلات عملي ناشي ازتحقق تنظيم امور تصفيوي زمين، هيئت (کميسيون)به ترکيب ذيل درولايات ايجادميگردد:

۱-والی بحث رئيس .

۲-آمرادارهٔ زراعت بحيث معاون.

۳-مستوفی ،آمرادارهٔ آبياری ،آمر ادارهٔ مطالعه ونقشه برداری زمين و

داداري آمراوامنیه قوماندان دغړوپه توګه.

۴-دځمکوالی دچارو دتنظیم آمر دمنشي اوغړي په توګه.

هیئت (کمیسیون)په میاشت کې یوځل اوداړتیا په صورت کې له یوه ځل نه زیاتې غونډې جوړوي.

**یوویشتمه ماده:**

په ښه توګه دهمکارۍ اودساحوي چاروډیرمخبیلوپه منظور دفني اواداري مرستې درسولواوپخپل وخت دستونزودلرې کولوپه مقصد په مرکزکې دځمکوالی دچارودتنظیم هیئت(کمیسیون)په لاندې ترکیب سره جوړېږي :

۱-دکرنې اومالداری‌وزیردرئیس په توګه.

۲-دځمکوالی دچارودتنظیم دعمومي

قوماندان امنیه بحیث اعضاء.

۴-آمر ادارۀ تنظیم امورزمینداری به حیث منشی وعضو.

هیئت (کمیسیون)درهرماه یکبارودر صورت ضرورت بیشتر از یکمرتبه جلسه رادائر مینماید.

**مادۀ بیست ویکم:**

به منظور همکاري بهتر ورسانیدن کمک فني واداری،غرض پیشبرد امور ساحوی ورفع مشکلات به موقع آن ، هیئت (کمیسیون) تنظیم امور زمینداری،به ترکیب ذیل درمرکزایجاد میگردد:

۱-وزیر زراعت ومالداری بحیث رئیس.

۲-معین ادارۀ عمومي تنظیم امور

اداري معين دمرستيال په توگه .
۳-دکرنې او مالدارۍ وزارت
درواجولورئيس ، داوبواو برېښناوزارت
داوبودتنظيم رئيس،دځمکې د نقشې
اخېستنې اوثبت (کدستر)رئيس او دماليې
وزارت دعوائدورئيس دغړوپه توگه .
دغه هيئت (کميسيون)دکال په
هرودريومياشتوکې يوځل اودارتيا په
صورت کې له هغه نه زياتې غونډې
جوړوي.

**دوه ويشتمه ماده:**

که چېرې دځمکې دتصفيې دعمليې په
بهير کې ثابته شي چې په سندکي دشاملې
ځمکې دټوټې ياټوټوحدود،مساحت
اودرجه دخاوندليا دهغه دقانوني قائم مقام
له څرگندونوسره اختلاف لري،موضوع
دتصفيې دهيئت لخوا په غورسره څېړل
کېږي اوپه دې باره کې تصميم نيول
کېږي.

**درويشتمه ماده:**

امارت دعامه گټودتأمينولوپه مقصد داړتيا
په صورت کې داستملاک دقانون

زمينداری،به حيث معاون.
۳-رئيس ترويج وزارت زراعت ومالداری
رئيس تنظيم آب وزارت آب وبرق ،رئيس
نقشه برداری وثبت زمين (کدستر)ورئيس
عوائد وزارت
ماليه بحيث اعضاء.
اين هئت ( کميسيون) در هر رُبع سال
يکبار ودرصورت ضرورت
بيشتر ازآن جلسه رادائر
مينمايد.

**مادهٔ بيست ودوم:**

هرگاه درجريان عمليهٔ تصفيهٔ زمين ،ثابت
شودکه حدود،مساحت ،درجه ،قطعه
ياقطعات زمين شامل سند،بااظهارات
مالک ياقائم مقام قانوني آن اختلاف
دارد،موضوع توسط هيئت تصفيه
به صورت دقيق ارزيابی
ودرباره تصميم
اتخاذميگردد.

**مادهٔ بيست وسوم:**

امارت جهت تأمين منافع عامه،درصورت
ضرورت مطابق احكام قانون استملاک

دحکمونومطابق دشخص خمکه په لاندې شرائطو سره استملاک کولی شي اودغه استملاک له تصفیې وروسته کېږي:

۱-که چېرې دخاوند ،ورثې اویاناقل اودغه مستحق دخمکوالی دساحې ټوله یا یوه برخه چې دخمکې دثمن ټول قسطونه ئې ورکړي وي ،دامارتي ادارواومؤسسوترپروژې یادائمي استفادې لاندې راشي، له تصفیې وروسته دقانون له حکمونوسره سم استملاک کېږي.

۲-په داسې حال کې چې ناقل اویامستحق دخمکې دبیې یوه برخه قسطونه تحویل کړي وي ،دهماغې برخې دبدل په هکله ددې مادې له لومړي جزء سره سم اجراآت تر سره کېږي.

څلورویشتمه ماده:

په هغه پروژه کې دشاملې خمکې چې له تصفیې مخکې په ودانیواوتأسیساتویاداستوګنې په کورونوبدله شوې وي، دتصفیې دهیئت له لارې نه تصفیه کېږي. دهغې پېرودنه دخاوندیادورثې دحکم وړاړوندوسندونوله

زمین شخص راتحت شرائط ذیل استملاک کرده میتواندواین استملاک بعد ازتصفیه صورت میگیرد:

۱-هرگاه تمام یا قسمتی ازساحه زمینداری مالک ،ورثه ویاناقل ومستحقیکه تمام اقساط ثمن زمین را پرداخته باشد،تحت پروژه یا استفاده دائمی ادارات امارتی ومؤسسات قرار گیرد،بعداز تصفیه،مطابق احکام قانون،استملاک میگردد.

۲-درحالیکه ناقل ویا مستحق قسمتی از اقساط ثمن زمین را تحویل کرده باشد در مورد بدل همان قسمت ، طبق جزء (۱)این ماده اجراآت صورت میگیرد .

مادۀ بیست وچهارم :

زمین داخل پروژه که قبل از تصفیه ، به عمرانات وتأسیسات یا منازل رهائشی مبدل گردیده باشد، از طریق هیت تصفیه ، تصفیه نگردیده ، خریداري آن به رویت اسناد مدار حکم دست داشتۀ مالک ویا ورثه ،توسط

مخې دمربوطوادارولہ خواترسره کېږي.

**پنځه ويشتمه ماده:**

په ځمکې پورې اړوندې شخړې او دعوې ګانې که چېرې دتصفيې د هيئت په واسطه حل نه شي ،دپرېکړې په مقصد محکمې ته وړاندې کېږي.

**شپږ ويشتمه ماده :**

دمتوفي دځمکوالي ساحه له شريعت سره سم دمحکمې په واسطه د ورثې تر منځ ترکه کېږي .

**اووه ويشتمه ماده :**

هغه اشخاص چې دځمکوالي ساحه ئې دقومي مشرانو،دکلي دصالح مشر(ملک) دقبيلې دکارېز او نورو اشخاصو په نامه دقانوني سند له مخې په ګډه قيد او دهر يوه خاوند ونډه له عنعنوي وېش سره سم مشخصه وي، کولی شي ، خپله تصرف شوې ونډه په لاندې ډول تصفيه کړي او دځان په نامه شرعي سند واخلي :

۱-دمساحت ، حدودو او د اوبو دحق (حقابې) فهرست (لست ) دهر هغه شخص په تفريق سره برابر ېږي چې په

ادارات مر بوط صورت ميگيرد .

**مادهٔ بيست و پنجم :**

منازعات ودعاوي مربوط به زمين ، در صورتيکه توسط هيئت تصفيه حل شده نتواند، غرض فيصله به محکمه رجعت داده ميشود .

**مادهٔ بيست وششم :**

ساحهٔ زمينداری متوفی شرعاً توسط محکمهٔ محل بين ورثه ترکه ميگردد.

**مادهٔ بيست وهفتم :**

اشخاصيکه ساحهٔ زمينداری آنها بنام سران قوم ،مشرصالح(قريه دار قريه) کاريز قبيله واشخاص ديگر ، به اساس سند قانوني به طور مشترک قيد وسهم هر يک از مالکين به اساس تقسيم عنعنوی مشخص باشد ، ميتواند سهم متصرفهٔ خود راقر ار آتي تصفيه وبنام خود سند شرعي اخذ نمايند :

۱-فهرست (لست )مساحت ، حدود وحقابه به تفريق هر شخص که عملاً زمين را در تصرف

عملي ډول ځمکه په واک کې لري .

۲-په دغه فهرست (لست)کې دهر متصرف دګوتې له نښان سره لاسليک اخيستل کېږي .

۳-په هر تن پورې اړونده ځمکه په جلا جلا ډول دمساحت دسنجولو او دځمکوالۍ دساحې دبيا ثبتولو او تصفيه کولو په جدولو نو (فورمو) کې شاملېږي .

**اته ويشتمه ماده :**

که چيرې دځمکې دزيات شمير خاوندانو دملکيت سندونه دحدودوله پلوه ګډوي او دځمکوالۍ ساحه ئې دمشاع په ډول وي ، دتصفيه کولو په مقصد دغه لاندې اقدامات تر سره کېږي :

۱-دهر شخص دملکيت داصلي ساحې او لومړۍ درجې معادل اندازه دملکيت دسند له مخې ټاکل کېږي .

۲-که چيرې دملکيت سند دمالې ورکولو سند وي،دهغه له شرائطو سره سم تر (۱۳۵۴)هجري لمريز کال پورې دکلنۍمالې ورکولو داندازې،داملاکو يا

دارد ، ترتيب ميگردد.

۲-امضاءبانشان انگشت هر متصرف در فهرست(لست) مذکور گرفته ميشود .

۳-زمين مربوط هر نفر ، طور جداگانه شامل جدول (فورمه ) های سنجش مساحت وثبت مجدد وتصفيهٔ ساحهٔ زمينداری ميگردد.

**مادهٔ بيست وهشتم :**

هرگاه اسناد ملکيت مالکين متعدد زمين از نگاه حدود مشترک بوده وساحهٔ زمينداری شان به شکل مشاع باشد جهت تصفيه اقدامات ذيل صورت ميگيرد:

۱- اندازهٔ ساحهٔ اصلی و معادل درجه اول ملکيت هر شخص، برويت سند ملکيت تعيين ميگردد.

۲- در صورتيکه سند ملکيت سند ماليه دهی باشد،بادر نظر داشت شرائط آن اندازهٔ ماليهٔ سالانه تا سال (۱۳۵۴)ه.ش به تفريق هر

دتر لاسه شوې مالیې دثبتولو داساس له دفتر نه دهر مالک په تفریق سره او دهر شخص دځمکوالی ساحه دده دکلنی مالیې ورکولو داندازې په پر تله ټاکل کېږي .

۳-دمشاع ځمکې حدود، اصلي مساحت او د هغې د لومړۍ درجې معادل په بشپړ ډول د ځمکې د ثبت او نقشې د ریاست د هیئت (کدستر د ټیم ) له لارې تثبیتېږي.

۴- د ملکیت په سند کې د شامل مساحت معادل د هر شخص ونډه یا د ده دمالیې ورکولو د سند په تناسب بېلېږي او د شریکانو یا ورثې د نه موافقې په صورت کې موضوع محکمې ته وړاندې کېږي .

۵-د اشخاصو د مشاع ملکیت په سند کې شامل د ساحې څخه اضافه تصرف شوې ځمکه اضافه جریبي بلل کېږي او له هغه سره د دې قانون له حکمونو سره سم چلند کېږي.

نهه ویشتمه ماده :

هغه ځمکه چې د مزارعت ( کروندوئي )

مالک از دفتر اساس ثبت املاک یا مالیه بدست آورده شده و ساحۀ زمینداری هرشخص، متناسب به اندازۀ مالیه دهی سالانۀ وی تعین میگردد.

۳- حدود زمین مشاع، مساحت اصلي و معادل درجه اول آن، به طور کُل توسط هیئت ریاست نقشه و ثبت زمین (تیم کدستر) تثبیت میگردد.

۴- سهم هر شخص معادل مساحت شامل سند ملکیت یا به تناسب سند مالیه دهي وی، تفکیک و در صورت عدم موافقۀ شرکاء یا ورثه، موضوع به محکمه محول میگردد.

۵- زمین متصرفه اضافه از ساحۀ شامل سند ملکیت مشاع اشخاص،اضافه جریبی محسوب و با آن طبق احکام این قانون اجراآت صورت میگیرد.

مادۀ بیست و نهم :

زمینیکه بطورمالیۀ مؤقت، مزارعت و

او راتب ( عمري عهدي ) د مؤقتي ماليې په ډول د شخص په نامه په دفترونو کې قيد وي او شخص لږ تر لږه (۴۰) کاله ماليه ورکړې وي، دشخص ملکيت بلل کېږي.

دېرشمه ماده :

په هغو سيمو کې چې د املاکو او د ماليې اساسي دفترونه او د ځمکې دحکم ورسندونه، چې د شخص ملکيت تثبيت کړې شي، له منځه تللي وي ، په مرکز کې د دفترونو د نشتوالي په صورت کې د اشخاصو د ځمکوالي ساحه د شرعي ملکيت له تثبيت وروسته تصفيه کېږي.

## څلورم فصل

### ځمکوالو ته د اخيستل شويو ځمکو بېرته ورکول

يودېرشمه ماده :

هغه ځمکې چې د (۱۳۵۷) هجري لمريز کال د ثوردمياشتې له اوومې نيټې وروسته دوخت دکافرکمونست نظام(رژيم )د فرمانونواو تقنيني سندونو له مخې د اسلامي شريعت پر خلاف، په بېلابېلو

راتب (عهده عمری) به اسم شخص به دفاتر قيد و شخص حداقل (۴۰) سال ماليه آن را پرداخته باشد ،ملکيت شخص محسوب ميگردد.

مادهٔ سی ام :

در محلاتيکه در آن، دفاتر اساس املاک وماليه و اسناد مدار حکم زمين که تثبيت ملکيت شخص را کرده بتواند، از بين رفته باشد، در صورت عدم موجوديت دفاتر در مرکز، ساحهٔ زمينداری اشخاص بعد از تثبيت شرعی ملکيت ،تصفيه ميگردد.

## فصل چهارم

### استرداد زمين های اخذ شده به زمينداران

مادهٔ سی ويکم :

زمين هائيکه بعد از تاريخ ۷ ثور سال (۱۳۵۷ هـ.ش) به اساس فرامين و اسناد تقنيني نظام(رژيم)کمونست کافر وقت بنام ها ی مختلف خلاف شريعت اسلامی از مالک يا ورثه

نومونودخاوندياورثي نه په وړيـــاړول (غصبـــاً) اخېستل شوې وي،ددغولاندې اجراآتوتابع دی:

۱-که چېرې ځمکه له وېشلو پرتـــه پـــر لومړنی حالت پاتې وي، دتصفيې‌دهيئت پـــه واسطه دتصفيې لـــه عمليـــې وروســـته دی‌اصلي خاوند، قانوني ممثل ياشـــرعي ورثې ته بېرته ورکول شي.

۲- که چيرې ځمکه د وخت د تقنينيـــي سندونو له مخې په اشخاصو وېشل شوي وي ددواړو خوا وو په موافقـــه اصلـــي خاوند يا ورثه ئې کولی شي دورځې په بيه دوېشل شوې ځمکې بيه له دغه شخص يا ورثې څخه تر لاسه کړي .

ددواړوخواوو دنه موافقې په صورت کـــې دی ځمکه خاوند يا دهغه قانوني ممثل ته او دمړينې په صور ت کې‌دهغه شرعي ورثې ته بېرته ورکول شي.داصلي مالک دغوښتنې په صـــورت کـــې دغصب شوې ځمکې حاصلات هم مستردېږي.

ددې مادې دريم جزله دې حکم څخه مستثنی دی.

۳-که چېرې دخاوند يا متوفیٰ اخيســـتل شوي ځمکه په دائرو،مؤسســـو او پـــه امارتي زراعتي کروندو(فارمونو )بـــاندې

طور رايگان(غصباً) اخذ گرديده باشـــد.تـــابع اجراآت ذيل می باشد:

۱-هرگاه زمين بدون توزيع به حالت اولی قرار داشته باشد، به مالک اصلي . ممثل قانوني يا ورثه شرعي آن، بعد از عمليـــهٔ تصفيـــــه توســـــط هيئـــــت مسترد گردد.

۲- اگرزمين به اشخاص طبق اسنادتقنينی وقت توزيع شده باشد،به توافق جـــانبين مالک يا ورثه ميتواند قيمت زمين توزيـــع شـــده را بـــه نـــرخ روز،از نـــزد شـــخص مذکـــور يـــا ورثـــه او اخـــذ نمايد.

درصورت عدم توافق جانبين.زمين دوبـــاره بـــه مالک يا ممثل قانونی وی ودرصورت فوت بـــه ورثـــــه شـــــرعی وی‌مســـــتردگردد در صورت مطالبهٔ مالک اصلي حاصلات زمـــين غصب شده نيزمسترد ميگردد.

جزء سه اين ماده ازاين حکم مستثنیٰ ميباشد .

۳- هرگاه زمين اخذشده مالک يا متوفیٰ به ادارات، مؤسسات و مزرعه(فارم)هـــای زارعتی امارتی توزيع شده باشد وبـــالای

وېشل شوې وي او تأسيسات اوودانـــې پکې جوړې شوې وي، لازمـــه ده چـــې استفاده کوونکي اداره دځمکې بيه دپولو د شريکانو دځمکې له بيـې سـره سـم دورځې په نرخ يوځاي اصلي خــاوند ، قانوني ممثل يا دهغه ورثې تــه ورکـــړي دبيې په تثبيتولو کي،دهغې لومړی حالت دهغه ارزښت له په پام کې نيولو پرته چــې کروند و، ودانيو يا تأسيساتو را منځتــــه کـــړې وي ،پـــه پـــام کـــې نيول کېږي .

۴- که چېرې اخيستل شوې ځمکه تـــر ښاري پلان او نورو پروژو لانـــدې وي هغه اداره چې اړتيا ولري ، د قانون لـــه حکمونو ســـره سـم دې د هغـــې پـــه استملاک کولو لاس پورې کړي.

**دوه ديرشمه ماده:**

دهغه شخص په هکله چې پخوا ځمکـــه ورباندې وېشل شـــوې ده کـــه چـــېرې شخص ياورثې ئې په هغې کې دوخـــت دنافذ وتقنيني سند ونو پرخلاف بدلـــون اولېږدونه را منځته کړې وي ،دغه لاندې

آن تأسيسات و عمرانات بنأ يافته باشـــد لازم است ادارهٔ استفاده کننده ، قيمـــت زمين را به نرخ روز ، مطابق قيمت زمـين پلـوان شـريکان يکـدم بـــه مـــالک اصلي ، ممثـــل قـــانوني يـــا ورثـــهٔ وی بپردازد . درتثبيـــت قيمـــت ، حـــالت اولي آن بـــدون در نظـــر داشـــت ارزش مزرعـــــــــــــــــه ها، ســـــاختمانها يـــا تأسيســـات به بـــــــار آورده،در نظـــــــر گرفته ميشود.

۴- هرگاه زمين اخذ شده،تحـت پـــلان شهری وسائر پروژه هـــا قـــرار داشـــته باشـــد،ادارهٔ کـــه ضـــــرورت دارد ،طبق احکام قانون به استملاک آن اقدام نمايد.

**مادهٔ سی ودوم:**

درمورد زمينيکه قبلاًبرای شخص توزيـــع گرديده باشد، هرگاه شخص يا ورثـهٔ وی درآن مخالف اسناد تقنينی نافذ وقت تغيير وانتقـــــال بعمـــــــل آورده باشــــد،اجـــرآآت ذيــــــل

اجراآت دې عملي شي:

۱-که چېرې وېشل شوې ځمکه نوروته لېږدول شوې وي اولاس په لاس تبادله پکې شوې وي،په داسې حال کې چې په ځمکه کې غیر زراعتي بدلون نه وي راغلی، ځمکه بېرته اصلي خاوند ته سپارل کېږي او هغه اشخاص چې ځمکه ئې پېرودلې ده،خپلې پیسې دې له بايعینونه واخلي .

۲-که چېرې په ځمکه کې داسې بدلون راغلی وي چې تأسیسات پکې جوړشوي وي ،داصلي خاوند په موافقه دځمکې بیه دورځې له بیې سره سم ورکول کېږي،که چېرې اصلي خاوند ئې موافقه ونه لري، په هغه صورت کې چې دتأسیساتو بیه دځمکې له بیې سره برابره وي،ځمکه له تأسیساتو نه خالي کېږي او خاوند ته ئې سپارل کېږي.

۳- که چېرې د ځمکې بڼه داسې بدله شوې وي چې دځمکې دارزښت او بیې دکمښت سبب شي،مقصر شخص،قانوني ممثل یاورثه ئې مکلفیت لري چې ځمکه

عملی گردد:

۱- درصورتیکه زمین توزیع شده برای سائرین انتقال یافته باشد ودر آن تبادل ایدی(دست بدست) صورت گرفته باشد ،درحالیکه درزمین تغییرغیر زراعتی نیآمده باشد،زمین به مالک اصلی آن مسترد واشخاصیکه زمین راخریداری نموده اند ،پول خویش را از بائعین اخذ نمایند.

۲-درصورتیکه در زمین طوری تغییر آمده باشدکه در آن تأسیسات بناءیافته باشد،به موافقهٔ مالک اصلی،قیمت زمین به نرخ روز برای وی پرداخته میشود.اگر مالک اصلی آن موافقه نداشته باشد،درصورتیکه قیمت تأسیسات مساوی قیمت زمین باشد،زمین از تأسیسات تخلیه وبه مالک وی سپرده میشود.

۳- درصورتیکه زمین طوری تغییر شکل یافته باشد که منجر به تنقیص ارزش وقیمت زمین گردد،شخص مقصر ،ممثل قانونی یاورثه وی،مکلف است زمین

بيرته‌مسترده اورسيدلی تاوان جبيره کړي.

دري دېرشمه ماده:

دهغه شخص په هکله چې دځمکې پخوا اخېستل شوې ساحه ئې دبل شخص دځمکوالی له ساحې سره بدله شوې وي لاندې اجراآت تر سره کېږي:

۱-که چېرې ددواړوتبادله شويوځمکو کرنيزوالی‌بنه بدله شوې نه وي،تبادله باطله او هر شخص ته دهغه اړونده ځمکه بيرته ورکول کېږي.

۲- که چېرې تبادله شوې ځمکه شخص ته ورکړشوې وي، ځمکه بېرته اصلي خاوندانوته ورکول کېږي.

۳- که چېرې دشخص په تبادله شوې ځمکه کې تأسيسات جوړشوې وې او يا هغه شخص چې ځمکه ئې دبل شخص له ځمکې سره تبادله شوې وي اوهغه په تبادله شوې ځمکه کې بدلون او لېږدونې را منځ ته کړې وي،دځمکې خاوند،دځمکې او دهغې دبيې داخېستلو په

رامسترد وخسارهٔ وارده راجبران نمايد.

مادهٔ سی‌وسوم:

درمورد شخصيکه ساحهٔ زمينداری قبلاًاخذ شدهٔ وی باساحهٔ زمينداری شخص ديگری تبادله شده باشد، اجراآت ذيل صورت ميگيرد:

۱-درصورتيکه شکل زراعتی بودن هر دو زمين تبادله شده تغيير نکرده باشد،تبادله باطل وبرای هر شخص زمين مربوطهٔ وی مسترد ميگردد.

۲-اگر زمين تبادله شده ،به شخص توزيع شده باشد ،زمين تبادله شده به مالکين اصلی اش مسترد ميشود.

۳- در صورتيکه بالای زمين تبادله شدهٔ شخص تأسيسات احداث شده ويا شخصيکه زمين وی بازمين شخص ديگر تبادله شده واو درزمين تبادله شده تغيير وانتقالات به عمل آورده باشد مالک زمين درمورد

هکله مختاردی.

**څلوردېرشمه ماده :**

هغه شخص چېداسلامي شریعت دحکم او ددې قانون دحکم وړ سند و نو لـــه مخې دځمکې خاوند بلــــل شـوی وي خودده دغیابت له امله‌داخېستل شـوي ځمکې بیرته ورکول نا شوني وي،دغائب د ګټواو ملکیت دساتنې په مقصد واکمنه محکمه قیم(دغائب وکیل)ټاکـــې چــې دکرنې او مالدارۍ وزارت دځمکوالـــۍ دچارو دتنظیم له عمومي ادارېسره پــــه سلامشوره کې دغائب‌دملکیت دساتنې په هکله په مسؤلانه ډول اقدام وکړي.

**پنځه دېرشمه ماده:**

که چـــېر ې داشـــخاصو یـــا دامـــارت دځمکوالۍ ساحه دوخت دنافذ و قوا نینو پر استناداوداسلامي شریعت داساسا تو پر خلاف په اشخاصو باندې وېشل شــوي وي اویاځمکه داشخاصو له لوري پخپـــل سرنیول شوې وي،په دې هکلـــه دغـــه لاندې اجراآت درعایتولووړدي :

۱- که چېرې ځمکه داشخاصو دملکیت

اخذ زمین وقیمت آن مختار است.

**مادهٔ سي وچهارم :**

شـــخصیکه بــــه اســـاس حکـــم شـــریعت اســـــلامی واســـناد مدارحکم این قانون،مالک زمین شـناخته شـــده،امـــا نســـــبت غیــــابت وی استرداد زمین اخذ شده ممکن نباشــــدبه منظور حفظ منافع وملکیت غائب محکمه ذیصلاح قیم(وکیـــل غـــائب) را تعیـــین مینمایدتا به مشورهٔ ادارهٔ عمومی تنظیـــم امـــور زمینـــداری وزارت زراعــــــت ومالداری،درمورد حفظ ملکیت غـــائب مسؤلانه اقدام نماید.

**مادهٔ سی وپنجم:**

هرگاه ساحه زمینداری اشخاص یا امارت مستند به قوانین نافذهٔ وقـــت، مخـــالف اساسات شریعت اسلامی، برای اشـــخاص توزیع گردیده باشد ویا زمین از طـــرف اشخاص خودســـرانه تصـــاحب شـــده باشد،درمورد اجراآت ذیل قابل رعـــایت است:

۱-هـــرگاه زمـــین از جملـــهٔ ملکیـــت

له جملې څخه وي،اصلي خاوند ،قانوني ممثل یاورثې ته دې ورکړل شي.

۲-که چېرې ځمکه دامارت داملاکوله جملې څخه وي یا ددې مادې په لومړې جزء کې له درج شوي اصلي خاوند څخه مستحق الارث ورثه پاتې نه وي،ځمکه داسلامي امارت داملاکو په سر جمع کې قید بېږي.

۳-ددې مادې دلومړي او دوه یم جزءپه درج شویو حالاتوکې هغه شخص چې په ځمکې باندې ئې داسلامي شریعت اوقانون دحکمونو پر خلاف تصرف شوې وي ،دهېڅ راز تاوان دجبیره کولودغوښتنې حق نه لرې.

## پنځم فصل

## مستحق

شپږدېرشمه ماده :

هغه شخص چې دغه لاندې شرطونه ولرې، دځمکې دوېش مستحق بلل کېږي:

۱-دافغانستان اسلامي امارت دتابعیت لرل.

اشخاص باشد،به مالک، اصلی ممثل قانونی یا ورثهٔ وی مسترد گردد.

۲-هرگاه زمین از جملهٔ املاک امارت باشد یااز مالک اصلی مندرج جزء(۱)این مادهٔ ورثهٔ مستحق الارث باقی نمانده باشد،زمین به سر جمع املاک امارت اسلامي قید میگردد.

۳-درحالات مندرج اجزای(۱و۲)این ماده،شخصیکه تصرف وی درزمین مخالف احکام شریعت اسلامی وقانون صورت گرفته باشدحق مطالبهٔ هیچ نوع جبران خساره را ندارد.

## فصل پنجم

## مستحق

مادهٔ سی وششم :

شخصیکه واجد شرائط ذیل باشد،مستحق توزیع زمین شناخته میشود:

۱-داشتن تابعیت امارت اسلامی افغانستان .

۲-داتلس کلنی عمر بشپړول .
۳-بې ځمکې بزگر،کم ځمکې بزگر،زراعتي اجير ،متقاعد مامور او بی وزلی کوچی .
۴- شخص دې ژمنه وکړي چې پخپله يا دکورنۍ نارينه غړي ئې دوېشل شوې ځمکې په کرکيله او آباد ولو لاس پورې کوي او څارنه ئې کوي.

**اووه دېرشمه ماده:**

دمستحق تثبيتول اودرجه بندي داستحقاق دفورمې له مخې دتصفيې دهيئت له خوا دسيمې دصالح مشر(ملک)اودکلي ددريو تنومخوروسپين ږيرواوملاامام اودولايت د هيئت(کميسيون)په تائيد صورت مومي.

**اته دېر شمه ماده:**

مستحق داستحقاق له تثبيت وروسته مکلف دی‌چې:
۱-دځمکې داستحقاق فورمه دې دتر لاسه کولو له نيتې څخه وروسته په پنځلسو ورځو کې ډکه کړي او د تصفيې هيئت ته دې وسپارې.
۲-دځمکې له تسليمۍ وروسته دهغې په

۲-اکمال سن هجده سالگی .
۳-دهقان بی زمین،دهقان کم زمین،اجیرزراعتی،مامور متقاعدوکوچی بی بضاعت.
۴-شخص تعهد نماید که خودیا اعضای ذکورخانوارش به کشت وکاروآبادی زمین توزیع شده پرداخته وازآن مواظبت می نماید.

**مادهٔ سی‌و هفتم:**

تثبیت و درجه بند ی مستحق .به اساس فورمهٔ استحقاق ازطرف هیئت تصفیه به تائید سه نفرریش سفیدان بااعتبارقریه و مشرصالح(قریدار)درمحل وملا اماموصحهٔ هیئت(کمیسیون)ولایت صورت میگیرد.

**مادهٔ سی و هشتم:**

مستحق بعد از تثبیت استحقاق مکلف است:
۱-فورمهٔ استحقاق زمین رادرظرف(۱۵)روز بعد از تاریخ تسلیمی خانه پری وبه هیئت تصفیه تسلیم نماید .
۲-بعد از تسلیمی زمین به کشت وکار

آباد ولواوکرکېله لاس پورې کړي.

۳-دځمکې دثمن قسطونه او د ځمکې جائزه عوائد (مالیه) په ټاکلي وخت ورکړي.

**نهه دېرشمه ماده:**

هغه مستحق چې ددې قانون د شپږ دېرشيمې مادې شرطونه ولرې،دځمکې په ويش کې ئې دقدامت درجه په لاندې ډول تثبيتېږی :

(۱)لومړی درجه مستحق:

۱-هغه بې ځمکې بزګر چې دکورنۍ دغړو شمېرئې زيات وی.

۲-هغه بې ځمکې بزګر چې ترکرکېلې لاندې ځمکه ئې دعامه ګټو په مقصد د امارت له لورې تصرف شوې وي .

(۲)دوّيمه درجه مستحق :

دهغه کلي بی ځمکې بزګر يازراعتي اجير چې دوېشلو وړځمکه هلته واقع وي .

(۳)دريمه درجه مستحق :

هغه کم ځمکې بزګر او داسلامی امار ت هغه متقاعد بې ځمکې او کم ځمکې کارکوونکی چې لږترلږه ئې پنځه ويشت

وآبادی آن اقدام نماید.

۳-اقساط قیمت زمین وعوائد جائزه (مالیه) را به وقت معین بپردازند.

**مادهٔ سی‌ونهم:**

مستحقیکه واجدشرائط مادهٔ(۳۶)این قانون باشد، درجهٔ قدامت وی در توزیع زمین به ترتیب ذیل تثبیت میگردد:

(۱)مستحق درجه اول:

۱-دهقان بی زمینیکه تعداد فامیلش بیشتر باشد.

۲-دهقان بی زمینیکه زمین تحت کشت وکارش به منظور منافع عامه،از طرف امارت تصرف شده باشد.

(۲)مستحق درجه دوم:

دهقان‌بی زمین واجیر زراعتی قریه یامحلیکه زمین قابل‌توزیع‌درآن‌موجودباشد.

(۳)مستحق درجه سوم:

دهقان کم زمین وکارکن متقاعد بی زمین وکم زمین امارت اسلامی که اقلاً(۲۵)سال خدمت

کاله خدمت کړی دی اودتقاعد دحقو قو
په بدل کې ځمکه ترلاسه کوي.
په دې صورت کې دکمونستي نظام(رژیم)
څوارلس کلنه دوره دمحاسبي وړنه ده .
(۴)څلورمه درجه مستحق :
هغه بې وزلی کوچی دي چې له معمول
سره سم دکال یوه برخه په هغې ولسوالی
کې استوګنه ولرې چې دوېش وړځمکه
پکې وي او نوربې وزلې کوچیان.
**څلویښتمه ماده :**
(۱)هغه بې وزلې قومونه،قبائل او کوچیان ـ
چې داسلامی امارت له خوا له یوې سیمې نه
بلې سیمې او ولایت ته ولېږدول شي ـــ
اومیشته کړای شي او د خپلې بې جایدادی
وثیقه دسیمې په اړونده محکمه کې بشپړه
کړي.دځمکوالی دچارودتنظیم عمومي اداره
په هغوی باندې د څلو رمې درجی مستحق
په توګه په سیمه کې دوېش وړځمکې دشته
والي په صورت کې یوه نمره ځمکه وېشي.
(۲)دکرنې اومالداری ،اوبواوبریښناپوهنی،عامې
روغتیااودمخابراتو وزارتونه اودکلیودبیا جوړونې
اوپراختیا اداره دمېشته کړی شویوکسانوپه هکله

نموده ودر برابر حقـــوق تقـــاعد زمـــین
دریافت میدارد.دراین صورت (۱۴)ساله
خدمت درنظام (رژیم )کمونســتی قــابل
محاسبه نمي باشد .
(۴)مستحق درجه چهارم:
کوچی بی بضاعت کــه معمــولاً یــک
قسمت سال را در ولسوالی که زمین قابل
تو زیع درآن وجود دارد، بودوباش داشته
باشد وسائر کوچی های بی بضا عت .
**مادهٔ چهلم:**
(۱)اقوام،قبائل،کوچیان بی بضاعت که تو ســط
امارت اسلامی از یک محل به محل وولایـــت
دیگر نقل مکان داده شده واسکان شوند. وثیقـهٔ
لا جایدادی خود را در محکمه مربــوط محــل
تکمیــل نمـــایند،ادارهٔ عمومـــــی تنظیـــم
امورزمینداری،بـــرای آنـــها بحیـــث مســتحق
درجــــه چــــهارم درصــــورت
موجودیـــت زمـــین قـــابل توزیـــع در
محــل ،یـــک نمــره زمـــین توزیـــع
میدارد.
(۲)وزارت های زراعت ومالداری،آب وبـــرق،
معارف،صحت عامه،مخابرات وادارهٔ احیـــاء و
انکشاف دهات،درمورداسکان شده گان مکلف به

دخپلو مشخصو دندو په ترسره کولو مکلف دي.

**يوځلويښتمه ماده:**

که چېرې مستحق مړشي،دوېشل شوې ځمکې په هکله لاندې حکمونه رعايتېږي:

۱-دمستحق ورثه کولی شي دوېشل شوې ځمکې دبيې دقسطونوپه ورکولو سره دځمکې نه ګټه واخلي.ورثه دځمکې دبيې دټولو قسطونوله بشپړولووروسته د ځمکې دتره کې اوقطعي انتقال حق لري.

۲-که چېرې ورثه صغيران او يا ښځينه وي اويامستحق دروغتيائې معذرتونو له امله ونه کړای شي،ځمکه وکري کولی شي هغه په دهقاني ياپه اجاره ورکړي.

۳-که چېرې مستحق ياورثه ئې ونه غواړي د قانون له نافذيدووروسته له وېشل شوې ځمکې نه ګټې اخېستلوته دوام ورکړي،کولی شي ځمکه اسلامي امارت ته مسترده کړي، په دې صورت کې ورکړشوې قسطونه دامارت

اجرای وظائف مشخص خويش ميباشند.

**مادۀ چهل يکم:**

هر ګاه مستحق فوت نمايد،درمورد زمين توزيع شده احکام ذيل رعايت ميګردد:

۱-ورثه مستحق ميتواند باپرداخت اقساط قيمت زمين توزيع شده ،از زمين بهره برداری نمايد.ورثه بعد از اکمال تمام اقساط قيمت زمين، حق ترکه وانتقال قطعیزمين را دارد.

۲-هرګاه ورثه صغار وياناث باشند ويا مستحق بنابرمعاذيرصحی،نتواند زمين راکشت نمايد، ميتواند آنرا به دهقانی يا به اجاره بدهد.

۳-هرګاه مستحق يا ورثه آن نخواهدبه بهره برداری از زمين توزيع شده،بعداز انفاذ اين قانون ادامه دهد، ميتواند زمين را به امارت اسلامی مسترد نمايد درين صورت اقساط پرداخته شده از بودجة امارت

له بودجې نه دبېرته ورکولو وړدي.

دوه څلوېښتمه ماده:

متأهل مستحق یا د کورنۍ داعاشې او اباتې متکفل شخص دهغه مجرد مستحق په نسبت چې په کټ مټ درجه کې وي دځمکې په وېش کې دلو مړیتوب حق لري.

## شپږم فصل

## دځمکې وېش

درې څلوېښتمه ماده :

لاندې ځمکې که چېرې دکرونددې(فارم) او پروژې دجوړولواړتیا یکې نه وي دوېش وړدي:

۱-اسلامي امارت ته بخښل (اهدا)شوې ځمکه په دې شرط چې دیوخاص هدف لپاره وقف شوي نه وي.

۲-امارتی زراعتی ځمکې او هغه مواتې ځمکې چې نوې ترکرکېلی لاندې راځي (صالح الزراعه کېږي).

څلورڅلوېښتمه ماده:

(۱)په مستحق باندې ځمکه ددې قانون دحکمونو په رعایتولو سره د کرنې او

قابل استرداد است.

مادهٔ چهل ودوم :

مستحق متأهل یا شخص متکفل اعاشه واباتهٔ خانواده،نسبت به مستحق مجرد که در عین درجه قرار داشته باشد،درتوزیع زمین حق اولیت دارد.

## فصل ششم

## توزیع زمین

مادهٔ چهل وسوم:

زمین های ذیل درصورتیکه ضرورت تأسیس مزرعه(فارم)وپروژه درآن نباشد قابل توزیع میباشد:

۱-زمین اهداءشده به امارت اسلامی مشروط به این که براي هدف خاص وقف نه شده باشد .

۲-زمین های زراعتی امارتی وزمین های مواتیکه جدیداً صالح الزرع میگردد.

مادهٔ چهل وچهارم:

(۱)توزیع زمین به مستحق بارعایت احکام این قانون، به پیشنهاد وزارت

مالداری وزارت په وړاندیزاودامیرالمؤمنین په منظوری دبیې په بدل کې دلسو کلونو په قسطونو سره وېشل کېږي او ځمکــه دقسطونو تر بشپړېدو پورې دعاریت پــه ډول له مستحق سره وي .

(۲)دوېش وړځمکې بیه د ځمکــې دوېش په وخت کې دسیمې د مروجه بیــې پــه رعــایتو لــو ســره دهغــــه عــــالي هیئت(کمیسیون)په واسطه تثبیتېږی چــې دامیرالمؤمنین له خوا تاکل کېږی.

(۳)-دهغې ځمکــې دبیــې دقســطونو دورکولو وخت چې ددې قــانون لــه نافذیدووروسته وېشل کېږي،دوېش لـــه نیټې نه یوکال وروسته دی.

**پنځه څلویښتمه ماده:**

دملکیت دتصفیې،تثبیــــت او وېش پـــه مقصد، ځمکـــه پـــه دریوردیفونـــو او اوودرجو وېشل کېږی او په لومړی درجه باندې ددرجو دتعدیل په وخت کې لاندې ضریبونه رعایتېږی :

لومړی ردیف:(باغي ،تاکي او دوه فصلــه اوبه لرونکی ).

زراعت ومالداری ومنظوری امـــیرالمؤمنین در بدل قیمت عادلانه، بـــه اقســـاط ده سال صورت میگیرد،والی تکمیل اقســاط زمین طـــور عـــاریت نـــزد مســـتحق قرارمیداشته باشد.

(۲)-قیمت زمین قابل توزیـــع،بارعـــایت قیمت مروجهٔ محل درزمان توزیع زمـــین توسط هئیت (کمیسیون) عالی کـــه از طرف امیرالمؤمنین تعین میگردد،تثبیــــت میشود.

(۳)-زمان تادیهٔ اقساط قیمت زمین کـــه بعـــد ازانفـــاذ ایـــن قـــانون توزیــــع میشود،یکسال پـــس از تـــاریخ توزیـــع میباشد.

**مادهٔ چهل و پنجم :**

به منظور تصفیه،تثبیت ملکیت وتوزیـــع زمین به سه ردیف وهفت درجه تقســـیم گردیده وحین تعدیل درجـــات بدرجـــه اول ضریـــب هـــای ذیـــل رعـــایت میگردد:

ردیف اول : (بـــاغی،تاکی ودوفصلـــه آبی).

لومړۍ درجه ځمکه:(باغي یاتاکي)،ضریب (۱،۰۰).

دوه یمه درجه ځمکه:(دوه فصله اوبه لرونکې )،ضریب (۰،۸۵).

دوه یم ردیف:(یوفصله اوبه لرونکې ):

دریمه درجه ځمکه :(یوفصله اوبه لرونکې چې په سلوکې پنځوس اوله هغه نه زیاته په کال کې یو ځل کرل کېږيُ اوخړوبېږي)ضریب(۰،٦۷).

څلورمه درجه ځمکه :(یوفصله اوبه لرونکې چې په سلوکې له پنځلسونه ترپنځوسو پورې په کال کې کرل کېږي او یا خړوبېږي)ضریب(۰،۴۰).

دریم ردیف: (کم اوبه اوللمي):

پنځمه درجه ځمکه: (یوفصله اوبه لرونکې ځمکه چې په کال کې په سلوکې له پنځلسو نه کمه کرل کېږي او خړو بېږي اویو بوره للمي ځمکه چې یو کال ترمنځ کرل کېږي )ضریب(۰،۲۰).

شپږمه درجه للمي ځمکه :(هغه دوه بوره للمي ځمکه چې دوه کاله ترمنځ کرل کېږي)ضریب(۰،۱۵).

زمین درجه اول: (باغی‌یا تاکی)ضریب (۱،۰۰).

زمین درجه دوم: (دوفصله آبی) ضریب (۰،۸۵).

ردیف دوم :(یک فصله آبی):

زمین درجه سوم :(یک فصله آبی که پنجاه فیصد وبیش ازآن سالانه کشت ویاآبیاری میشود ) ضریب (۰،٦۷).

زمین درجه چهارم : (یک فصله آبی که از ۱۵الی ۵۰فیصد آن سالانه کشت ویاآبیاري می شود) ضریب (۰،۴۰).

ردیف سوم :(کم آب وللمی)

زمین درجه پنجم:(زمین یک فصله آبی که کمتراز ۱۵ فیصد سالانه کشت وآبیاری میشود ،وزمین للمی یک بوره که سال درمیان کشت میشود) ضریب (۰،۲۰).

زمین للمی درجه ششم:(زمین للمی دوبوره که دو سال درمیان کشت میشود)ضریب(۰،۱۵).

اوومه درجه للمي ځمکه : (هغه للمـــي ځمکه چې له دووکالو زیاته تر منځ کرل کېږي)ضریب (۰،۱۰).

**شپږ څلوېښتمه ماده :**

دځمکې دمقیاس واحد جریب دی، چې ددوه زره مربع مترو معادل یا دیوه هکتار پنځمه برخه ده، پـــه مســتحق بـــاندې دځمکې دوېش په وخت کې دځمکوالـي دساحې په سنجولوکې نیم جریب اولـــه هغې نه کمه نه محاسبه کېږي.له نیم جریب نه زیاته یو جریب محاسبه کېږي.

**اووه څلوېښتمه ماده:**

ددرجوله مخې په هره درجـــه کــې پـــه مستحق باندې ځمکه پـــه لانـــدې ډول وېشل کېږي:

۱-لومړۍ درجـــه ځمکـــه :(بـــاغي یـــا تاکي )دلسوجریبو معادل دوه هکتاره .

۲-دوه یمه درجه ځمکه:(دوه فصله اوبـــه لرونکې) دولس جریبه .

۳-دریمه درجه ځمکه :(یوفصلـــه اوبـــه لرونکې )پنځلس جریبه .

۴-څلورمه درجه ځمکه :(یوفصله اوبه

زمین للمی درجه هفتم:(زمین للمی کـــه بیشـــتر از دوســـال در میـــان کشـــت میشود)ضریب (۰،۱۰).

**مادۀ چهل و ششم:**

واحد مقیاس زمین جریب است که معادل (۲۰۰۰)مترمربع یا پنجم حصـــۀ یـــک هکتار میباشد.در سنجش ساحۀ زمینداری حین توزیع زمین به مستحق،نیم جریـــب وکمتراز آن محاسبه نمیشـــود.بیشـــتراز نیم جریب ،یکجریب محســـوب مـــی گردد.

**مادۀ چهل و هفتم:**

توزیع زمـــین بـــه مســـتحق دریکـــی از درجـــات قراراَتـــی صـــــــورت میگیرد:

۱-زمین درجه اول:(باغی یا تاکی)۲هکتار معادل (۱۰) جریب.

۲- زمـــین درجـــه دوم:(دوفصلـــه آبی)(۱۲)جریب .

۳-زمین درجه سوم:(یک فصلۀ آبی)(۱۵) جریب .

۴- زمین درجه چـــهارم:(یـــک فصلـــۀ

لرونکې) پنځه ويشت جريبه .

۵-پنځمه درجه ځمکه :(يو فصله اوبه لرونکې او للمي يو بوره )پنځوس جريبه .

٦-شپږمه درجه ځمکه :(دوه بوره للمي)شپږشپيته جريبه .

۷-اوومه درجه ځمکه :(هغه للمي چې له دوو کالوڅخه زيات ترمنځ کرل کېږي ) سل جريبه.

**اته څلويښتمه ماده :**

په سيموکې ديوجريب ځمکې کلنۍ منځۍعمومي عائد په توپيري ډول دکرنې اوبو لګولو،د ځمکې دنقشې اوثبت (کدستر)او دځمکوالۍ د چارو دتنظيم دادارولخوا ټاکل کېږي.

**نهمه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې په هريودرجه دويش وړځمکې دساحې په پرتله دمستحقو کسانو شمېر زيات وي،ځمکه دمستحقينو داکثريت په وړاندې دپچې(قرعی) اچولو له مخې وېشل کېږي.

**پنځوسمه ماده:**

(۱)هغه کوچنۍاو خورې ورې توټې چې له وېش څخه پاتې کېږي لومړی په پولې

آبی )(۲۵)جریب .

۵-زمین درجه پنجم :(یک فصله آبی وللمی یک بوره)(۵۰) جریب.

٦-زمین درجه ششم :(للمی دوبوره) (٦٦) جریب .

۷- زمین درجه هفتم :(للمی که بیشتر از دو سال درمیان کشت شود)۱۰۰ جریب .

**مادهٔ چهل وهشتم:**

عائد عمومی متوسط سالانهٔ یک جریب زمین درمحلات به صورت متفاوت توسط ادارات زراعت ،آبیاری ،ریاست نقشه وثبت زمین (کدستر)وتنظیم امورزمینداری تعیین میگردد.

**مادهٔ چهل ونهم:**

هرگاه تعداد مستحقین نظربه ساحهٔ زمین قابل توزیع، درهر یک از درجات بیشترباشد،زمین درمحضر اکثریت مستحقین به اساس قرعه توزیع میگردد.

**مادهٔ پنجاهم:**

(۱)قطعات کوچک وپراگندهٔ زمین که از توزیع بازمیماند.نخست به دهقان کم زمین

شريک کم ځمکې بزګر باندې،په دوه يمه درجه کې په پولې شريک ځمکوال باندی اوله دی پرته په هغه ځمکوال باندې چې په سيمه کې ډيره کمه ځمکه ولرې،دورځنۍ بيې په بدل کې وېشل کېږي، په دې حالت کې ځمکوال دځمکې بيه يو دم تحويلوي.

(۲)که چېرې ددې مادې په لومړۍ فقره کې درج شوی ځمکوال دپېرودنې هيله ونه لرې،ځمکه دمزايدې په ډول پلورل کېږي.

يوپنځوسمه ماده:

داوبو اوبريښنا وزارت،دکرنې جوړهشوې پروژه په هغه صورت کې چې په هغې کې دامارتي کروندې(فارم)جوړولوته اړتيا نه وي،په مستحقو کسانو باندې دوېشلوپه مقصد دځمکوالۍ دچارو دتنظيم عمومي ادارې ته سپاري.

اووم فصل

دځمکې لېږدونه اوبدلونونه

دوه پنځوسمه ماده :

(۱)مالک په قطعي اوموقتي ډول دځپل

پلوان شريک بدرجۀ دوم به زميندارپلوان شريک ودرغير آن به زميندار يکه کمترين زمين در محل داشته باشد، در بدل قيمت به نرخ روز توزيع ميګردد. دراين حالت زميندار قيمت زمين را يکدم تحويل ميدارد.

(۲)هرګاه زميندار ان مندرج فقرۀ(۱)اين ماده خواهش خريد را نداشته باشند زمين طوری مزائده به فروش ميرسد.

مادۀ پنجاه و يکم:

وزارت آب وبرق،پروژۀ اعمار شدۀ زراعتی را درصورتيکه ضرورت به تأسيس مزرعۀ (فارم)امارتی درآن نباشد.جهت توزيع به مستحقين به ادارۀ عمومی تنظيم امور زميندارى تسليم مى نمايد.

فصل هفتم

انتقالات و تحولات زمين

مادۀ پنجاه دوم :

(۱)مالک حق انتقال قطعي وموقت زمين

ملکیت دځمکې لیږدونې حق لري .

(۲)مستحق اوناقل دځمکې دبیې دټولو قسطونوله تحویلولواودشرعي سندله اخیستلو وروسته اودغه رازمستحق وارثان دخپلوونډوله تثبیتولووروسته دلیږدونې حق لري.

**دري پنځوسمه ماده:**

دځمکې دملکیت ، تأسیساتو اودځمکوالې دساحې دغیر منقوله تجهیزاتو قطعي لیږدونه دشرعي سند له مخې صورت مومي.

**څلورپنځوسمه ماده:**

دځمکې دملکیت لیږدونه،دعقار دځای د محکمې په واسطه د ځمکوالې دچارو دتنظیم دادارې له لارې ترسره کېږي،دځمکې

ملکیت خود ر ادارد.

(۲)مستحق وناقل بعد از تحویلی کلیه اقساط قیمت زمین واخذ سند شرعی وهمچنان وارثین مستحق بعد از تثبیت سهام خویش حق انتقال را حائز میباشند.

**مادهٔ پنجاه و سوم :**

انتقال قطعي ملکیت زمین تأسیسات وتجهیزات غیرمنقول ساحهٔ زمین داری به اساس سندشرعی صورت میگیرد.

**مادهٔ پنجاه وچهارم :**

انتقال ملکیت زمین ازطریق ادارهٔ تنظیم امورزمینداری توسط محکمهٔ محل عقارصورت میگیرد.ثبت انتقال زمین

او دجائزه عوائدو (مالیې) دثبت داساس په دفتر کې دځمکې دلېږدونې ثبتول او دځمکې دلېږدونې اجراآت په وړیا ډول تر سره کېږي.

دعقار دځای محکمه دلېږدونې محصول دقانون له حکمونوسره سم اخلي.

پنځه پنځوسمه ماده :

له تصفیې وروسته دځمکې کمي او کیفي بدلونونه دځمکې دخاوندد لیکلو معلوماتوله مخې دسیمې دکرنې داداري په تصدیق سره دځمکې او جائزه عوائدو (مالیې) دثبتولو داساس په دفترونو کې ثبتېږي.

شپږپنځوسمه ماده :

امارتي دائرو او مؤسسو ته دامارت دځمکې

به دفاتر اساس ثبت زمین عوائدجائزه (مالیه) واجراآت انتقال زمین به صورت رایگان صورت میگیرد.

محکمهٔ محل عقار محصول انتقال را مطابق احکام قانون اخذ میدارد.

مادهٔ پنجاه وپنجم :

تحولات وتغیرات کمی وکیفی زمین بعدازتصفیه به اساس معلومات تحریری مالک زمین به تصدیق ادارهٔ زراعت محل به دفاتراساس ثبت زمین وعوائدجائزه (مالیه) ثبت میگردد.

مادهٔ پنجاۀوششم :

انتقال زمین امارت به دوائرومؤسسات

لېږدونــه دکرنــې اومــالدارۍ وزارت دځمکوالۍ دچارودتنظیم دعمومې ادارې اوداستفاده کوونکې ادارې ترمنځ دتړون له مخې دامیرالمؤمنین له منظورۍ وروسته صورت مومي .

اووه پنځوسمه ماده :

هغه شخص چې په ځوځایونوکې دځمکې ټوټې ولري ،کولای شي هغه پــه یــوه ولسوالۍ یاولایت کې چې ځمکه پکــې لري،دځمکې ددرجې اوبیې له په پام کــې نیولوسره دامارت له ځمکې سره تبادلــه کړي ،په دې شرط چې هغه ځمکه چــې ورســره تبادلــه کــېږي،ترکرونــدې (فارم)اوپروژې لاندې نه وي .

اته پنځوسمه ماده :

داشخاصوترمنځ دځمکې تبادله دشــرعي سندله مخې ددواړوخواووپه موافقه دعقار دځای دمحکمې په واسطه دځمکوالــۍ د چارودتنظیم دادارې له لارې صورت مومي.

نهه پنځوسمه ماده :

دکرنې دهغوځمکوپه هکله چــې پخــوا د کمونستانوپه وخت کې د۱۳۵۷کــال

امارتی بــه اســاس مقاولــه بــین ادارۀ عمومی تنظیــم امورزمینــداری وزارت زراعت ومالداری وادارۀ استفاده کننــده بعــد ازمنظــوری امــیرالمؤمنین صورت میگیرد.

مادۀ پنجاه وهفتم :

شخصیکه درچندمحل دارای قطعات زمین باشد،میتواندآنرادریک ولسوالی یـاولایت که درآن زمین داردبادرنظر داشت درجـه وقیمت زمین،بــازمین امــارت تبادلــه نماید،مشروط براینکه زمینی که بــه آن تبادلــه صــورت مــیگیرد،تحــت مزرعــه (فــارم)وپــروژه قرارنداشــته باشد.

مادۀ پنجاه و هشتم:

تبادلۀ زمین بین اشخاص برویــت ســند شرعی به توافق جانبین واز طریــق ادارۀ تنظیم امور زمینداری توســط محکمـۀ محل عقار صورت میگیرد.

مادۀ پنجاه و نهم :

درمورد زمین های زراعتی که قبــلاً در زمان کمونست ها بعد از هفت ثور سال

دثورد مياشتی لـــه (٧)نـــېټي څخـــه د ١٣٧١كال دثور تر (٨)نېټي پورې پـــه كوپراتيفونو، غير امـــارتي مؤسســـو او شركتونو وېشل شوي دي، لاندې اجرآآت ترسره كېږي:

١- په داسې حال كـــې چـــې نومـــوړي كوپراتيفونه او مؤسسې فعال وې، دوېشل شوي ځمكې بيه دې دورځې په نـــرخ د پنځوكلونو په قسط سره امارت ته وركړي.

٢-كه چيرې دغه كوپراتيفونه اومؤسســـې غير فعال وي ،ځمكه دتاوان له جبـــيره كولو پرته ببرته دامارت له خوا اخيســـتل كېږي.

شپيتمه ماده :

هغه لېږدونې چې ددې قانون دحكمونو پر خلاف وشي، اعتبار نه لري.

اتم فصل

دځمكې اجاره

يوشپېتمه ماده :

(١)امارتي او شخصي ځمكـــې داجـــاره وركوونكـــې او اجـــاره اخيســـتونكې

١٣٥٧الی ٨ثـــور ســـال ١٣٧١بـــه كوپراتيف هـــا، مؤسســـات وشـــركت های غير امارتی توزيع گرديـــده اســـت اجـــراآت ذيـــل بعمـــل ميآيد:

١-درحاليكه كوپراتيف ها ومؤسســـات مذكور فعال باشند ،قيمت زمين توزيـــع شده را به نـــرخ روز بـــه قســـط پنج سال به امارت بپردازند.

٢-درصورتيكه كوپراتيف ها ومؤسســـات نامبرده غير فعال باشند، زمـــين بـــدون جبران خساره دو باره از طرف امـــارت اخذ ميگردد.

مادهٔ شصتم :

انتقالاتيكه خلاف احكـــام ايـــن قـــانون صورت گيرد، فاقد اعتبار است .

فصل هشتم

اجارهٔ زمين

مادهٔ شصت ويكم :

(١) زمين امارتي وشخصی به اساس عقـــد تحريری بـــين اجـــاره دهنـــده واجـــاره

ترمنځ دليکلي عقدپه اساس دشريعت دحکمونو مطابق په اجاره ورکول کېږي.

۲-دعقددواړه لوری باید شرعي، حقوقي اهليت اوقانوني واک ولري .

**دوه شپېتمه ماده :**

اجاره خط دعقد کوونکواوشاهدانوپه تعرفې برسېره دغه لاندې مطالب لري:

۱-تراجارې لاندې ځمکې دټوټې ياټوټو دمشخصاتو ليکنه.

۲-دعقد کوونکو لو رودشرعي مکلفيتونو څرګندول.

۳-دنبات دډول ټاکنه او دکرکېلې څرنګوالی.

۴-دقانون دحکمونو مطابق دورکړې له مودې او څرنګوالي سره داجارې دمودې او حق الاجارې داندازې تثبيتول.

۵- دعقد دفسخه کولو حالات.

**درې شپېتمه ماده :**

اجاره اخيستونکی (مستأجر)دغه لاندې مکلفيتونه لري :

ګيرنده طبق احکام شريعت به اجاره داده ميشود.

۲-طرفين عقد بايد داراى اهليت شرعی حقوقی وصلاحيت قانونی باشند.

**مادۀ شصت ودوم :**

اجاره خط علاوه برتعرفۀ متعاقدين وشهود حاوى مطالب ذيل ميباشد:

۱-ذکر مشخصات قطعه يا قطعات زمين تحت اجاره.

۲-توضيح مکلفيت های شرعی طرفين عقد.

۳-تعيين نوع نبات وصورت کشت وزراعت.

۴-تثبيت مدت اجاره، اندازۀ حق الاجاره با موعد وطرز تأديۀ آن طبق احکام قانون.

۵_حالات فسخ عقد.

**مادۀ شصت و سوم :**

اجاره ګيرنده (مستأجر)داراى مکلفيت های ذيل ميباشد:

۱-تراجــارې لانــدې ځمکـــې دخاورې،داوبولګولود شبکې،تجهيزاتو او تآسيساتو ساتنه چې دتراجــارې لانـدې ځمکې ګټې په هغوپورې تړلې وي.

۲-تراجارې لاندې ځمکـــې دارونــدې ويالې،کاريزوچينې او څاه پاکول.

۳-داجارې له جائزه شرطونوسره سم دځمکې کرکېله.

۴-له عقد سره سم اجاره ورکوونکې تــه حق الاجاره ورکول کېږي.

-که چېرې اجاره اخيستونکی (مستـــأجر) وغواړي دجنس دحق الاجارې پــر ځای نغدې پيسې ورکړي،ددواړوخــــواووپــه موافقه دورځې له نرخ سره سم دجنـــس بيه له ځنډ پرته ورکوي.

۵-له شريعت سره سم تراجارې لانــدې ځمکې دتجهيزاتو او ملحقـــاتو دجزئــې ترميماتو ترسره کول.

٦-په هغه صورت کې چې داستهلاک لــه مجاز معيارنه ئې شرعاً تجـــاوزکړی وي اجاره ورکونکې تــــه درسيدلی زيـــان جبيره کول.

۱-حفاظهٔ خاک،شبکهٔ آبياری،تجـــهيزات و تآسيسات داخل زمــين کــه منـــافع زمـــين تحـــت اجـــاره بــــه آن مربوط باشد.

۲-پاک کاری جوی،کاريز ،چشمه وچــاه مربوط به زمين تحت اجاره.

۳-کشت وزراعت زمين مطابق به شــرائط جائزاجاره.

۴-پرداخت حق الاجاره به اجاره دهنـــده مطابق عقد صورت ميگيرد.

-اگر اجاره دهنـــده(مســـتأجر)بخواهـــد عوض حـــق الاجـــارهٔ جنــس ،پـــول نقد تاديه کند . به موافقهٔ جانبين مطـــابق نرخ روز قيمـــت جنــس را بلاتآخـــير می پردازد.

۵-انجام ترميمـــات جزئــی تجـــهيزات وملحقات زمين تحت اجـــاره مطـــابق شريعت .

٦-پرداخت جبران خسارهٔ وارده به اجاره دهنده در صورتيکـــه ازمعيـــار مجـــاز اســـتهلاک شـــرعاً تجـــاوز کرده باشد.

۷-نور هغه مکلفیتونه چې په قانون کې نې له شریعت سره سم اټکل شوی وي.

**څلور شپېتمه ماده :**

اجاره اخیستونکی(مستأجر) مکلف دی،دهغو اشخاصودهرراز لاس وهنې په هکله چې داجارې مزاحم شي،اجاره ورکوونکي ته خبر ورکړي.

**پنځه شپېتمه ماده :**

اجاره اخیستونکی نه شي کولی تر اجارې لاندې ځمکې داوبوله حق څخه له عقد نه دبهر مقصد و نو لپاره استفاده وکړي.

**شپږشپېتمه ماده :**

اجاره اخیستونکیءتر اجارې لاندې ځمکې په لېږدونې اویا په تضمین ورکولو لاس نه شي پورې کولی.

**اووه شپېتمه ماده :**

که چېرې اجاره اخیستونکي تر اجارې لاندې ځمکه کې اصلاحات کړي وي لګښت ئې په هغه صورت کې دورکولو وړدی،چې اجاره ورکوونکي په لیکلي ډول دهغه په ورکولو موافقه کړې وي.

۷-سائر مکلفیت هائیکه در قانون طبق شریعت پیشبیني گردیده باشد.

**مادهٔ شصت و چهارم :**

اجاره گیرنده (مستأجر)مکلف است از هر نوع مداخلهٔ اشخاصیکه مزاحم اجاره گردد ،به اجاره دهنده اطلاع دهد.

**مادهٔ شصت و پنجم :**

اجاره گیرنده نمیتواند از حقآبهٔ زمین تحت اجاره برای مقاصد خارج از عقد استفاده نماید.

**مادهٔ شصت و ششم:**

اجاره گیرنده به انتقال و یا تضمین زمین تحت اجاره مبادرت ورزیده نمیتواند.

**مادهٔ شصت و هفتم:**

هرگاه اجاره گیرنده درزمین تحت اجاره اصلاحات آورده باشد،مصارف آن در صورتی به وی قابل پرداخت میباشد که اجاره دهنده به تأدیهٔ آن طور تحریری موافقه نموده باشد.

**اته شپېتمه ماده :**

اجاره ورکوونکی(مؤجر)لاندې مکلفیتونه لري :

۱-په ټاکلي وخت اجاره اخیستونکي ته په اجاره خط کې له ټولو لیکل شویو تجهیزاتو اوملحقاتو سره دتراجارې لاندې ځمکې سپارل.

**۲-دحق الاجارې دسپارلو په هکله اجاره اخیستونکي ته دلیکلي رسید ورکول.**

۳-دسیمې له عرف سره سم دځمکې دتأسیساتو اودمحلقاتودبشپړاو مهمو ترمیماتوترسره کول.

**۴-نور هغه مکلفیتونه چې په قانون کې له شریعت سره سم اټکل شوي دي.**

**نهه شپېتمه ماده :**

(۱)ددې لپاره چې اجاره اخیستونکي (مستأ جر) پرامارتي عقاربانديې دملکیت دعوی ونکړي،امارتي اداري په خاصه توګه دکرنې اومالداری وزارت نشي کولای ځمکه له دریو کلونو او سرای یا دوکان له یوه کال څخه زیات په اجاره یاکرایه ورکړي.

**(۲)اجاره ورکوونکی نه شي کولی تر اجارې لاندې ځمکه داجارې د مودې تر پای ته رسېدواویا دهغې ترفسخه کېدوپورې بل شخص ته په اجاره ورکړي.**

(۳)داجارې فسخ دشریعت له حکمونو سره سم صورت مومي.

**مادهٔ شصت و هشتم :**

اجاره دهنده(مؤجر)حائزمکلفیت های آتی میباشد:

۱-تسلیم زمین تحت اجاره باتمام تجهیزات وملحقات مندرج اجاره خط در وقت معینهٔ آن به اجاره گیرنده .

**۲-اعطای رسید تحریری به اجاره گیرنده از تسلیمی حق الاجاره .**

۳-انجام ترمیمات کلی ومهم تأسیسات و محلقات زمین مطابق به عرف محل.

**۴-سائر مکلفیت های که در قانون طبق شریعت پیش بینی گردیده است.**

**مادهٔ شصت و نهم :**

(۱)به منظوراینکه اجاره گیرنده (مستأجر)بالای عقارامارتی تحت اجاره دعوای ملکیت نه نماید، ادارات امارتي به طورخاص وزارت زراعت ومالداري نمیتواند زمین رابیشترازسه سال وسرای یادکان رابیشترازیک سال به اجاره یا کرایه بدهد.

**(۲)اجاره دهنده نمیتواند زمین تحت اجاره را تاختم میعاد اجاره یا فسخ آن به شخص دیگری به اجاره بدهد.**

(۳)فسخ اجاره مطابق احکام شریعت صورت مي گیرد.

که شرعي جوازنه وي،هيڅ اداره نه شي کولی اجاره فسخ کړي .

**اويايمه ماده :**

که چېرې ځمکه، داوبولګولو تأسيسات ملحقات، غير منقول تجهيزات اووني دطبيعي آفتو نو او ناځاپي پيښو له امله زيانمنې ياله منځه ولاړې شي، اجاره اخيستونکی ،اجاره ورکوونکي ته دتاوان په ورکولو مکلف نه دی.

**يو اويايمه ماده :**

اجاره اخيستونکی کولی شي په يوه له دغو لاندې حالاتوکې اجاره فسخه کړي :

۱-دناروغۍ يا دهغه دکورنۍ دشمېر کمښت.

۲-ددا سې ناځاپي پيښو رامنځته کېدل چې اجاره اخيستونکی له سيمې نه وتلوته اړکړي يا تراجارې لاندې ځمکه له کرکېلې نه وباسي.

۳-داسلامي امارت له خوا په ده باندې دځمکې وېشل.

۴-په اجاره خط کې درج شوي اټکلي حالات.

۵-نور هغه حالتونه چې په قانون اوشريعت کې اټکل شويدي.

**دوه اويايمه ماده :**

که چېرې اجاره اخيستونکی وغواړي ـــ

هرگاه جوازشرعی نباشد ،هيچ اداره نميتواند اجاره را فسخ نمايد.

**مادهٔ هفتادم :**

هر گاه زمين ،تأسيسات آبياری ملحقات تجهيزات غير منقول واشجاربه اثر آفات طبيعی وحوادث غيرمترقبه خساره مند شود یااز بين برود،اجاره گيرنده(مستأجر)بهپرداخت جبران خساره به اجاره دهنده مکلف نمي باشد.

**مادهٔ هفتادويکم :**

اجاره گيرنده ميتواند دريکی از حالات ذيل اجاره را فسخ نمايد:

۱-مريضی ياکم شدن تعداد فاميلش.

۲-وقوع حوادث غير مترقبه ايکه اجاره گيرنده را مجبور به ترک محل نمايد يا زمين تحت اجاره را غير قابل زرع سازد.

۳-توزيع زمين به وی از طرف امارت اسلامی .

۴-حالات مندرج پيشبينی شدهٔ اجاره خط .

سائر حالاتيکه در قانون وشريعت پيشبينی گرديده است.

**مادهٔ هفتادودوم :**

هر گاه اجاره گيرنده بخواهد قبل از ختم

داجارې دمودې له پای ته رسېدو مخکې اجاره فسخه کړي،مکلف دی چې دموضوع په هکله لږترلږه درې میاشتې دمخه دځمکوالی دچارو د تنظیم څانگې اواجاره ورکوونکي ته خبر ورکړي.

**درې اویایمه ماده :**

که چېرې اجاره اخیستونکی مړشي اویا غائب شي،دکورنی غړي ئې کولی شي چېدشریعت دحکمونومطابق اجارې ته دوام ورکړي.

**څلور اویایمه ماده :**

د ځمکې د اجارې موده ددې قانون د (٦٩)مادې دحکم له په پام کې نیولوسره د دواړوخواووپه موافقی پورې اړه لري.

**پنځه اویایمه ماده :**

(۱)د امارتي ځمکي اجاره دمزائدې په مقصد دولایت د ځمکوالی د چارو دتنظیم داداري له لارې دسیمه ایزې راډیواوجرائدو اودډله ایزواطلاعاتو دوسائلو په واسطه عامه خلکوته خبر ورکول کېږي.

(۲)اعلان دځمکې دمشخصاتو،دځمکې د اجارې دمودې،اودغوښتنلیک دورکولو وخت اوځای په شان محتویات لري.

میعاد اجاره ،اجاره را فسخ نماید مکلف است موضوع را حداقل سه ماه قبل به اطلاع شعبهٔ تنظیم امور زمینداری واجاره دهنده برساند .

**مادهٔ هفتادو سوم :**

هر گاه اجاره گیرنده فوت نماید یا غائب گردد، خانوادهٔ وی میتواندطبق احکام شریعت اجاره را ادامه دهند .

**مادهٔ هفتادو چهارم :**

مدت اجارهٔ زمین،بانظرداشت حکم مادهٔ (٦٩)این قانون مربوط به توافق جانبین میباشد.

**مادهٔ هفتادو پنجم :**

(۱) اجارهٔ زمین امارتیغرض مزائده ،از طریق ادارهٔ تنظیم امور زمینداری ولایت،ذریعهٔ رادیو و جرائد ووسائل اطلاعات جمعی محل به آگاهی عامه رسانیده میشود.

(۲) اعلان دارای محتویاتی مانند مشخصات زمین،مدت اجارهٔ زمین ، محل ووقت ارائهٔ درخواست میباشد.

(۳) اعلان د ځمکې د اجارې له لاسليک اودزراعتی بوټو د کرلو له نېټې نه دوه مياشتې مخکې دډله ايزو اطلاعاتو د وسائلو له لارې خپرېږي.

**شپږاويايمه ماده :**

د امارتي ځمکې د حق الاجارې د اندازې په ټاکنه کې ، د پولې د شريکانو د ځمکې د حاصلاتو اندازه او په سيمه کې د ځمکې د حاصلاتو معيارپه نظر کې نيول کېږی.

**اووه اويايمه ماده :**

حقيقي او حکمي اشخاصوته امارتي ځمکې د مزائدې او داوطلبی دغونډې د جوړېدو له مخې ورکول کېږي .دغونډې دکار د پرمخ بيولو په مقصد د ولايت په مرکز ياولسوالی کې د ولايت داستازي په مشرۍ د کرنې اواو بولګولو ، مالیې دځمکې د نقشې او ثبت (کدستر) او د ځمکوالی د چارو د تنظيم د ادارو د استازو په ګډون هيئت (کميسيون ) ټاکل کېږي. داجارې د داوطلبی نتيجه دوالي په موافقه د منظورۍ لپاره د ځمکوالی

(۳) نشر اعلان دو ماه قبل از تاريخ عقد اجارهٔ زمين و کشت نباتات زراعتی از طريق وسائل اطلاعات جمعی صورت ميگيرد.

**مادهٔ هفتادو ششم :**

در تعيين اندازهٔ حق الاجارهٔ زمين امارتي اندازهٔ حاصلات زمين پلوان شريک ومعيار حاصلات زمين درمحل ،مدنظر گرفته ميشود.

**مادهٔ هفتادو هفتم :**

اجارهٔ زمين امارتی ، به اشخاص حقيقی و حکمی به اساس مزائده و تدوير مجلس داوطلبی صورت ميگيرد .غرض پيشبرد جلسه هيئت (کميسيون) تحت رياست نمايندهٔ ولايت ،مرکب از نمايندهگان ادارات زراعت وآبياری ،ماليه ،رياست نقشه و ثبت زمين (کدستر)وتنظيم امور زمينداری درمرکز ولايت يا ولسوالیتعيين ميگردد.نتيجهٔ داوطلبی اجاره به موافقهٔ والیجهت منظوری

دچارو د تنظيم د عمومی اداري لـه لاري
د وزارت مقام ته وړاندي کیږي.

**اته اویایمه ماده :**

د امارتي ځمکـي اجـاره اخيسـتونکی (مستأجر) مکلف دی چي دحق الاجـارې دورکولوپه هکله په لاندي ډول تضمين ورکړي:

۱- که چیرې تراجارې لاندي ځمکـه د لومړۍ درجي معادل پنځه جريبه او يا لـه هغې نه کمه وي ،يوتن جايداد لرونکـی ضامن اوکه چیرې د لومړۍ درجي معادل له پنځوجريبونه زياته تر شلو جريبو پورې وي، دوه تنه جايداد لرونکي ضامنان.

۲- دلومړۍ درجي معادل د شلو جريبونه په زياته اجاره کې داجارې د بدل معادل اوياله هغه نه زيات ، شرعي ضمانت خط جوړيږي.

**نهه اویایمه ماده :**

که چیرې دکرنې آفتو نه تراجارې لانـدې امارتي ځمکې ته زيان ورسـوي،اجـاره اخيستونکی مکلف د ی د موضوع پـه هکله دولایت دځمکوالی دچـارودتنظيم اداري تـه خـبر ورکـړي

ازطريـق ادارۀ عمومـی تنظيـم امـور زمینداری به مقام وزارت ارائه میشود.

**مادۀ هفتادو هشتم :**

اجاره گیرنده (مستأجر) زمـين امـارتی مکلـف اسـت درمـورد پرداخـت حق الاجـاره قـرار ذيـل تضمـين بدهـد :

۱- اگر زمین تحت الاجاره پنج جریـب معـادل درجـه اول ویـا کمـتر از آن باشـد، یکنفـر ضـامن باجـايداد واگر بـالاتر از پـنج جریـب معـادل درجـه او ل باشـد دونفر ضامن باجایداد.

۲- دراجارۀ بیشتر از بیست جریب زمـین معادل درجه او ل ، ضمانت خط شرعی معادل بدل اجاره و یا بشتر از آن ترتیـب میشود.

**مادۀ هفتادو نهم :**

هر گاه آفات زراعتی به زمـین امـارتی تحت اجاره خساره وارد نماید ،اجـاره گیرنده مکلف است موضوع را بـه ادارۀ تنظیم امور زمینداری ولایت اطلاع بدهد انـدازۀ خسـارۀ وارده توسـط

درسېدلي تاوان اندازه په سيمه کي دکرني دځمکوالی دچار و دتنظيم،اوبولګولو او دمالیي داداروداستازوپه ګډون د هيئت له خوا تثبيتېږي،درسيدلي زيان د تثبيتولو په هکله دهيئت تجويز دوالي له تائيد او دوزارت دمقام له منظورۍ وروسته نهائي دی.

اتيايمه ماده :

که چېرې امارت تر اجارې لاندې ځمکې د ټولې يا يوې برخې اخيستلو ته عامه ضرورت يا حاجت پيدا کړي ، په دې هکله لاندې اجراآت کېږي:

۱- که چېرې تر اجارې لاندې ځمکې د اخيستلو عمل د حاصلاتو له راټولو لو وروسته وي، قرار داد فسخه کېږي او اجاره اخيستونکی مکلف دی له عقد سره سم د اجارې حق ورکړي.

۲- که چېرې تراجارې لاندې ځمکې اخيستل دحاصلاتوله ټولولومخکې وي او اجاره اخيستونکي په ځمکه کې لګښت کړی‌وي،لګښت ئې دسيمې له عرف سره سم اجاره اخيستونکي ته ورکول کېږي اوعقدفسخه کېږي.

هيئت متشکل از نمايندهگان ادارات زراعت ، تنظيم امور زمينداری ، آبياری وماليه درمحل تثبيت ميشود ، تجويز هيئت در مورد خسارهٔ وارده ،بعد ازتائيد والی ومنظوری مقام وزارت نهائي ميباشد.

مادهٔ هشتادم :

هر گاه امارت به اخذ کامل و يا قسمتی از زمين تحت اجاره ضرورت يا حاجت عامه پيدا کند ، درمورد ذيلاً اجراآت ميگردد:

۱- درصورتيکه عمل اخذزمين تحت اجاره، بعد از جمع آوری حاصل باشد قرارداد فسخ واجاره گيرنده مکلف است ،حق الاجاره را مطابق عقد بپردازد .

۲- درصورتيکه اخذ زمين تحت اجاره قبل از جمع آوری حاصل باشد واجاره گيرنده در زمين مصارف نموده باشد مصارف آن طبق عرف محل به اجاره گيرنده پرداخته شده،عقد فسخ ميگردد.

۳- که چېرې د ځمکې يوه برخه د حاصلاتو له راټولولو مخکې اوبله برخه ئې د حاصلاتو له راټولولو وروسته مسترده شي ، د حق الاجارې اندازه د مستردې شوې ځمکې د اندازې په پرتله ټاکل کېږي او دپاتې ځمکې په هکله د دواړو خواوو د موافقې په صورت کې عقد پخپل حال پاتې کېږي.

**يو اتيايمه ماده :**

دغير امارتي ځمکوداجارې سند د پړاوونو له تېرولو وروسته د سيمې دځمکوالۍ د چارود تنظيم د ادارې داجارې په دفتر کې ثبتيږي او دامارتي ځمکو داجارې دسند يوه مصدقه کاپي د ځمکوالۍ د چارو دتنظيم دعمومي ادارې مرکزته لېږل کېږي.

**دوه اتيايمه ماده :**

دغير امارتي ځمکې په اجاره کې له اجاره ورکوونکي نه دمساحت داصل له يو جريب نه پنځه زره افغانۍ د ثبتولو دپاڼې بيه اخيستل کېږي.

**دري اتيايمه ماده :**

دځمکې په اجارې پورې اړوندې شخړې که چېرې دځمکوالۍ دچارودتنظيم دسيمه ايزې ادارې په خانګوکې حل نشي ،محکمې ته ورالندې کېږي.

۳- درصورتيکه يک قسمت زمين قبل از جمع آوری حاصل و قسمت ديگر بعد از آن مسترد گردد ،اندازهٔ حق الاجاره متناسب به اندازهٔ زمين مسترد شده ، تعيين گرديده و درمورد باقيماندهٔ زمين در صورت موافقهٔ جانبين عقد به حال خود باقی ميماند.

**مادهٔ هشتادو يکم :**

سند اجارهٔ زمين های غير امارتی، بعد از طی مراحل دردفتر اجارهٔ ادارهٔ تنظيم امور زمينداری محل ثبت ميشود ويک نقل مصدقهٔ سند اجارهٔ زمين های امارتی به مرکز ادارهٔ عمومی تنظيم امورزمينداری فرستاده ميشود.

**مادهٔ هشتادو دوم :**

در اجارهٔ زمين غير امارتی ، از اجاره دهنده فی جريب اصل مساحت مبلغ پنج (۵) هزار افغانی قيمت ورق الثبت اخذ ميگردد.

**ماده هشتادوسوم :**

منازعات مربوط به اجاره زمين درصورتيکه درشعبات محلی ادارات تنظيم امور زمينداری حل شده نتواند، به محکمه راجع ميشود.

## نهم فصل

## دوقفي اومرعیٰ ځمکې ساحه

**څلورا تیایمه ماده:**

(۱)مرعیٰ دعامه حقوقوله جملــــې څخـــه ګڼل کیږي.شخص او امارت نه شي کولای په مرعـــیٰ ځمکه کې مالکانه تصرفات وکړي،مګرداچــــې شریعت بل ډول حکم کړی وي .

(۲)مرعیٰ دکلـــــي داوســـیدونکودعامه اړتیاو(دمالونودڅرځای،مقـــبرې،درمنـــد اونورو)په مقصد خالي پاتې کیږي .

**پنځه اتیا یمه ماده :**

که چیرې یوشخص په مرعیٰ کې مالکانه تصرفـــات وکړي اوتصرف ئې ډیرپخوانی هم وي نوکه د دغـــه ځمکې مرعیٰ والی شرعاً ثابت شي،دشخص تصرفات بند اومرعیٰ ئې له ملکیت څخه ایستل کیږي.

**شپږ اتیا یمه ماده :**

(۱)کوم مال یا ځمکه چې وقـــف شـــي دمالک له ملکیت اوتصرف څخه وځي.

(۲)دوقفي مال یاځمکې خرڅول ،هبه کول،په تملیک ورکول یا په میراث وړل جواز نه لري.

(۳)وقف شوی ملکیت چې دهر مقصد لپـــاره وقف شوی وي ،ګټه ئې هم دهم دغه مقصـــــد لپاره په مصرف رسیږي .

## فصل نهم

## ساحهٔ زمین های مرعیٰ ووقفی

**مادهٔ هشتادوچهارم :**

(۱)مرعیٰ ازجملهٔ حقوق عامه شمرده میشـــود، شخص وامارت نمی تواند درزمین مرعیٰ تصرفات مالکانه نماید مګراینکه شریعت طوری دیـــګری حکم نموده باشد.

(۲)مرعیٰ به مقصد احتیاجـــــات عامـــه (چراګاهٔ مواشی،مقبره،خرمن وامثال آن) باشنده ګان قریه خالی ګذاشته میشود.

**مادهٔ هشتاد وپنجم :**

درصورتیکه یک شخص درمرعیٰ تصرفات مالکانه نماید وتصرف وی بسیار قبلي هم باشد، هرګاه مرعیٰ بودن این زمین شرعاً ثابت ګردد،تصرفات شخص قطع ومرعیٰ ازملکیت وی خارج میګردد .

**مادهٔ هشتاد وششم :**

(۱)مال یازمینیکه وقف ګردد ازملکیـــت وتصرف مالک خارج میګردد.

(۲)فروختن،هبه نمودن، به تملیک دادن یابـــه میراث بردن مال یازمین وقفی جواز نه دارد.

(۳)ملکیت وقف شده ایکه جـــهت هرمقصـــد وقف ګردیده باشد، مفاد آن نیزبه همان مقصـــد به مصرف میرسد .

## لسم فصل

### دشاړواووچو(بکراوبائرو( موات)ځمکوویش

**اووه اتیایمه ماده :**

(۱)هیڅ شخص نه شي کولای چې بکراوبائر(موات)ځمکې ترخپل مالکانه تصرف لاندې راوړي مګرپه اذن دسلطان (امیرالمؤمنین).

(۲)که چیرې شخص په مواتواملاکو(ځمکو)کې په خپل سرتصرف کړی وي اودامیرالمؤمنین یا دهغه مأذون اذن نه وي موجود،په محض خود سرانه تصرف سره داډول املاک(ځمکه) شخصي نه ګڼل کیږي اذن په مالکانه تصرف سره صرف دسلطان (امیرالمؤمنین)له واک ځخه دی .

(۳)شاړګاووچې(بکراوبائرې(موات))ځمکې،د مزائدې‌په ډول دامیرالمؤمنین له منظورۍوروسته دکرنې اومالدارۍوزارت دځمکوالۍدچارودتنظیم د عمومي ادارې له خوا په اشخاصو،دکرنې اومالدارۍ په مؤسسواوکورنیوخصوصي اومختلطوشرکتونو باندې وېشل کېږي.

(۴) شاړه اووچه(بکراوبائر(موات))ځمکه دعادلانه بیې په بدل کې دمنظورۍ دپړاوونوله تېرولووروسته دهغه قراردادله مخې چې شاړه او وچه(بکراوبائر(موات))ځمکې‌دجوړولواو آبادولو په مقصد دځمکوالۍ دچارودتنظیم د عمومي ادارې اوپېرودونکي ترمنځ لاسلیک کېږي د استفاده کوونکي په واک کې ورکول کېږي البته سابق متصرف داولیت حق لري.

## فصل دهم

### توزیع زمین های بکر وبائر(موات)

**مادهٔ هشتادو هفتم :**

(۱)هیچ شخص نمی تواند زمین های بکر وبائر(موات)راتحت تصرف مالکانهٔ خود قراردهد مگرباذن سلطان (امیرالمؤمنین) .

(۲)هرگاه شخص دراملاک (زمین)موات طورخودسرانه تصرف نموده باشدواذن امیرالمؤمنین یامأذون وی موجودنباشد به محض تصرف خودسرانه این نوع املاک (زمین) شخصي شمره نمي شود اذن به تصرف مالکانه صرف صلاحیت سلطان (امیرالمؤمنین) میباشد .

(۳)توزیع زمین های بکروبائر(موات)به اساس مزائده به اشخاص ،مؤسسات زراعتی و مالداری شرکت های خصوصی ومختلط داخلی، بعد ازمنظوری امیرالمؤمنین توسط ادارهٔ عمومی تنظیم امور زمینداری وزارت زراعت و مالداری صورت میگیرد.

(۴)زمین بکروبائر(موات)در بدل قیمت عادلانه بعد از طی مراحل منظوری به اساس قرارداد یکه بین ادارهٔ عمومی تنظیم امور زمینداری و خریداربه منظور عمران وآبادساختن زمین بکروبائر(موات)عقد میگردد بدسترس استفاده کننده گذاشته میشود البته به متصرف قبلی حق اولیت داده می شود.

(۵)دشاړې اووچې(بکراوبائر(موات))ځمکې بيه دهغه هيئت(کميسون)په واسطه چې په دې قانون کې دځمکې دځېرنې اوسپارلودهيئت (کميسون) په نامه يادېږي او په سيمه کې دکرنې دځمکوالی دچارودتنظيم ،اوبولګولو،کانواو صنائعو،مالیې دادارواودځمکې دنقشې اوثبت رياست(کدستر) استازي پکې دي،تثبيتېږي. که چېرې د ځمکوالی دچارو د تنظيم عمومي اداره تاکل شوې بيه غير عادلانه وبولي،نوي نظرپکې کېدای شي،تثبيت شوې بيه د وزيرانوشورا په تصويب اودامير المؤمنين په منظورۍ رسول کېږي.

(٦)دشاړې اووچې(بکراوبائر(موات))ځمکې بيه دپنځوکلونوپه موده کې دوېش له نېټې نه په پنځومساويانه قسطونودحصو ل وړده.

**اته اتيايمه ماده :**

(۱)هغه ځمکې چې دوېشلو په مقصد ټاکل کېږي بايد د امارت خالص ملکيت ياشاړې اووچې(بکراوبائر(موات))وي او ترامارتي پروژو ښاري ماستر پلان،ځنګلونو،څرخايونو او کانونو لاندې نه وي،مرعی ځمکې اوشخصي املاک ويشل کيدای نه شي.

(۲)ترويشلومخکې دشاړواووچو(بکراوبائر (مواتو))ځمکوارزيابي کول،ددې قانون د(۸۷) مادې په دريمه فقره کې د درج شوي استازيو په ګډون دفني هيئت په واسطه د لاندې هدفونو دعملي کولوپه مقصد ترسره کېږي:

(۵)قيمت زمين بکروبائر(موات)توسط هيئت (کميسونی) که دراين قانون بنام هيئت (کميسون ) ارزيابی و تسليم دهی زمين ياد ميشودومتشکل انداز نماينده گان ادارات زراعتی،تنظيم امورزمينداری،آبياری،معادن وصنائع ،ماليه وریاست نقشه و ثبت زمين (کدستر)درمحل تثبيت ميگردددرصورتيکه ادارهٔ عمومی تنظيم امور زمينداری قيمت تعين شده را غيرعادلانه تلقی نمايد درآن تجديد نظرشده ميتواندٌقيمت تثبيت شده به تائيدشورای وزيران ومنظوری امير المؤمنين رسانيده ميشود.

(٦)قيمت زمين بکر وبائر(موات)درمدت پنج سال ازتاريخ توزيع زمين به پنج قسط مساويانه قابل حصول می باشد .

**مادهٔ هشتادو هشتم :**

(۱) زمين های که به منظور توزيع تعيين ميشود،بايد ملکيت خالص امارتي يابکروبائر(موات)بوده وتحت پروژه های امارتي وماسترپلان شهری ، جنگلات ، علفچرها و معادن قرارنداشته باشدزمين های مرعیٰ واملاک شخصي توزيع شده نمي تواند.

(۲ )ارزيابي زمين های بکر(موات)وبائر قبل از توزيع، توسط هيئت فني مرکب از نماينده گان مندرج فقره سوم ماده(۸۷ )اين قانون به منظورتحقق اهداف ذيل صورت ميگيرد:

۱-دکرنې او آبادۍ دوړتيالرل .

۲-دنظرورساحې مطالعات(سروې)ترسره کول.

۳- د اوبو ( آبي ) سر چينو پېژندنه او تثبيتول اودترځمکې لاندې اودځمکې پرمخ اوبودشته والي اودهغودظرفيت له مخې د ژورې څاه کيندل.

۴- د اوبود حق او دنورو ضروري اړخونوله پلوه دځمکې د آبادولو په خاطرديولود شريکانو دحقوقو رعايتول.

۵_د اړوندې ساحې دخړو بولوپه مقصد د – بندونواوويالوبياجوړول اواحياء کول.

**نهه اتيايمه ماده:**

دکرنې له مېکانيزه وسائلو او ماشين آلاتو نه په استفادې سره دکرنېزوکروندو(فارمونو)اوکورنيو اوبهرنيوخصوصي او مختلطو شرکتونودجوړولو په مقصددشاړې اووچې(بکراوبائر(موات))ځمکې دويشلو دمعيارټاکل په لاندې رديفونو سره صورت مومي:

۱-انفرادی اشخاصوته،ترشلوهکتاروپورې.

۲-دکرنې شرکتونوته،ترسلو هکتاروپورې.

۳-مختلطوشرکتونوته،ترپنځوسووهکتاروپورې.

**نوي يمه ماده :**

(۱)دشاړې اووچې(بکراوبائر(موات))ځمکې غوښتونکی دځمکې دترلاسه کولوغوښتنليک دمرکزاوياولايت دځمکوالي دچارودتنظيم اداري

۱-داشتن قابليت آبادی و زرع.

۲-اجرای مطالعات(سروی)ساحهٔ مطلوب.

۳- تشخيص وتثبيت منابع آبی وحفر چاه عميق ، از نقطه نظر موجود يت آبهای تحت الارضی و سطح الارضی وظرفيت آنها.

۴- رعايت حقوق پلوان شريکان به خاطرآبادی زمين ازناحيه حق آبه و سائر جهات ضروری.

۵-احيای مجددوساختمان سربند هاوجوي هابه منظورتحت آبياري قراردادن ساحهٔ مربوط.

**مادهٔ هشتادو نهم :**

تعين معيارتوزيع زمين بکروبائر(موات)به منظوراحداث مزرعه های(فارم های)زراعتی شرکت های خصوصي و مختلط داخلي با استفاده ازوسائل وماشين آلات ميکا نيزه زراعتی به رديف های ذيل صورت ميگيرد :

۱- به اشخاص انفرادی الیٰ (۲۰) هکتار .

۲-به شرکت های زراعتی الیٰ (۱۰۰)هکتار .

۳-به شرکت های مختلط الیٰ (۵۰۰)هکتار .

**مادهٔ نودم :**

(۱)تقاضاکنندهٔ زمين بکروبائر(موات)درخواست اخذ زمين رابه ادارهٔ تنظيم امورزمينداری مرکزويا ولايات ارائه داشته ،درخواست مذکوردر ظرف

ته وړاندې کوي دغه غوښتنليک ديوې
مياشتې په ترڅ کې د ځمکې د څېړنې او
سپارلو د هيئت (کميسيون) له خوا
تحليل اوڅېړل کېږي او دځمکوالی د
چارو د تنظيم عمومي ادارې ته لېږل
کېږي .دنظر وړ ځمکې د وېشلوپه هکله
د ځمکوالی د چارو دتنظيم د عمومي
ادارې له لارې ددغه قانون دحکمونو
مطابق اجراآت ترسره کېږي.

(۲) دځمکې دآبادولو موده که چېرې
دځمکې اندازه تر پنځو سوو هکتارو
پورې وي له دريو کلونو نه زياتېدای نشي.

(۳) په شاړې او وچې(بکراوباير(موات))
ځمکې باندې دکارديپيل دنيټې دتصديق په
هکله دولايت دځمکوالی دچارو دتنظيم
دادارې له خوا دځمکوالی دچارو د تنظيم
عمومي ادارې ته خبر ورکول کېږي.

**يونوي يمه ماده :**

(۱)په شاړې اووچې(بکراوباير(موات))
ځمکې باندې دکارله پيل کېدو سره جوخت
دځمکوالی دچارو د تنظيم دادارې له خوا
استفاده کوونکي ته مؤقتي سند ورکول

يک ماه از طرف هيئت (کميسيون)
ارزيابی وتسليم دهی زمين مورد تحليل
وارزيابی قرار گرفته وبه ادارۀ
عمومی‌تنظيم امور زمينداری ارسال
ميشود. د رمورد توزيع زمين
مورد نظر از طريق ادارۀ عمومی
تنظيم امور زمينداری مطابق احکام اين
قانون اجراآت
صورت ميگيرد.

(۲) ميعاد آباد ساختن زمين در صورتيکه
اندازۀ ان الی پنجصد (۵۰۰) هکتار باشد
از سه سال بيشتر بوده نميتواند.

(۳) تصديق تاريخ شروع کار بالای زمين
بکروباير(موات)، از طرف ادارۀ تنظيم
امور زمينداری ولايت به ادارۀ عمومی
تنظيم امور زمينداری
اطلاع داده ميشود.

**مادۀ نود ويکم :**

(۱)همزمان باشروع کار بالای زمين
بکروباير(موات)ازطرف ادارۀ تنظيم
امورزمينداری برای استفاده کننده سند
مؤقت ارائه وبعد از پرداخت

کېږي او دځمکې دبيې دټولو قسطونو له ورکولو وروسته شرعي سند ورته ورکول کېږي.

(۲)که چېرې دڅېړنې په نتيجه کې ثابته شي چې استفاده کوونکي له عقد شوي قرار داد سره سم دځمکې دآبادولو کارته دوام نه ورکوي، ځمکه امارت ته مسترد يږي او مؤقت سند باطل شمېرل کېږي.په دې صورت کې يوازې ورکول شوي قسطونه مسترد يږي .

دوه نوي يمه ماده :

استفاده کوونکی دلومړي حاصل د اخيستلوله نېټې نه د پنځوکلونولپاره د جا ئزه عوائد و(ماليې) له ورکولونه معاف دی.

دري نوي يمه ماده :

دکرنې او مالدارۍ،اوبو او برېښنا او دکانو اوصنائعو وزارتونه دکرنې پرمختيا بانک او نورې اړوندې اداري دغه لاندې مکلفيتونه لري :

۱-د زراعتي کروندو (فارمونو) مطالعات (سروې) کول.

کليه اقساط قيمت زمين سند شرعی داده ميشود.

(۲)اگر در نتيجهٔ بررسی ثابت شود که استفاده کننده مطابق قرار داد منعقده بکار آباد سازی زمين دوام نميد هد زمين به امارت مسترد گرديده و سند مؤقت باطل شمرده ميشود. در اينصورت صرف اقساط پرداخته شده مسترد ميگردد.

مادهٔ نودودوم :

استفاده کننده از تاريخ برداشت اولين حاصل برای مدت پنج سال از پرداخت عوائد جائزه (ماليه) معاف ميباشد.

مادهٔ نودوسوم :

وزارت های زراعت و مالداری،آب و برق،معادن وصنائع،بانک انکشاف زراعتی وسائر ادارات ذيربط دارای مکلفيت های ذيل ميباشد:

۱-مطالعات (سروی) مزرعه (فارم) های زراعتی .

۲-دهغو بندونو او ویالو ترمیمول او بیا جوړول چې ساتنه اوڅارنه ئې د امارت په غاړه ده.

۳-داوبو لګولو دشبکو دجوړولو دکروندو دسمون او جوړولو اوپه هغو پورې داړوندو تأسیساتو جوړولو په مقصد له بانکي شرعي مقرراتو سره سم داعتبار(کریدت)ورکول.

۴-دکرنې دماشین آلاتو، کیمیاوي سری دکرنې داصلاح شویو تخمونو د څارویو او الوتونکو او د حیواني او نباتي آفتونو ضد درملود برابرولو حیواني طب (وترنری) او زو تخنیکي خدمتونو د ترسره کولو او دملکیتونو ترمنځ داوبولګولو دسیستمونو داصلاح کولواوترمیمولو په برخه کې مرسته کول.

۵- دکروندې (فارم) د تولیدي او اقتصادي فعالیتونو په هکله د فني او تخنیکي سلامشورو ورکول.

٦- د هبواد په دننه او بهرکې دکرنې د محصولاتو د وړاندې کولو او پلورنې په مقصد دمناسب بازار د پیدا کولوپاره مرسته کول.

۲- ترمیم، احیای مجدد وساختمان سربند ها وجوی هائیکه حفظ ومراقبت آن به دوش امارت مي باشد.

۳- اعطای اعتبار(کریدت)طبق مقررات شرعی بانکی به منظور ساختمان شبکه های آبیاری، اصلاح واحداث مزرعه واعمار تأسیسات مربوط آن.

۴- فراهم آوری تسهیلات درزمینهٔ تهیهٔ ماشین آلات زراعتی،کودکیمیاوی، تخم های اصلاح شدهٔ بذری، نسل های بهتر حیوانات وطیور، ادویهٔ ضد آفات حیوانی ونباتی، خدمات طب حیوانی (وترنری) وزوتخنیکی،اصلاح وترمیم شبکه های آبیاری بین ملکیت ها.

۵- اعطای مشوره های فنی وتخنیکی در بارهٔ فعالیت های تولیدی واقتصادی مزرعه (فارم).

٦- مساعدت در جهت بازاریابی مناسب،غرض عرضه وفروش محصو لات زراعتی در داخل وخارج کشور.

**څلورنوي يمه ماده :**

دوچواوشاړو(دبکراوبائر(موات))ځمکو قرارداد چې د ځمکې مشخصات اود دواړو خواوومکلفيتونه پکې ليکل شوي وي په دريو نقلونو کې برابر يږي.

**پنځه نوي يمه ماده :**

(۱) دوچواوشاړو(دبکراوبائر(موات)) ځمکودجوړولو او آبادولو دکار دوام او پرمختګ د هغه قرارداد له مخې چې دځمکوالی دچارو دتنظيم دعمومي ادارې او د استفاده کوونکي ترمنځ عقد شوی دی د هغه هيئت په وسيله څېړل کېږی چې د ادارې له مرکزنه دکال په هره څلورمه ( ربع ) کې يو ځل اړوند ولايت ته استول کېږی.

(۲) دڅېړني هيئت دخپل کار رپوټ برابروی او يو يو نقل ئي د ولايت مقام او دځمکوالی دچارو د تنظيم عمومي ادارې ته سپاري.

**شپږ نوي يمه ماده :**

دآبادې شوې ځمکې دزراعتي محصولاتو د توليد اندازه دهېواد

**مادهٔ نودوچهارم :**

قرار داد توزيع زمين بکروبائر(موات) که مشخصات زمين ومکلفيت های جانبين در آن درج ميباشد در سه نقل ترتيب ميشود.

**مادهٔ نودوپنجم :**

(۱)بررسی ادامه وپيشرفت کارعمران وآباد ساختن زمين های بکروبائر(موات) به رويت قرار داد يکه بين ادارهٔ عمومی تنظيم امور زمينداری واستفاده کننده عقدگرديده است به وسيلهٔ هيئت که از مرکز اداره درهر ربع سال يکمرتبه به ولايت مربوطه اعزام ميشود صورت ميگيرد.

(۲) هيئت بررسی،گزارش کار خود را ترتيب ويک يک نقل آنرا به مقام ولايت وادارهٔ عمومی تنظيم امور زمينداری می‌سپارد.

**مادهٔ نودوششم :**

حجم توليد محصولات زراعتی زمين آباد شده،درپلان انکشاف

دکلني اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا په پلان کې شاملېږي.

اوه نوي يمه ماده :

استفاده کوونکي لاندې مکلفيتونه لري :

۱- په ټاکلي وخت کې له قرارداد سره سم وچې او شاړې ( بکراو بائر(موات)) ځمکې آبادول اوله هغې نه ګټه اخيستنه.

۲- له ځمکې نه د اغېزمنې ګټې اخيستنې په مقصد د غلودانو، حبوباتو، سبو،ميوو،ميوه لرونکي او بې ميوو ونو د روزنې او کرنې له پرمختللوچال چلندونو سلامشورو او لارښونو نه په زياته اندازه کار اخيستل .

۳-دچرسو، کوکنارواونورومخدره موادودبوټو پرته دموافقې له مخې دشرائطواودکرنې اومالدارۍ وزارت له سپارښتنې سره سم داختصاصي نباتاتو کرل.

اته نوی يمه ماده :

(۱)داشخاصو دملکيت هغه ساحه چې د ويالې اودهغه نهرپه بسترکې چې له هغه نه دوچواوشاړو (بکراوبائر(موات))ځمکو دپروژې دخړوبولو په مقصدکاراخيستل کېږي دخاوندپه موافقه د ورځې په بيه داستفاده کوونکي له خوا پېرودل کېږي.

اقتصادی و اجتماعی سالانهٔ کشور شامل میگردد.

مادهٔ نودو هفتم :

استفاده‌کننده دارای مکلفیتهای ذیل میباشد:

۱- آباد ساختن وبهره برداری از زمین بکروبائر(موات)طبق قرار داد در میعاد معینه.

۲- استفادهٔ اعظمی از مشوره ها ورهنمائی های پیشرفتهٔ زرع غله جات حبوبات،نباتات،سبزیجات،میوه جات، اشجار مثمروغیر مثمربه منظور بهره برداری مؤثراززمین.

۳-به استثنای بوته های چرس، کوکناروسائرنباتات مخدره،زرع نباتات اختصاصی نظربه شرائط و سفارش وزارت زراعت ومالداری به اساس توافق.

مادهٔ نودوهشتم :

ساحهٔ ملکیت اشخاص که در بستر جوی ونهریکه از آن به منظور آبیاری پروژهٔ زمین های بکروبائر(موات)استفاده به عمل می‌آید،به موافقهٔ مالک به نرخ روز از طرف استفاده کننده خریداری میگردد.

(۲) د کرنې له هغو امارتي ځمکو نه استفاده چې دویالې اونهرپه بستر کې واقع شي ،د کرنې او مالدارۍ وزارت له مقرراتو سره سم صورت مومي.

نهه نوي یمه ماده :

(۱) د صالح الزراعت او وچو او شاړو (بکراوبائر(موات)) ځمکو لېږدونه اوپلورنه دشرعي سند له ترلاسه کولو وروسته ترسره کېدای شي.

(۲)- د استفاده کوونکي د مړینې په صورت کې ورثه کولی شي د قانون له حکمونو سره سم د استفاده کوونکي د مکلفیتونو په تر سره کولو سره له ځمکې نه ګټه واخلي اودځمکې شرعي سند ترلاسه کړي.

سلمه ماده :

که چېرې وچواوشاړو (بکراوبائر(موات))ځمکو دآبادولو او جوړولوله امله پیدا شوي اختلافو نه دځمکوالۍ دچارودتنظیم په عمومي اداره کې حل نه کړای شي،محکمې ته وړاندې کېږي.

(۲) استفاده اززمین های زراعتی امارتی که دربستر جوی ونهرواقع گردد،طبق مقررات وزارت زراعت ومالداری صورت میگرد.

مادهٔ نودونهم :

(۱)انتقال وفروش زمین های صالح الزراعهٔ بکروبائر(موات)،بعد از اخذ سند شرعی صورت گرفته میتواند.

(۲)- درصورت فوت استفاده کننده ورثه میتواند طبق احکام این قانون به ا یفای مکلفیت های استفاده کننده از زمین بهربرداری نموده وسند شرعی زمین را بدست بیاورد.

مادهٔ صدم :

حل اختلافات ناشی از عمران وآباد ساختن زمین های بکروبائر(موات)در صورتیکه در ادارهٔ عمومی تنظیم امور زمینداری صورت گرفته نتواند، به محکمه راجع میشود.

یوولسم فصل

جزائی حکمونه

**یوسلویوه یمه ماده :**

که چېرې مالک یا دکورنی غړي اویاد هغه شرعي وکیل له خبریدو وروسته له شرعي عذرپرته په سیمه کې دتصفیې هیئت ته د کار تر پای ته رسېدو پورې دځمکوالۍ د ساحې دتصفیه کولو په مقصد حاضرنه شي، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي او تأدیبېږي.

**یوسلودوه یمه ماده :**

هغه شخص چې دوبش وړځمکې په ټوټې پورې داوبولګولو اړوند تأسیسات یا ودانۍ اوتجهیزات په قصدي ډول ویجاړکړي، امارت ته د رسېدلي تاوان دجبیرې په ورکولو برسیره تر عدلي څارنې لاندې نیول کېږي.

**یوسلودریمه ماده :**

هغه ځمکوال چې دځمکې دنویو بدلونونو په هکله په قصدي ډول دځمکوالۍ دچارو دتنظیم اړوندې څانګې ته په ربښتني ډول معلومات ورنه کړي ترعدلي تعقیب لاندې نیول کېږي اوتأدیبېږي.

فصل یازدهم

احکام جزائی

**مادهٔ یکصدویکم :**

درصورتیکه مالک یا اعضای خانوار ویا وکیل شرعی او بعد از اطلاع بدون عذرشرعی الیٰ ختم کار هیئت تصفیه در محل،غرض تصفیه در ساحهٔ زمینداری حاضر نگردد،مورد تعقیب عدلي قرار گرفته تأدیب میگردد.

**مادهٔ یکصدودوم :**

شخصیکه تأسیسات آبیاري یا تعمیرات و تجهیزات مربوط به قطعهٔ زمین قابل توزیع را عمداً تخریب نماید، علاوه به پرداخت جبران خسارهٔ وارده به امارت تحت تعقیب عدلی قرار میگیرد.

**مادهٔ یکصدوسوم :**

زمینداریکه تحولات و تغییرات جدید زمین را عمداً به شعبهٔ تنظیم امورزمینداری مربوط طوری واقعی معلومات ندهد،مورد تعقیب عدلی قرار گرفته تأدیب میگردد.

يوسلوڅلورمه ماده:

هغه شخص چې دبل شخص ځمکه غصب کړي، يا دواقعيت پر خلاف ځان دځمکې مالک معرفي کړي،ځمکه مسترده او اصلي مالک ته دخسارې دجبران موضوع او دهغه عدلي تعقيب شرعي محکمې ته محول کېږي.

يو سلو پنځمه ماده :

(۱) که چېرې مستحق يا دهغه د کورنۍ غړي دځمکې د وېش له نېټې نه تريوه کال پورې دځمکې په آبادولو او کرکېله لاس پورې نه کړي يا له موّجه عذر پرته په پر له پسې ډول دځمکې درې قسطونه ورنه کړي ځمکه ترې اخيستل کېږي.

(۲) که چېرې مستحق له وېشل شوې ځمکې نه دشرعي سند له اجراءکېدو مخکې دقانون پر خلاف او يا غير زراعتي استفاده وکړي دځمکې په بېرته ورکولو بر سېره امارت ته د تاوان په جبيره کولومکلف دی.

مادهٔ يکصدوچهارم :

شخصيکه زمين شخص ديگر را غصب يا خلاف واقعيت خود را مالک زمين معرفی نمايد،زمين مسترد وموضوع جبران خساره به مالک اصلی وتعقيب عدلی آن به محکمهٔ شرعی محول ميگردد.

مادهٔ يکصدوپنجم :

(۱) هرگاه مستحق يا اعضای خانواروی از تاريخ توزيع زمين الیٰ يکسال به کشت وکار وآبادی زمين نپردازديا سه قسط زمين را بدون عذرموّجه متواتر تآديه نکنند،زمين از نزدش مسترد ميگردد.

(۲)درصورتيکه مستحق اززمين توزيع شده قبل از اجرای سند شرعی استفاده خلاف قانون ويا غير زراعتی نمايد،برعلاوه استرداد زمين، مکلف به جبران خساره به امارت ميباشد.

## دوولسم فصل
## وروستني حكمونه

**يوسلوشپږمه ماده :**

كه چېرې د شخص دجريبي په شميريا دځمكوالى په حدودوكې اشتباه شوې وي اويادېوه شخص ځمكه په سهوې سره دبل شخص د ځمكې د ملكيت په سند كې ليكل شوي وي،موضوع دتصفيې دهيئت له خوا څېړل كېږي،اودهغه دسموالي(صحت)په برخه كې دمحكمې له لارې اقدام كوي.

**يوسلواوومه ماده :**

په زراعتي ځمكه كې دسړكونو ودانيواودتأسيساتو جوړول او غير زراعتي فعاليتونه مجاز نه دي په استثنائي حالاتوكې استفاده كوونكې مراجع مكلفې دي چې په دې هكله مخكې له مخكې دكرنې اومالدارۍ وزارت موافقه او داميرالمؤمنين منظوري تر لاسه كړي.

**يوسلواتمه ماده:**

ديولې شريک دوچې اوشاړې(بكراوبائر(موات)) ځمكې ټوټه د ډېرې كمې ځمكې

## فصل دوازدهم
## احكام نهائى

**مادۀ يكصدوششم :**

هرگاه درتعداد جريبى يا حدود زميندارى شخص اشتباه رخ داده باشد و يا زمين شخص سهواً داخل سند ملكيت زمين شخص ديگرى گرديده باشد موضوع را هيئت تصفيه بررسى نموده، ودرزمينۀ صحت آن ازطريق محكمه اقدام مينمايد.

**مادۀ يكصدوهفتم :**

احداث سركها، اعمار ساختمانها تأسيسات وفعاليت هاى غير زراعتى بالاى زمين زراعتى مجاز نميباشد، درحالات استثنائى مراجع استفاده كننده مكلف است تا در زمينه قبلاً موافقۀ وزارت زراعت ومالدارى ومنظورى اميرالمؤمنين را حاصل نمايد.

**مادۀ يكصدو هشتم:**

قطعۀ زمين بكروبائر(موات)پلوان شريک به زمين زميندار داراى كمترين زمين

لرونکي ځمکوال له ځمکې سره د بیې
په بدل کې ترد غوشرائطو لاندې یو ځای
کېدای شي:
۱-ترپروژې لاندې نه وي.
۲-د زراعتي کېدو وړتیا ولري،د اوبو
لګولو سرچینې ورته برابرې شي او د
نورو د اوبوپه حق باندې تیری ونه کړي.
۳- دپولو دشریکانو او د اړوندې
سیمې دخلکو دخوروني سبب نه شي .
۴-دځمکې داصلاح کولو فورمه ېې ډکه
کړې وي او اصولي پړاوونه ئې
بشپړشوي وي.

**یوسلونهمه ماده:**

دغائبو، ورکوشویو، مرتدو، باغي او
ذمي اشخاصودځمکوپه
هکله دغائبوورکوشویو ،مرتدو
باغي او ذمي اشخاصودجایدادونو
دساتنې د څرنګوالي دمقررې
د حکمونو مطابق اجرآآت تر سره کیږي.

**یوسلولسمه ماده :**

په سیمه کې د هیئت دکارله پای ته
رسېدو وروسته تصفیوي سندونه

در بدل قیمت، تحت
شرائط ذیل ملحق
شده میتواند :
۱ تحت پروژه قرار نداشته باشد .
۲ قابلیت زراعتي شدن ،منابع آبیاري
براي آن تدارک وبه حقابه
دیگران تجاوزنکند.
۳-باعث اذیت پلوان شریک واهالي منطقهٔ
مربوط نگردد.
۴- فورمه اصلاح زمین را خانه پری
ومراحل اصولی آن طی
شده باشد .

**مادهٔ یکصدونهم :**

درمورد زمینهاي اشخاص غائب
مفقود،مرتد،باغي وذمي طبق احکام
مقررهٔ طرز حفاظت اموال
وجایداد های
اشخاص غائب،مفقود،مرتد
باغي وذمي جراآت صورت مي گیرد.

**مادهٔ یکصدودهم :**

بعداز ختم کار هیئت تصفیه
درمحل اسناد تصفیوی در

د ولايت دځمکوالی دچارو د تنظیم د اداري په ځمکې پورې داړوندو سندونود ساتنې په مخزن کې ساتل کېږي

**يوسلويوولسمه ماده :**

په سمه توګه ددې قانون دحکمونو دعملي کولو په مقصد دکرنې او مالدارۍ وزارت له خوا جلا طرز العمل وضع کېدای شي.

**يوسلودولسمه ماده :**

امارت نشي کولی ددې قانون له نافذېدو وروسته داشخاصو ځمکه ضبطه اويا مصادره کړي .

**يوسلوديارلسمه ماده :**

دغه قانون له توشېح وروسته نافذ اوپه رسمي جريده کې دې خپورشي د دې قانون په نافذېدو سره لاندې تقنيني سندونه لغوه ګڼل کېږي :

۱- د سروې، تصفيې او د اراضي د ثبت قانون چې د ۱۳۵۵ هـ.ش کال د زمري د مياشتې په(۳۱ ) نيټه د رسمي جريدې په (۳۴۶) ګڼه کې خپورشوی دی.

۲- د ولايت د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د اداري مقرره

مخزن حفظ اسناد زمین مربوط ادارۀ تنظیم امور زمینداري ولایت حفظ میگردد.

**مادۀ يکصدو يازدهم :**

به منظور تطبيق سالم احكام اين قانون طرز العمل جداگانه از طرف وزارت زراعت ومالداري وضع شده میتواند .

**مادۀ يکصدودوازدهم :**

امارت نميتواند بعد ازانفاذ اين قانون زمين اشخاص را ضبط ويا مصادره نمايد .

**مادۀ يکصدوسيزدهم :**

اين قانون ، بعد از توشيح نافذودر جريدۀ رسمي نشر گردد وباانفاذ آن احكام اسناد تقنيني ذيل لغوه ميگردد:

۱- قانون سروی، تصفيه و ثبت اراضی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره ( ۳۴۶ ) مؤرخ ۳۱ /۵/ ۱۳۵۵ هـ.ش .

۲- مقررۀ ادارۀ زراعت اصلاحات ارضی ولايت منتشرۀ

چې د۱۳٦۴ هـ.ش کال د لیندۍ د میاشتې په (۳۰) نیټه د رسمي جریدې په (۵۹۷) ګڼه کې خپره شویده.

۳- د ځمکو د مناسباتو د تنظیم قانون چې د۱۳٦٦ هـ.ش کال د سلواغې د میاشتې په (۱۵) نیټه د رسمي جریدې په (٦۵۸) ګڼه کې خپور شویدی.

۴-دځمکې د اجارې مقرره چې د ۱۳٦٦ هـ.ش کال د سلواغې د میاشتې په (۳۰) نیټه د رسمي جریدې په (٦۵۹)ګڼه کې خپره شویده.

۵- د دولتي ښارو او نه آباد شویو ځمکو د جوړولو او آبادولو لپاره د خصوصي پانګې اچونې هغه قانون چې د ۱۳٦۸ هـ.ش کال د وږي د میاشتې په (۳۰) نیټه د رسمي جریدې په (۷۰۰) ګڼه کې خپورشوی دی.

٦- د ۱۳۷۲ هـ.ش کال د مرغومي د میاشتې د اوومې نیټې (٦۰۹) ګڼه فرمان چې د ۱۳۷۳ هـ.ش کال د تلې د میاشتې په (۱٦) نیټه د رسمي جریدې په (۷٦۹)ګڼه کې خپور شویدی، او هغه نور حکمونه چې د دې قانون له حکمونو سره مغائرت ولري، لغوه بلل کېږي.

جریدهٔ رسمی شماره (۵۹۷) مؤرخ ۳۰ /۹ /۱۳٦۴ هـ.ش.

۳- قانون تنظیم مناسبات ارضی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (٦۵۸) مؤرخ ۱۵ /۱۱ /۱۳٦٦هـ.ش

۴- مقررهٔ اجارهٔ زمین منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (٦۵۹) مؤرخ ۳۰ /۱۱ /۱۳٦٦

۵- قانون سرمایه گذاری خصوصي برای عمران و آباد ساختن زمین هاي بکروبائر دولتی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۷۰۰) مؤرخ ۳۰ /٦ /۱۳٦۸ .

٦- فرمان شماره (٦۰۹) مؤرخ ۷ /۱۰ /۱۳۷۲ هـ.ش منتشرهٔ جریدهٔ رسمي شمارهٔ(۷٦۹)مؤرخ ۱٦ /۷ /۱۳۷۳هـ .ش و سائر احکام که با احکام این قانون در مغائرت قرار گیرد، ملغی شناخته میشود.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دطبيعت دساتني قانون

## د طبیعت د ساتنې قانون

### لومړی فصل

### عمومی حکمونه

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون دطبیعت په ساتنې،د کمیاوي،فزیکې،ژوند پیژندنې (بیولوژیکي)اوځمکپیژندنې(جیولوژیکي) ناوړو او زیانمنو،نکواغېزو او نورواغېزو دمخنیوي اوکمښت اودژوندانه دچاپېریال ساتنې په ارتباط د قانو نیت په ټینګښت پورې داړوند و چارو دتنظیمو لو په مقصد وضع شوی دی.

**دوه یمه ماده:**

د طبیعت ساتنه داسلامي امارت ستره دنده ده او په دغو لاندې ساحوکې حفاظوي تدبیرونه لري:

۱_دځمکې جو(اتموسفیر).

۲_ حیواني ا ونباتي چاپېریال(بیوسفیر).

۳_ځمکه او دهغې ژورې(لتوسفیر).

۴_داوبو چاپېریال (هایدروسفیر).

۵_ځنګلونه او ځنګلي محصولات.

۶_ څرځایونه اوعمومي بڼونه(ملي پارکونه)

## قانون حفاظت طبیعت

### فصل اول

### احکام عمومی

**مادهٔ اول:**

این قانون به منظورتنظیم امورمربوط به حفاظت طبیعت،جلوگیری وتقلیل اثرات سوءوزیان آورکیمیاوی،فزیکی،زیست شناسی(بیولوژیکی)،زمین شناسی(جیولوژیکی)وسائر اثرات و تحکیم قانونیت دررابطه به حفظ محیط زیست،وضع گردیده است.

**مادهٔ دوم :**

حفاظت طبیعت وظیفهٔ عمدهٔ امارت اسلامی بوده و حاوی تدابیرحفاظوی در ساحات ذیل است:

۱_ جوزمین(اتموسفیر).

۲_ محیط حیوانی و نباتی(بیوسفیر).

۳_ زمین و اعماق آن(لتوسفیر).

۴_ محیط آبی (هایدروسفیر).

۵_ جنگلات و محصولات جنگلی.

۶_علفچرهاوباغ های‌عمومی(پارک هاي ملي).

**دریمه ماده:**

د طبیعت په ساتنې پورې د اړوندو چاروﻻرښوونه دوزیرانو شورئ له خوا کېږي.دوزیرانو شورئ دغه دنده دوزارتونو او نورو واکمنو امارتي اداروپه واسطه ترسره کوي.

**څلورمه ماده:**

دافغانستان اسلامي امارت دوزیرانوشورئ دطبیعت دساتنې په ډګرکې دغه لاندې واکونه اومکلفیتونه لري:

۱_دمقرراتو،لائحواومعیارونو طرحه کول.

۲_دطبیعت دساتنې په ډګرکې دسراسري برنامو طرحه کول او اجراکول اوپه معقوله توګه له هغونه ګټه اخیستل.

۳_په طبیعي چاپېریال کې دموجودې حیواني احصائیې دواحدنظم(سیستم)طرحه کول.

۴_ دځمکې په جو(اتموسفیر)کې دککړوموادودغیرمجازومعیارونو ټاکنه اودځمکې په سطحه دځمکې دزیانمنوونکوفزیکي اغېزوټاکنه.

**مادهٔ سوم:**

رهبری امور مربوط به حفاظت طبیعت ازطرف شورای وزیران صورت میگیرد.شورای وزیران این وظیفه را ذریعهٔ وزارت خانه هاوسائرادارات ذیصلاح امارتی انجام میدهد.

**مادهٔ چهارم:**

شورای وزیران امارت اسلامی افغانستان در ساحهٔ حفاظت طبیعت دارای صلاحیت هاو مکلفیت های ذیل است:

۱_طرح مقررات، لوائح و معیار ها.

۲_طرح و اجرای برنامه(پلان)های سرتاسری در ساحهٔ حفاظت طبیعت واستفادهٔ معقول از آن.

۳_ طرح نظم(سیستم)واحد احصائیهٔ حیوانی موجود در محیط طبیعی.

۴_ تعین معیار های غیر مجاز مواد ملوث در جوزمین(اتموسفیر)و تعین اثرات مضر فزیکی در سطح زمین.

۵_ دطبيعي چاپيريال ساتنې په هکله دامارتي عمومي نظارت(کنترول) عملي کول اوله طبيعي شتمنيونه ګټه اخيستل.

٦_ په ټول هېوادکې دطبيعي چاپيريال په ساتنې پورې دنورواړوندو مسئلوحل کول.

۷_ دطبيعت دساتنې په ساحه کې دعمومي تدبيرونو نيول.

**پنځمه ماده:**

وزارتونه،اداري او د ټولنيزو اړيکودتنظيمولونورې واکمنې مراجع دطبيعت دساتنې په ډګرکې دغه لاندې واکونه او مکلفيتونه لري:

۱_ داړوندو مؤسسو او اداروپه واسطه دطبيعت دساتنې په لاره کې دتدبيرونو نيول او دهغو عملي کول.

۲_دودانيودجوړولواوترميمولوپه وخت کې دطبيعي چاپيريال دساتنې دډېرو مساعدو تأمينونکو طرحو غوره کول او عملي کول.

۳_دمؤسسواواداروله خوادژوندانه دچاپيريال دساتنې دمقرراتو درعايتولوڅارنه .

۴_دواک په حدودکې دطبيعي چاپيريال په ساتنې پورې دنورواړوندومسئلوحل کول.

۵_ تحقق نظارت (کنترول)عمومی امارتی،در مورد حفاظت محيط طبيعی واستفاده از ثروت های طبيعی.

٦_ حل سائر مسائل مربوط به حفاظت محيط طبيعی درسراسر کشور.

۷_ اتخاذ تدابيرعمومی در ساحهٔ حفاظت طبيعت .

**مادهٔ پنجم:**

وزارت ها،ادارات وسائرمراجع ذيصلاح تنظيم مناسبات اجتماعی‌در ساحهٔ حفاظت‌طبيعت،دارای‌صلاحيت هاومکلفيت های ذيل ميباشند:

۱_ اتخاذتدابيروعملي نمودن آن جهت حفاظت طبيعت،توسط مؤسسات وادارات مربوطه .

۲_ انتخاب وتطبيق مساعد ترين طرح های تأمين کنندهٔ حفاظت محيط طبيعی هنگام اعمار وترميم ساختمان ها.

۳_مراقبت متداوم ازتطبيق مقررات حفاظت محيط زيست،از طرف مؤسسات وادارات.

۴_حل سائرمسائل مربوط به حفاظت محيط طبيعي درحدود صلاحيت .

شپږمه ماده :

(۱) دطبیعي چاپېریال ساتنې په ساحهٔ کې دواک اومکلفیت لرونکي مراجع په لاندې ډول دي :

۱-داقلیم پېژندنې(هایدرومیترولوژی) اودژوندانه دچاپېریال دخارنې ریاست.

۲- دعامې روغتیاوزارت دوقایوي طب دخدمتونو(سنتري ضدآپیدیمیکي )اداره .

۳- هغه نورمراجع چې دامارتي قوانینوپراساس جوړېږي .

(۲) دافغانستان اسلامي امارت دوزیرانوشوري له پرېکړې سره سم دطبیعي چاپېریال دساتنې په ساحه کې دځانګړوواکونواومکلفیتونولرونکې ادارې ،دکرنې اومالدارۍ، کانونواوصنائعو،اواوبواوبرېښنا،په وزارتونواوپه نورووزارتونو،ادارواو دافغانستان اسلامي امارت په نورومرکزي مراجعوکې جوړېداي شي .

(۳) دځانګړوواکونواومکلفیتونو لرونکو امارتي ادارودندې اوواکونه دتقنیني سندونوپه واسطه تنظیمېږي.

مادهٔ ششم :

(۱) مراجع دارای صلاحیت ومکلفیت درساحهٔ حفاظت محیط طبیعی عبارت انداز:

۱- ریاست اقلیم شناسی (هایدرو میترو لو ژی)مراقبت محیط زیست.

۲- ادارهٔ خدمات طب وقایوی (سنتری ضداپیدیمیکی )صحت عامه .

۳- سائرمراجعیکه به اساس قوانین امارتي ایجادمیگردند.

(۲) مطابق به فیصلهٔ شوراي وزیران امارت اسلامی افغانستان،ادارات دارای صلاحیت و مکلفیت های خاص درساحهٔ حفاظت محیط طبیعی در وزارت های زراعت ومالداری ،معادن وصنائع،آب وبرق وسائر وزارت ها،ادارات و مراجع مرکزی امارت اسلامی افغانستان ایجادشده میتوانند.

(۳) وظائف وصلاحیت های‌ادارات ومکلفیت های خاص،توسط اسنادتقنینی تنظیم میگردد.

**اوومه ماده :**

دطبيعي چاپيريال ساتنه ،وقايوي تدبيرونه،په طبيعي چاپيريال باندې دزيان رسوونكو اغېزولـه منځه وړل او دطبيعي شتمنيودحالت ښه والی د امارت داقتصادي اوټولنيزې پرمختياپه برناموكې په پام كې نيول كېږي .

**اتمه ماده :**

پرطبيعي چاپيريال باندې هرډول ناوړې اغېزې دمعياري (نورماتيفي)مجازوشرائطواويادااټكل شوو خاصوحالتونوپه حدودوكې جوازلري .

**نهمه ماده :**

دژوندانه دچاپيريال په ساتنې پورې اړوندوچارودښه ترسره كولوپه مقصد ددغولاندې تدبيرونونيول ضروري دي :

۱-هغوموٌسسو،اداروٖاوانفرادی اشخاصو ته دمادي اومعنوي هڅونې دتدبيرونواټكل چې دطبيعت دساتنې دتدبيرونودعملي كولوپه كاركې كارنده ونډه اخلي .

**مادهٔ هفتم :**

حفاظت محيط طبيعى،تدابير وقايوى ،رفع اثرات مضربالاى محيط طبيعى وبهبودوضع ثروت هاى طبيعى ،در برنامه هاى انكشافى اقتصادى واجتماعى امارت ،درنظر گرفته ميشود .

**مادهٔ هشتم :**

هرگونه اثرات مضر بالاىمحيط طبيعى درحدودشرائط مجاز معيارى (نورماتيفى)ياحالات خاص پيشبينى شده جوازدارد.

**مادهٔ نهم :**

به منظورانجام بهتر امورمربوط به حفاظهٔ محيط زيست ،اتخاذ تد ابير ذيل ضرورى ميباشد:

۱-پيشبينى تدابير تشويقى مادى ومعنوى براى موٌسسات ادارات واشخاص انفرادي ايكه درامر تحقق تدابير حفاظت طبيعت سهم فعال ميگيرد.

۲-داړوندوطرحو(پلانونو)اوتدبيرونوله پـه پام کې نيولوسره دموٴسسواواداروترمنځ دطبيعي چاپېريال دساتنې پـه ارتبـاط دکاردسياليوسمبالول.

## دوه یم فصل

## دځمکې دجو (اتموسفير)

## دساتنې تدبيرونه

**لسمه ماده :**

(۱) دافغانستان اسلامي امـارت پـه قلمروکـې دځمکـې دجـو (اتموسفير)دچاپېريال دحالت دڅېړنې پـه مقصدککړوونکو موادو د مجاز تمرکـز واحد معيارونه اودځمکې په فضا بـاندې دزيانمنوونکوفزيکي اغېزوسطحه په داسې ډول ټاکل کېږي چې دخلکودروغتياساتنې اودطبيعي چاپېريال ساتنې ګټوتـه ځواب ووائي .

په ضروري مواردوکـې دبېلابېلوسيمو لپاره دځمکـې دجوچـاپېريـال دککړوونکوموادودمجـازاعظمي تمرکزډېرسخت معيارونـه(نورماتيفونـه) ټاکل کېداى شي .

۲-سازماندهي مسابقات کاردرارتباط به حفاظت محيط طبيعى بـين موٴسسـات وادارات ،بـادرنظر داشـت طـرح (پلان)هاوتدابيرمربوطه .

## فصل دوم

## تدابير حفاظت جوزمين

## (اتموسفير)

**مادهٔ دهم :**

(۱) به منظور ارزيابى وضـع محيـط جوزمـين درقلمروامـارت اسـلامى افغانستان معيارهـاى واحـد تمركـز مجـازموادملوث كننـده وسـطح اثـرات فزيكـى مضربـالاى جوزمـين بـه نحوى تعيـين ميگرددكـه جوابگوى منافع حفظ صحت مـردم وحفـاظت محيط طبيعى باشد .

درمواردضرورى براى مناطق جداگانه معيـار (نورمـاتيف)هـاى شـديدتر،تمركزاعظمـى مجـازمواد ملوث كننـدهٔ محيـط جـوى تعيـين شده مى تواند.

(۲) تاکل شوي معيارونـــــه اواسـلوبونه (ميتودونه )دافغانستان داسلامي امـــارت دوزيرانـــو شـــورئ لخـــوا منظوراوعملي کېږي.

(۳) دځمکې په جـــو بـــاندې دفزيکـــې زيانمنوونکوککړونکوموادوداچولومجـــاز اعظمي معيارونه دهري اچوونکي تاکلـــې منبع اودمتحرکودستگاوو اووســـائلودهرې نمونې (موډل) لپاره دافغانستان اســـلامي امارت دوزيرانوشـــورئ لـــه خوامنظـــور اوعملي کېږي .

**يوولسمه ماده :**

دځمکـــې پرجـــو بـــاندې دزيـــانمنوونکواغېزوطرح کـــول چـــې دمعيارونوپـــه واســـطه نـــه دي اټکـــل شـــوي،پـــه اســـتثنئي حـــالاتوکې دځانگړوواکونواومکلفيتونولرونکـــو ادارو پـــــه تصميـــــم مجـــــاز دی.

**دوولسمه ماده :**

په مشخصوموارډوکې دمتحرکې منبع پـــه واســـطه دځمکـــې پـــه جـــو کـــې

(۲) معيارها واسلوب (ميتـــود) هـــای تعيين شده ،ازطرف شـــورای وزيـــران امارت اســـلامی افغانســـتان منظـــور وموردتطبيق قرارميگيرد.

(۳) معيارهای اعظمـــی مجـــازپرتـــاب موادملوث کننده اثرات مضر فزيکـــی بالای جوزمين ،برای هر منبـــع معـــين پرتـــاب کنـــــــده وبـــرای هـــر نمونه (مودل)دستگاه هاووسائل متحرک ازطرف شورای وزيران امارت اسلامی افغانستان منظوروموردتطبيق قرارميگيرد.

**مادۀ يازدهم :**

طـــرح اثـــرات مضربرجوزمـــين کـــه توســـط معيارهـــاپيشـــبينی نشـــده درحـــالات اســـتثنائي بـــــه تصميـــــم ادارات دارای صلاحيـــت ومکلفيـــت هـــای خـــــاص مجازميباشـــــد.

**مادۀ دوازدهم :**

پرتـــاب موادملـــوث کننـــده درجوزمـــين،توســـط منبـــع متحـــرک

دککړوونکو موادو اچول دخانگړوواکونو اومکلفیتونولرونکو مراجعوپه اجازه له مقرراتوسره سم مجازدي.

(۲) په اجازه لیک کې دځمکې دجو (اتموسفیر)دساتنې دتأمینولوپه مقصد، دککړوونکو موادوداچولودمجازاعظمي حدمعیارونه اودمتحرکي منبع شرطونه اوغوښتنې درجېږي.

**دیارلسمه ماده :**

(۱) مؤسسې اواداري مکلفې دي چې دککړوونکوموادوداچولوپه وخت کې داجازه لیک شرطونه او غوښتنې رعایت اوددغوموادو کمیت اوترکیب محاسبه کړي.

(۲) دځمکې دجو دساتنې دتدبیرونوعملي کول باید دخاورې،اوبواودنوروطبیعي منابعو دککړتیاسبب نشي.

درموارد مشخص به اساس اجازهٔ مراجع دارای صلاحیت ومکلفیت های خاص طبق مقررات مجازمیباشد.

(۲) دراجازه نامهٔ معیارهای حداعظمی مجاز،پرتاب موادملوث کننده،شرائط ومطالبات منبع متحرک به منظورتأمین حفاظت جو زمین درج میگردد.

**مادهٔ سیزدهم :**

(۱) مؤسسات وادارات مکلف اندتاحین پرتاب موادملوث کننده ،شرائط ومطالبات اجازه نامه رارعایت نموده،کمیت وترکیب موادمذکوررامحاسبه نمایند.

(۲) انجام تدابیرحفاظت جوزمین نبایدباعث آلودگی خاک،آب وسائرمنابع طبیعی گردد.

خوارلسمه ماده :

دخمکې په جو کې دککړونکومـوادو داچولودمجازومعیارونودزیاتوالي په صورت کې،مؤسسې اوادارې مکلفې دي چې دخمکې جو دامارتي څارنې اداروته خبرورکړې ترڅودخمکې دجو دساتنې له اړه کل شویوقواعدو اوتدبیرونو سره سم لازم اقدامات وکړي .

پنځلسمه ماده :

دنامساعدواقلیمي (مترولوژیکي) شرائطو درامنځته کېدوپه اړه دخمکې په جو کې دککړوونکوموادودزیاتوالي په هکله د اخطارې دترلاسه کولو په صورت کې مؤسسې اوادارې مکلفې دي چې دخمکې دجودساتنې دامارتي څارنې دادارو په همکارۍ دخمکې په جوکې ددغوموادو داچولودکمښت په هکله ځانګړي تدبیرونه ونیسي.

شپاړسمه ماده :

په اجازه لیکونو کې له درج شویوشرائطواومطالبونه دسرغړونې اودخلکوروغتیاته دګواښ دپیداکېدوپه

مادهٔ چهاردهم :

درصورت افزایش معیارهای مجازپرتاب موادملوث کننده درجوزمین مؤسسات وادارات مکلف انددرموردبه ادارات مراقبت امارتي جوزمین اطلاع داده تاطبق قواعدوتدابیر پیشبینی شدهٔ حفاظت جوزمین اقدامات مقتضی رااتخاذ نمایند.

مادهٔ پانزدهم :

درصورت حصول اخطاریه مبنی برافزایش موادملوث کننده درجوزمین درربطه به وقوع شرائط اقلیمی (میترولوژیکی)نامساعد ،مؤسسات وادارات مکلف اند تاتدابیر خاص کاهش پرتاب این موادرادر جوزمین ،به همکاری ادارات مراقبت امارتی حفاظت جوزمین اتخاذ نمایند.

مادهٔ شانزد هم :

درصورت تخلف ازشرائط ومطالب مندرج اجازه نامه هاوهمچنان پیدایش تهدید به صحت اهالی ،پرتاب مواد

صورت کې دځمکې جوته دککړوونکوموادواچول دځمکې دجو،دطبیعت دساتنې دإمارتي څارنې دادارولـه تصمیم سره سم د دستگا وو،کارخانو،مؤسسواوادارو فعالیت محدود،متوقف اوبندېږي .

اووه لسمه ماده :

هغه مؤسسې اوادارې چې فعالیت ئې دځمکې په جوکې دککړوونکوموادوپه اچولوپورې اړه لري ،ددغولاندې ټکوپه رعايتولومکلفې دي :

۱-دځمکې جوته داچول شويوموادودکیفیت اوترکیب دتصفیې اوڅارنې په سامان آلاتواووسائلوسره دودانیوسمبالول .

۲-په خپل وخت هغومؤسسوته چې له هغونه داوموموادوپه توګه کاراخلي اويانوروخصوصوځايونوته دځمکې دفضا دککړوونکواضافي موادولېږدونه.

اتلسمه ماده :

دتأسیساتواوساختماني پروژودطرح کولواودصنعتي (تکنالوژيکي)عمليواو

ملوث کننده به جوزمین ،طبق تصمیم ادارات مراقبت امارتي حفاظت طبیعت جوزمین ،فعالیت دستگاه ها،کارخانه ها مؤسسات وادارات محدود متوقف وقطع میگردد.

مادهٔ هفد هم :

مؤسسات وادارات که فعالیت شان باپرتاب موادملوث کنندهٔ جوزمین بستگي دارد ،مکلف به رعایت نکات ذیل میباشد.

۱-تجهیزساختمان هاباسامان آلات ووسائل تصفیه ومراقبت کیفیت وترکیب موادپرتاب شده به جوزمین .

۲-انتقال به موقع مواداضافي ملوث کنندهٔ جوزمین ،به مؤسساتیکه ازآن به حیث موادخام استفاده می نمایندویابه جای مخصوص دیگر.

مادهٔ هجد هم :

هنگام طرح پروژه های ساختماني وتأسیسات ودرزمان اکمال وجدید

تجهيزاتو دبشپړولو (اکمال) اونوي کولو په وخت کې بايدداسې تدبيرونه په پام کې ونيول شي چې لرترلره دتوليدي اړتياوولپاره دځمکې له جو نه کاراخيستل تأمين کړي.

نولسمه ماده :

دځمکې دجو دحالت دمصنوعې بدلونونو اودملي اقتصادپه گټه دځمکې دجو دپديدودبدلولولپاره فعاليت دځانگړوواکونو اومکلفتيونو لرونکومراجعوپه اجازه دوزارتونو، ادارو اومؤسسوله خوا ترسره کېږي، په دې شرط چې په اقليم باندې ناوړې اغيزې ونه لري .

دريم فصل

دحيواني اونباتي چاپېريال (بيوسفير) دساتنې تد بيرونه

شلمه ماده :

حيواني اونباتي چاپېريال عامه شتمني ده اوساتنه ئې له دغولاندې لاروڅخه کېږي:

۱ -دمحافظوي معيارونوټاکنه ،له هغونه

ساختن عمليه هاي صنعتي (تکنالوژيکی) وتجهيزات ،بايدتدابيری درنظرگرفته شودکه حداقل استفاده ازجوزمين رابرای نيازمندی های توليدی تأمين نمايد. .

مادهٔ نزدهم :

انجام فعاليت درجهت تغييرات مصنوعی وضع جوزمين وپديده های جوزمين ،به نفع اقتصادملی ،ازطرف وزارت ها، ادارات ومؤسسات به اجازهٔ مراجع دارای صلاحيت ومکلفيت های خاص ،صورت ميگيرد،مشروط براينکه بالای اقليم اثرات نامطلوب نداشته باشد.

فصل سوم

تدابير حفاظت محيط حيوانی ونباتی (بيوسفير)

مادهٔ بيستم :

محيط حيوانی ونباتی دارائی عامه بوده حفاظت آن ازطرق ذيل صورت ميگيرد:

۱ -تعيين معيارهای محافظوی ،استفاده

په منطقي ډول ګټه اخيستل اودحيوا ناتو اونباتاتوبيا(مجدد)توليدول.

۲-له حيواني اونباتي چاپيريال نه په ناوړه توګه دکاراخيستلوتحديداوبندول.

۳-دحيواناتودژوندانه دچاپيريال ساتنه،دتکثير(زيات والي )اودلېږدوني دلاروچارووښه والی .

۴-په توليدي عمليوکې دحيواناتو اونباتاتودله منځه تللومخنيوی .

۵-دقرانطين(مجزاکولو) دسيموجوړول اودنوروخانګړومحافظوي سيموټاکنه .

۶-دلږ پيداکېدونکو (کميابو)حيواناتو اودهغوحيواناتوزياتول چې دنسل دله منځه تللوخطرئي متصوروي.

۷- دژوندپېژندني(زولوژيکي) (کلکسيونونو)لپاره دحيواناتواونباتاتوداخيستلوتحديد.

۸-دلږ پيداکېدونکواويادنسل دله منځه تللودخطرترګواښ لاندې حيواناتو اونباتاتودصادراتوتحديديابندول .

۹-ناروغی ،دمرګ دخطراودنوروآفتونو اوعواملوپه مواردوکې دحيواناتوڅارنه .

منطقی ازآنهاوتوليدمجدد حيوانات ونباتات .

۲-تحديدومنع استفادۀ نامطلوب ازمحيط حيوانی ونباتی .

۳-حفاظت محيط زيست ،بهبود شرائط تکثيروراه های انتقال حيوانات .

۴-جلوگيری ازاتلاف حيوانات ونباتات درعمليه های توليدی .

۵-ايجادمناطق قرانطين(مجزاکردن ) وتعيين سائر مناطق محافظوی خاص .

۶-تکثيرحيوانات کمياب و حيواناتيکه خطرقطع نسل آنهامتصورباشد.

۷-تحديداخذحيوانات ونباتات برای مجموعه (کلکسيون)های حيوان شناسی (زولوژيکی ).

۸-تحديدويامنع صدورحيوانات ونباتات کمياب وياتحت تهديدخطرقطع نسل .

۹-وارسی ازحيوانات درمواردبيماری خطرمرگ وسائرآفات وعوامل ديگر.

۱۰-دحيواني اونباتي چاپېريال دساتنې دتدبيرونودنيولولپاره دعلمي څېړنوسمبالول.

۱۱-له حيواني اونباتي چاپېريال سره دمحتاطانه اوزړه سواندواړيکيو په روحيې سره داتباعوروزنه.

۱۲-دډله ايزواطلاعاتودوسائلوله لارې دحيواني اونباتي چاپېريال دساتنې تبليغ.

۱۳-دحيواني اونباتي چاپېريال دساتنې په ساحه کې دنوروتدبيرونونيول.

يوويشتمه ماده :

دساتنې اوبياتوليد په مقصد،له محدودحيواني اونباتي چاپېريال يا له ټاکلوسيموڅخه اويا دټاکلې مودې لپاره کاراخيستل،دافغانستان اسلامي امارت له تقنيني سندونوسره سم منع کېږي.

دوه و يشتمه ماده :

دحيواناتواونباتاتودتنظيم هرډول فعاليت اودتکثير له وسائلونه کاراخيستل او دهغودلېږدونې شرطونه له هغوشرطو نو سره سم ترسره کېږي چې دحيواني اونباتي چاپېريال دساتنې ضامن وي.

۱۰-سازماندهی تحقیقات علمی درجهت اتخاذتدابیرحفاظت محیط حیوانی ونباتی .

۱۱-تربیت اتباع باروحیه مناسبات محتاطانه ودلسوزانه بامحیط حیوانی ونباتی .

۱۲-تبلیغ حفاظت محیط حیوانی ونباتی ازطریق وسائل اطلاعات جمعی .

۱۳-اتخاذسائر تدابیردرساحهٔ حفاظت محیط حیوانی ونباتی .

مادهٔ بیست ویکم :

به منظورحفاظت وتولیدمجدد،استفاده ازمحیط حیوانی ونباتی محدودیادر مناطق معین ویابرای مدت معین ،مطابق به اسنادتقنینی امارت اسلامی افغانستان منع قرارداده میشود.

مادهٔ بیست ودوم :

هرنوع فعالیت واستفاده ازوسائل تنظیم وتکثیر حیوانات ونباتات وشرائط انتقال آنها ،مطابق به شرائطیکه ضامن حفاظت محیط حیوانی ونباتی باشند،صورت میگیرد.

دروېشتمه ماده :

(۱) مؤسسې، اداري اواتباع مکلف دي دخپلو توليدي اوخدماتي فعاليتونو په عمليه کې دګټوروحيواناتودساتنې اودله منځه تللودمخنيوي په مقصد لازم تدبيرونه ونيسي .

(۲)دحيواناتودساتنې (حفاظت )اوله منځه تللودمخنيوي په برخه کې دټاکلو تدبيرونوله عملي کولوپرته دوچ نبات، اومو ـ موادو،اضافي توليدي موادواودګټورو اوارزښتناکونباتاتوسوځول منع دي.

څلېر ويشتمه ماده :

(۱)دګټوروا وارزښتناکوحيواناتواونباتاتو دساتنې اوبياتوليدپه مقصددنباتاتوممنوعه سيمې،خاصې سيمې،تفريح ځايونه (پارکونه)،نباتي بڼونه اونورې محافظوي سيمې جوړېږي.

(۲)ددې مادې په لومړۍ فقره کې ددرج شويوسيمودجوړولوکړنلاره دتقنيني سندونوپه واسطه تنظيمېږي.

پنځه ويشتمه ماده :

(۱)لږپيداکېدونکي اودنسل دله منځه —

مادهٔ بیست وسوم :

(۱)مؤسسات،ادارات واتباع مکلف اندکه درزمینهٔ حفاظت وجلوگیری ازاتلاف حیوانات مفید،درعملیهٔ فعالیت های تولیدی وخدماتی خویش ،تدابیرلازم اتخاذنمایند.

(۲)حریق نبات خشک،موادخام وموادااضافی تولیدی،بدون تحقق تدابیرمعینه درزمینهٔ حفاظت وجلوگیری ازاتلاف حیوانات وحریق نباتات مفیدوارزنده ممنوع است .

مادهٔ بیست وچهارم :

(۱)به منظورحفظ وتولیدمجددحیوانات ونباتات مفیدوارزندهٔ مناطق ممنوعه مناطق خاص،تفریحگاه ها(پارک ها) باغ های‌نباتات وسائر مناطق محافظوی ایجاد میگردد.

(۲)طرزالعمل ایجادمناطق مندرجهٔ فقرهٔ اول این ماده ،توسط اسناد تقنینی تنظیم میگردد.

مادهٔ بیست وپنجم :

(۱)حیوانات ونباتات کمیاب وتحت

تللودخطرترګواښ لاندې حيوانات اونباتات په مخصوص کتاب کې ثبتيږي.

(۲) هغه فعاليتونه چې دلرپيداکېدونکوحيواناتواودنسل دله منځه تللودخطرترګواښ لاندې حيواناتودله منځه تللو،دکميت دکمښت او ژوندانه دچاپېريال د ګډوډۍ سبب کېږي ،مجازنه دي .

شپږ ويشتمه ماده :

دلرپيداکېدونکواودنسل دله منځه تللودخطرترګواښ لاندې دډول ډول حيواناتواونباتاتودساتنې په مقصدچې په طبيعي شرائطوکې دهغوبياتوليدناشونى وي،دخاصوواکونواومکلفيتونولرونکې امارتي اداري مکلفې دي چې دهغودزياتولو(تکثير)دضروري شرائطودبرابرولولپاره لازم تدبيرونه ونيسي.

اووه ويشتمه ماده :

دخاصوعلمي څېړنودترسره کولوپه رامنځته کېږي شويوشرائطوکې دزياتولو په

تهديدخطرقطع نسل درکتاب مخصوص ثبت ميشوند.

(۲)فعاليت هائيکه منجربه اتلاف،کاهش کميت ويااخلال محيط زيست حيوانات کمياب وياتحت تهديدخطرقطع نسل ميگردد ، مجازنيست .

مادۀ بيست وششم :

به منظورحفظ انواع حيوانات ونباتات کمياب وتحت تهديدخطرقطع نسل که توليدمجددآنهادرشرائط طبيعى امکان پذيرنبوده ادارات امارتى داراى صلاحيت ومکلفيت هاى خاص ،مکلفندتا تدابيرلازم راباراى ايجاد شرائط ضرورى تکثيرآن هااتخاذ نمايند.

مادۀ بيست وهفتم :

حصول حيوانات ونباتات کمياب وتحت تهديدخطرقطع نسل ،به منظورتکثيردرشرائط ايجادشدۀ خاص

مقصددلږپيداكېدونكواودنسل دله منځه – تللودخطردګواښ لاندې حيواناتو اونباتاتوترلاسه كول، يوازې دخاصوواكونواومكلفيتونولرونكوادارو په اجازه مجازدي.

**اته ويشتمه ماده :**

(۱)دحيوان پېژندنې(زولوژيكي) مجموعو(كلكسيونونو)دوحش دبڼ دژونديومجموعو،دنباتي بڼونو،دڅارويوداجزاوو دمجموعوجوړول اوبشپړول اوپه همدې مقصداوياپه بهركې دخرڅلاولپاره دژو ندانه له چاپېريال نه دهغوترلاسه كول دخاصو واكونواومكلفيت لرونكوادارو په اجازه مجازدي.

(۲)دحيوان پېژندنې دمجموعو (زولوژيكى كلكسيونونو)جوړول اوپدې هكله دتجربوبشپړول اوبهرته دحيواني – او نباتي مجموعو(كلكسيونونو)او محصولاتولېږل اوخارجول دخاصو مقرراتوپه واسطه اټكل(پيشبيني) كېږي.

اجراى تحقيقات علمى ،تنهابه اجازهٔ ادارات داراى صلاحيت ومكلفيت هاى خاص مجازميباشد.

**مادهٔ بيست وهشتم :**

(۱)ايجادوتكميل مجموعه (كلكسيون )هاى حيوان شناسى (زولوژيكى)ومجموعه هاى زندهٔ باغ وحش،اجزاى حيوانات باغ هاى نباتى وبه دست آوردن آن هاازمحيط زيست يابراى فروش درخارج ،به اجازهٔ ادارات داراى صلاحيت ومكلفيت هاى خاص مجازميباشد.

(۲)ايجاد مجموعه هاى حيوان شناسى (كلكسيون هاى زولوژيكى)وتكميل تجارب دراين موردوارسال وخروج مجموعه هاومحصولات حيوانى ونباتى به خارج،توسط مقررات خاص پيشبينى ميگردد.

نهه ويشتمه ماده :

داستوګنې نوې سيمې تــه دحيوانــاتو او نباتاتولېږدول،چې حيوانات ئې له اوبــو او هواسره جــوړښت(ســازش) ولــري اود اړوندوعلمي مؤسسو دتړون له په پام کې نيولوسره ،دعلمي څېړنــيزو اوکرنــيزو موخــو(هدفونــو)دپرمــخ بيولوپــاره دحيواناتودکمښت په منظــورد تدبــيرونو نيول دځانګړوواکونواومکلفيت لرونکــو اداروډفيصلې له مخــي ترســره کــېږي.

دېرشمه ماده :

دحيواني اونبــاتي چاپېريــال دســاتنې په منظور داوبو،ځمکې اودهغې لــه تــل ځنګلونواوڅرځايونونه دګټې اخيســتلوحق دقوانينوپه واسطه ټاکل کېږي .

## څلورم فصل

## دځمکې اودهغې دتل (ليتوسفير) دساتنې تدبيرونه

يوديرشمه ماده :

ځمکوال اوګټه اخيستونکي مکلــف دي چې له ځمکې نه دهغې له موخو(هدفونــو) ســره ســم ګټه واخلــي.

مادهٔ بيست ونهم :

انتقال حيوانات ونباتات به محل زيســت جديد،جائيكه حيوانات به آب وهواى آن سازش داشته باشندواتخاذ تدابيربه منظور كاهش حيوانات جهت پيشـــبرداهداف علمى-تحقيقاتىوزراعتى،بادرنظرداشــت قراردادمؤسسات علمى مربوطه ،طبــق فيصلــهٔ ادارات داراى صلاحيــت ومكلفيــت هــاى خــاص ،صــورت ميگيرد.

مادهٔ سى ام :

به منظورحفاظت محيط حيوانى ونبــاتى حق استفاده ازآب ها،زمــين واعمــاق آن ،جنگلات وعلفچرها،توسط قوانــين تعيين ميگردد.

## فصل چهارم

## تدابيرحفاظت زمين واعماق آن

## (ليتوسفير)

مادهٔ سى ويكم :

زمينــداران واســتفاده كننــدگان مكلفندكــه اززمــين ،مطــابق بــه اهــداف آن اســتفاده كننــد.

**دوه دېرشمه ماده :**

ځمکوال اوله هغه نه گټه اخيستونکي دځنګلونو اوڅړځايونو داقتصادي کرنيزو، تخنيکي حاصلاتو دزياتولو اوداوبولګولو (هايدروتخنيکي) نظم داصلاحاتو لپاره داغېزمنو تدبيرونو په نيولو مکلف دي اودباداوبو په واسطه دځمکي دويجاړېدو، دځمکو دښوره (نمکي) کېدو او ککړېدو اودهرزه ګيا وودودې دمخنيوي په برخه کې دي لازم اقدامات وکړي.

**دري دېرشمه ماده :**

ددغه قانون په (۳۲) ماده کې درج شوي تدبيرونه داقتصادي اوټولنيزې پرمختيا په برنامو کې په پام کې نيول کېږي اودوزارتونو، ادارو اوموسسو او ځمکوالو په واسطه عملي کېږي.

**څلوردېرشمه ماده :**

صناعتي اوساختماني اداري، موسسې اومراجع بايدد کرنې ځمکې داضافي توليدي موادو اودفاضله

**مادهٔ سی ودوم :**

زمينداران واستفاده کنندګان آن، مکلف به اتخاذ تدابير موثر درجهت افزايش حاصلات اقتصادی، زراعتی تخنيکی، اصلاحات نظم آبياری (هايدروتخنيکی) جنګلات وعلفچرهابوده ودرزمينهٔ جلوګيری ازتخريب زمين، توسط بادوآب، نمکی شدن وملوث شدن زمين ها، نموی ګياه های هرزه، اقدامات مقتضی به عمل آورند.

**مادهٔ سی وسوم :**

تدابيرمندرج مادهٔ سی ودوم اين قانون، دربرنامه های انکشافی، اقتصادی واجتماعی درنظر ګرفته شده وتوسط وزارت ها، ادارات، موسسات وزمينداران عملی ميشود.

**مادهٔ سی وچهارم :**

ادارات وموسسات صناعتی وساختمانی نبايدزمين های زراعتی را، توسط مواداضافی توليدی وآب های

اوبوپه واسطه ككړې نكړي.

**پنځه دېرشمه ماده :**

ترځمكې لاندې ټولې منابع ،چې دامارت ترمجازوتصرف لاندې دي دګټې اخيستنې وړاودګټې نه اخيستلووړمنابعوپه ګډون واحده امارتي منبع جوړوي .

**شپږدېرشمه ماده :**

(۱) امارت دځمكې پېژندنې (جيولوژيكي) څېړنو،دكانونو دراويستلو،له ودانيواوترځمكې لاندې هغوتأسيساتونه دګټې اخيستلوپه مقصد چې دكانونوله راويستلوسره اړيكي لري اودنوروامارتي اړتياووډپوره كولوپه مقصدكولاى شي دشريعت له حكمونو سره سم دځمكې تلّ دامارتي ګډو،خصوصي اداروأومؤسسواوانفرادي اشخاصوپه واک كې وركړي .

(۲)دګټې اخيستلولپاره دځمكې دتل په واک كې وركولو كړنلاره دتقنيني سندونوپه واسطه تنظيمېږي.

فاضله ملوث سازند.

**مادۀ سي وپنجم :**

تمام منابع زيرزميني كه درتصرفات مجازامارت قرارداشته ،به شمول قسمت هاى قابل استفاده وغير قابل استفادۀ آن منبع واحدامارتي راتشكيل ميد هند.

**مادۀ سي وششم :**

(۱)امارت به منظورمطالعات زمين شناسي، استخراج معادن ،ساختمان واستفاده ازتأسيسات زيرزميني كه بااستخراج معادن ارتباط داشته وبر آورده شدن سائرنيازمندي هاى امارتي ،ميتواند طبق احكام شريعت اعماق زمين رادراختيارمؤسسات وادارات امارتي مختلط ،خصوصي واشخاص انفرادى قراردهد.

(۲)طرزالعمل دراختيارگذاشتن اعماق زمين براى استفاده،توسط اسنادتقنيني تنظيم ميگردد.

اووه دېرشمه ماده:

په سمه اومشروع توګه د ځمکې له تل نه د ګټې اخيستنې امارتي څارنه د خاصو واکونو او مکلفيت لرونکو ادارو په غاړه ده او پورتنۍ مراجع د دغو لاندې فعاليتونو په رعايتولو مکلفې دي.

۱- په سمه او مشروع توګه له کانونو نه ګټه اخيستل او د ځمکې د تل د ساتنې په برخه کې د څېړنو ترسره کول.

۲- د کانونو د زېرمو د محاسبې د ټاکل شوي نظم تأمينول.

۳- د ځمکې له تل نه د ګټې اخيستنې د بې خطره کارد تر سره کولو د مقرراتو او معيارونو رعايتول.

۴- د ځمکې په تل کې د کار د زيانمنو اغېزو په وړاندې د ودانيو، تأسيساتو او د برمې د څاګانو، د ژوندانه د چاپېريال ساتنې او د امنيت د تأمينولو لپاره د لازمو تدبيرونو نيول.

۵- په کانونوکې د اوبو، تېلو، ګاز او د فاضله اوبو د نفوذ په مخنيوي پورې د اړوندو تد بيرونو نيول او رعايتول.

مادهٔ سي و هفتم :

مراقبت امارتي بر استفادهٔ صحيح و مشروع از اعماق زمين، به عهدهٔ مراجع داراي صلاحيت و مكلفيت هاي خاص ميباشد و مراجع فوق الّذكر، مكلف به رعايت فعاليت هاي ذيل ميباشند.

۱- استفادهٔ صحيح و مشروع از معادن و انجام مطالعات در زمينهٔ حفاظت اعماق زمين.

۲- تأمين نظم تعيين شدهٔ محاسبه ذخائرمعادن.

۳- رعايت مقررات و معيار هاي انجام كار بي خطر استفاده از اعماق زمين.

۴- اتخاذ تدابير لازم، جهت تأمين امنيت حفاظت محيط زيست تعميرات،تأسيسات، چاه هاي برمه در برابر اثرات مضر كار در اعماق زمين.

۵- اتخاذ و رعايت تدابير مربوط به جلوګيري از نفوذ آبها، نفت،ګاز و آبهاي فاضله درمعادن.

۶- د کانونو د راویستلو په وخت کې د کانونو د ځمکپېژندنې او نقشې اخیستنې د کارونو د اجراءکولو د مقرراتو رعایتول.

**اته دېرشمه ماده :**

دکانونو د څارنې امارتي اداري دغه لاندې واکونه لري.

۱- د ځمکې د تل د ساتنې په برخه کې د بې خطره کار د تر سره کولو له مقرراتو او معیارونو نه د سر غړونې په صورت کې د ځمکې له تل نه په ګټې اخیستلو پورې د اړوندو کارونو بندول.

۲- په خپل سر د ځمکې له تل نه د ګټې اخیستنې بندول او په هغو ساحوکې په خپل سر د ودانیو د جوړولودکارمخنیوی چې د زېرمو لپاره ګټور وبلل شي، په دې شرط چې شرعي مجوزولري.

**۳- د ځمکې د تل د ساتنې د بې خطره کار د ترسره کولو له مقرراتو او معیارونو نه د سر غړونې د مخنیوي په برخه کې د ضروري لارښوونو صادرول.**

۶- رعایت مقررات اجراي کار هاي زمین شناسي و نقشه برداري معادن هنگام استخراج معادن.

**مادۀ سی وهشتنم :**

ادارات امارتي نظارت برمعادن داراي صلاحیت هاي ذیل اند:

۱- متوقف ساختن کارهاي مربوط به استفادۀ اعماق زمین، در صورت تخلف از مقررات و معیارهاي اجراي کار بی خطر در زمینۀ حفاظت اعماق زمین.

۲- قطع استفادۀ خود سرانه از اعماق زمین و منع اعمار ساختمان هاي خود سرانه در ساحاتیکه براي ذخائر، مفید تلقی شود، مشروط بر اینکه مجوز شرعی داشته باشد.

**۳- ارائه دساتیر ضروری در زمینه رفع تخلفات از مقررات ومعیارهاي انجام کار بی خطر حفاظت از اعماق زمین.**

۴- د پیښواو حالاتو د عواملو او شرائطو او د هغو زیانونو د علتونو په هکله د څېړنو ترسره کول چې د ځمکې له تل نه د ګټې اخیستلوپه وخت کې متصور دي او په دي برخه کې د لازمو تدّبیرونو نیول.

۵- د نورو مجازو تدبیرونونیول.

نهه دېرشمه ماده :

د ځمکې د تل د ځمکپېژندنې پر څېړنو باندې امارتي څارنه په داسې ترتیب سره چې د وزیرانو شورئ له خوا تثبیتیږي ترسره کېږي.

څلویښتمه ماده :

وزارتونه، اداري او د اداري څارنې نوري مراجع، دځمکې له تل نه د ګټې اخیستلود مقرراتو په رعایتولومکلف دي.

پنځم فصل

د اوبو د چاپیریال ( هایدروسفیر) ساتنې او په هغو باندې د زیانمنو اغېزو د مخنیوي تد بیرونه

یوڅلویښتمه ماده :

د افغانستان په اسلامي امارت کې د اوبو

۴- انجام تحقیقات دربارهٔ شرائط و عوامل حوادث حالات و علل خساراتیکه هنگام استفاده از اعماق زمین متصور باشد و اتخاذ تدابیر لازم در زمینه.

۵- اتخاذ سائر تدابیر مجاز.

مادهٔ سي و نهم :

مراقبت امارتی بر مطالعات زمین شناسی اعماق زمین، به ترتیبیکه از طرف شورای وزیران تثبیت میگردد، صورت میگیرد.

مادهٔ چهلم :

وزارت ها، ادارات و سائر مراجع نظارت اداری، مکلف به رعایت مقررات استفاده از اعماق زمین میباشند.

فصل پنجم

تدابیر حفاظت آب و جلوگیری از اثرات مضر بر آن ( هایدروسفیر )

مادهٔ چهل و یکم :

مطابق به قانون استفاده از منابع آب

له سر چینو نه د کاراخیستلوله قانون سره سم، اوبه عامه شتمني ده او د امارت له خوا ساتل کېږي او له هغو نه ګټه اخیستل امارت تنظیموي.

**دوه څلوېښتمه ماده :**

ټولې اوبه ( د اوبو تأسیسات ) له ککړتیا نه چې د خلکو سلامتیا ته د زیان رسولو د کبانو د زېرمو د کمښت، د اوبو دوېش د شرائطو د خرابولو او نورو ناوړو اغېزو چې د اوبو د فزیکي،کیمیاوي او د ژوند پېژندنې (بیولوژیکي) خواصو د بدلونونو سبب کېږي او هم د ځمکې پر مخ د اوبو ( هایدرولوژیکي) او تر ځمکې لاندې اوبو پېژندنې (هایدروژیولوژیکي ) نظم ګډوډوي، د ساتنې وړ دي.

**درې څلوېښتمه ماده :**

د اوبو د ساتنې او په هغو باندې د زیانمنوونکو اغېزو د مخنیوي او له منځه وړلو تدبیرونه، د امارت په ملي پرمختیائي او اقتصادي پلانونوکې په پام کې نیول کېږي.

درامارت اسلامی افغانستان، آب دارائي عامه بوده و توسط امارت حفاظت میشود و استفاده از آنرا امارت تنظیم مینماید.

**مادۀ چهل و دوم :**

تمام آبها ( تأسیسات آبی ) از ملوث شدن که باعث ضرر به سلامت مردم، کاهش ذخائر ماهی، خرابی شرائط توزیع آب و سائر اثرات نامطلوب که باعث تغییرات خواص فزیکي، کیمیاوي، زیست شناسی ( بیولوژیکي ) آبها میگردد و هم نظم آب شناسی روي زمین ( هایدروژیولوژیکي ) و آبهاي تحت الارضی ( هایدروژیلوژیکی ) را مختل میسازد،قابل حفاظت اند.

**مادۀ چهل و سوم :**

تدابیر حفاظت آب و جلوگیری و امحای اثرات مضر بر آن، در برنامه هاي انکشافی و اقتصادی ملی امارت در نظر گرفته میشود.

**خلورڅلوېښتمه ماده :**

(۱) د اوبو تاسيساتو ته د حياتي توليدي فاضله موادو او د نورو اضافي موادو اچول منع دي.

(۲)د اوبو په تاسيساتوکې، د ښارونو او فابريکو د فاضله اوبو اود نورو فاضله اوبو اچول، په هغه صورت کې چې له مجازو معيارونونه زياتې نشي،يوازې د څانګړو واکونو او مکلفيتونو لرونکو اما رتي ادارو په اجازه او دعامې روغتيا وزارت په موافقه تر سره کيدای شي.

**پنځه څلوېښتمه ماده :**

ادارې، مؤسسې، د اوبو د لېږدونې د وسائلو(ټانکرونو) اود نل د اوبو خاوندان دې دغورو موادو،روغنياتو،تېلو، کيمياوي محصولاتواوموادوداچولوله امله د اوبو د ککړوالي مخه ونيسي.

**شپږڅلوېښتمه ماده :**

د ښښاک داوبو،د معالجوي اوبواوپه توبرکلوزداخته کسانو(مسلولينو)د استراحت ځاي يا روغتون (سناتوريم)

**مادهٔ چهل چهارم :**

(۱) پرتاب مواد فاضلهٔ توليدي حياتي و سائرمواد اضافي به تأسيسات آبي منع ميباشد.

(۲) ريختن آبهاي فاضلهٔ شهر ها فابريکات و سائر آبهاي فاضله در تأسيسات آبي، در صورتيکه از معيار هاي مجاز تجاوز نکند، تنها به اجازهٔ ادارات امارتی داراي صلاحيت ومکلفيت هاي خاص و موافقهٔ وزارت صحت عامه صورت گرفته ميتواند.

**مادهٔ چهل و پنجم :**

ادارات،مؤسسات، مالکين وسائل حمل و نقل انتقال آب ( تانکرها ) و آبهاي نل مکلف اند از ملوث شدن آبها در اثر ريختن روغنيات مواد چرب و نفت، محصولات وموادکيمياوي،جلوگيري به عمل آورند.

**مادهٔ چهل وششم :**

حفاظت آبهاي آشاميدنی،آبهاي معالجوی وآبهاي استفادهٔ روزمرهٔ آسايشگاه يا در مانگاه(سناتوريم)مبتلايان به توبرکلوز(مسلولين)

د ورځنی استفادې د اوبو ساتنه په داسې ترتيب تر سره کېږي چې د وزيرانو شورې له خوا تثبيتېږي.

**اووه څلوېښتمه ماده :**

که چېرې دبرمه کولو اود کانونو دنورو چارو د ترسره کولو په وخت کې تر ځمکې لاندې د اوبو زېرمې رابرسېره شي،اړوند موظفين مکلف دي چې مربوطو مراجعو ته خبر ورکړي تر څو د دغو اوبو د ساتنې په برخه کې لازم تد بيرونه ونيسي.

**اته څلوېښتمه ماده :**

موسسې او ادارې مکلفې دي چې له اوبونه د ګټې اخيستلو اوساتنې د تنظيموونکو مراجعو په موافقه،د سېلاوونو د راوتلو، ډوبېدو،د سيندونو د غاړو، بندونو، ويالو او نورو تجهيزاتو د تخريبېدو دخطردمخنيوي اوپه جبه زارو او ښوره زارو (باطلاق ) باندې د ځمکو د بدلېدو، د ډنډونو د منځ ته راتلو، ولاړو اوبو اود نوروزيانمنوونکواغېزودپيدا کېدو د مخنيوي په مقصد لازم تد بيرونه ونيسي.

به ترتيبيکه ازطرف شوراي وزيران تثبيت ميگردد صورت ميگيرد.

**مادهٔ چهل و هفتم :**

در صورت اجراي برمه كاري ها و ديگرامور معادن، هر گاه ذخائر آبي تحت الارضي كشف شود،موظفين مكلف اند به مراجع مربوط اطلاع داده تا در زمينهٔ حفاظت آبهاي مذكور تدابير لازم اتخاذ گردد.

**مادهٔ چهل وهشتم .**

مؤسسات و ادارات، مكلف اندكه باموافقهٔ مراجع تنظيم كنندهٔ استفاده و حفاظت آبها،به غرض جلوگيري از خطر سيلاب،غرق شدن،تخريب سواحل،بند هاانهاروسائرتجهيزات تبديل اراضي بباطلاقي و شوره زار شدن،پيدائش مردابهاوسائر اثرات مضرتدابير اتخاذ نمايند.

## شپږم فصل

## دځنگلونو د ساتنې او د ځنگلونو، ځرځايونو او ملي عمومي بڼونو (پارکونو) د جوړولو د سيمو د ساتنې تد بيرونه

**نهه څلوېښتمه ماده :**

(۱)ټول ځنگلونه اوځرځايونه او ملي عمومي بڼونه د امارت دمواتي شتمنى له جملې څخه ده اود هېوادد ځنگلونو زېرمه جوړوي په دی شرط چې دځمکوالى دچارودتنظيم دقانون ددوه يمې مادې د(۹)جزء مطابق دكليوخاصه چراگاه نه وى.

(۲)د ځنگلونو زېرمه امارتي انحصاري ملكيت دي او له هغو نه د گټې اخيستلو لارې چارې امارت تنظيموي.

**پنځوسمه ماده :**

هغه امارتي موٗسسې او ادارې، گډ او خصوصي شركتونه او اشخاص چې د امارت په اجازه له ځنگلونونه گټه اخلي له ځنگلونو،ځرځايونو او له ملي عمومي بڼونونه گټه اخيستونكي دي.

**يوپنځوسمه ماده :**

له ځنگلونو، ځرځايونو او ملي پاركونونه د گټې اخيستلو، د بيا توليد او ساتنې څارنه

## فصل ششم

## تدابير حفاظت جنگلات مناطق احداث جنگلات و علفچر ها وباغ ها ( پاركها)عمومي ملي

**مادهٔ چهل ونهم :**

۱-تمام جنگلات،علفچرهاوباغ هاي عمومي (پارک ملي)ازجملهٔ دارائی موات امارت بوده وذخيرهٔ جنگلات كشورراتشكيل ميد هد مشروط براينكه مطابق حكم جزء(۹)مادهٔ دوم قانون تنظيم امورزمينداری ازجمله چراگاه خاص قريه نباشد.

۲-ذخيرهٔ جنگلات امارتي دارائي انحصاري امارت بوده و راه هاي استفادهٔ آنرا امارت تنظيم مينمايد.

**مادهٔ پنجا هم :**

موٗسسات وادارات امارتي،شركت هاي مختلط خصوصي واشخاص كه به اجازهٔ امارت از جنگلات بهره برداري مينمايند استفاده كننده گان جنگلات علفچرهاوباغ هاي عمومي (پارک ها)ميباشند.

**مادهٔ پنجاه ويكم :**

مراقبت براستفاده، توليد مجدد،حفاظت ونگهداري جنگلات، علفچرها وباغ هاي.

د امارت په غاړه ده چې د كرنې او مالدارۍ وزارت او د نوروځانګړوواكونو او مكلفيتونو لرونكو ادارو له لارې د قانون له مخې تر سره كېږي او له ځنګلونو نه د ګټې اخيستلو ټاكلي نظم، د هغو ثبت او ساتنه او دغه راز په ځنګلونو پورې په اړوندو قوانينو كې نوردرج شوي مقررات او معيارونه د وزارتونو، ادارو مؤسسو او د انفرادي اشخاصو له خوا رعايتيږي.

دوه پنځوسمه ماده :

د امارت دڅارنې(كنترول) مسؤلي ادارې د ځنګلونو، څرځايونواود عمومي بڼونو(ملي پاركونو)وضعې اوله هغونه د ګټې اخيستلو او ساتنې په هكله دغه لاندې دندې لري :

۱-له برنامې سره سم د اورلګېدنې ضد ساختمانونو نه د ګټې اخيستلو له لارې د اورلګيدنې له خطرنه د ځنګلونو او څرځايونو ساتنه او په خپل وخت د اورلګيد نې د پېښبود احتمالاتو كشفول اوله هغوسره مبارزه كول .

عمومي به عهدۀ امارت بوده كه از طريق وزارت زراعت و مالداري وسا ئر ادارات داراي صلاحيت و مكلفيت هاي خاص، طبق قانون صورت ګرفته و نظم معينۀ استفاده از جنګلات، ثبت و حفاظت آن و همچنين سائر مقررات و معيار هاي مندرجۀ قوانين مربوط جنګلات، توسط وزارت ها، ادارات، مؤسسات و اشخاص انفرادي رعايت ميګردد.

مادۀ پنجاه ودوم :

ادارات مسؤل نظارت( كنترول)امارتي درمو رد وضع،استفاده، حفاظت ونګهداري جنګلات، علفچرها وباغ هاي عمومي(پارک ملي)، داراي وظائف ذيل ميباشند:

۱- حفاظت جنګلات و علفچرها از خطر حريق، به طريق استفاده از ساختمان هاي ضد حريق طبق برنامه و كشف به موقع احتمالات وقوع حريق و مبارزه با آن.

۲-په غیر قانوني ډول د ځنګلونو د غوځولو او د هغو نورو فعالیتونومخنیوی چي ځنګلونو ته زیان ورسوي او ملي اقتصاد تاواني کړي.

۳- د ځنګلونو او څرځایونو د بیا تولید په برخه کې د لازمو تدبیرونو نیول.

۴- له ځنګلونو اوڅرځایونو نه د ګټې اخیستلو د ټاکلی نظم تأمینول او له اړوندو قوانینونه د سرغړونو مخنیوی.

۵- د زیان رسوونکو موجوداتو او ناروغیوله پیدا کېدو نه د ځنګلونو او څرځایونو د ساتنې لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

۶- په ځنګلونو او څرځایونو کې د ښکار د مقرراتو او معیارونو رعایتول او له سرغړو ونکو سره مبارزه.

درې پنځوسمه ماده :

هغه مؤسسې او ادارې چې فعالیتونه ئې د ځنګلونو او څرځایونو په حالت او بیا تولید باندې اغېزه ولري، مکلف دي چې، د کرنې او مالدارۍ وزارت او د نورو خانګړو واکونو او مکلفیتونو لرونکو

۲- تأمین حفاظت جنګلات از قطع غیر قانوني، صدمه و سائر فعالیت هائیکه به جنګلات ضرر وارد نموده و اقتصاد کشور را خساره مند سازد.

۳- اتخاذ تدابیر لازمه در زمینهٔ تولید مجدد جنګلات و علفچر ها.

۴- تأمین نظم معینهٔ استفاده از جنګلات و علفچر ها و جلوګیري از تخلفات قانوني مربوط.

۵- اتخاذ تدابیر لازم، جهت حفاظت جنګلات و علفچر ها از پیدایش موجودات مضره و امراض.

۶- رعایت مقررات ومعیارهاي شکار در جنګلات و علفچرها و مبارزه با متخلفان.

مادهٔ پنجاه وسوم :

مؤسسات وادارتیکه فعالیت شان بر وضع وتولید مجددجنګلات و علفچرها تأثیر داشته،مکلف اند که باموافقه وزارت زراعت ومالداری وسائر مراجع دارای صلاحیت ومکلفیت های خاص

مراجعو په موافقه د روغتیائي صنعت (صحي تکنالوجي) تدبیرونه او د ځنګلونو او ځړځایونو د ساتنې لپاره نور تدبیرونه ونیسي.

**څلور پنځوسمه ماده :**

د ځنګلونو او ځړځایونو د ساتنې له مقرراتو نه له سرغړونې سره د مبارزې په برخه کې د ځنګلونو او ځړځایونو د ساتنې د مسؤلو مراجعو دندې او واکونه او له ځنګلونو او ځړځایونو نه د ګټې اخیستلو د مقرراتو رعایتول، د تقنیني سندونو په واسطه تنظیمېږي.

## اووم فصل

## د طبیعت په ساتنې پورې له اړوندو قوانینو څخه د سر غړونې مسؤلیت

**پنځه پنځوسمه ماده :**

په خپل سر له فضا، ځمکې او د هغې له تل، حیواناتو نباتاتو ،اوبو ځنګلونو،ځړځایونو، عمومي ملي بڼونو (ملي پارکونو) نه ګټه اخیستل او هغه نور اجراآت چې په مستقیم اویاغیر مستقیم ډول د امارتي ملکیت له حق نه ناوړه استفاده وي، د اعتبار وړ نه بلل کېږي.

تدابیر صنعت صحی(تکنالوژی صحی)وسائر تدابیر را جهت حفاظت جنگلات و علفچرها اتخاذ نمایند.

**مادهٔ پنجاه و چهارم :**

وظائف و صلاحیت های مراجع مسؤل حفاظت جنگلات و علفچرها در زمینهٔ مبارزه با تخلف از مقررات حفاظت و نگهداري جنگلات و علفچرها و رعایت مقررات استفاده از جنگلات و علفچرها، توسط اسناد تقنیني تنظیم میگردد.

## فصل هفتم

## مسؤلیت تخلف از قوانین مربوط به حفاظت طبیعت

**مادهٔ پنجاه و پنجم :**

استفادهٔ خود سرانه از فضاً، زمین و اعماق آن و حیوانات و نباتات، آبها جنگلات ،علفچرها، باغ های عمومي ( پارک ملي) و سائر اجراآتیکه مستقیماً ویا به صورت غیر مستقیم سوء استفاده از حق مالکیت امارتي باشد. فاقد اعتبار دانسته میشود.

شپږ پنځو سمه ماده :

(۱) هغه اشخاص چې دګټې اخیستنې له مقررا تواو د طبیعت د ساتنې له مقرراتو نه په سرغړونې تورن کېږي،دشرعي حکمونو سره سم تعزیرېږي.

(۲) هغه مادي زیانونه چې ددې مادې دلمړۍ فقرې له مندرجاتونه د مؤسسو، ادارو او انفرادي اشخاصوله لوري دسرغړونو له امله منځ ته راځي،دشریعت د حکمونو مطابق د زیان د جبران مستوجب پېژندل کېږي..

اووه پنځوسمه ماده :

که چېرې د طبیعت له غیر مجاز اکتساب څخه محصولات تر لاسه شوي وي،د محصولاتو یا د هغو د بیې د استرداد موضوع دګ اړوندې شرعي محکمې ته وړاندې شي.

په غیر مجاز ډول د تر لاسه شوو محصولاتو د استرداد د نه امکان په صورت کې ئې بیه له سر غړونکي څخه اخیستل کېږي.

مادهٔ پنجاه و ششم :

(۱) اشخاصیکه متهم به تخلف از مقررات استفاده و یا مقررات حفاظت طبیعت میگردند، مطابق احکام شرعي تعزیر میشوند.

(۲) خسارات مادٔایکه در اثر تخلفات مندرج فقرهٔ اول این ماده توسط مؤسسات، ادارات و اشخاص انفرادي بوجود میآید، مطابق احکام شریعت مستوجب جبران خساره شناخته میشود.

مادهٔ پنجاه و هفتم :

هر گاه از اکتساب غیر مجاز طبیعت محصولات به دست آمده باشد،موضوع استرداد محصلات یا قیمت آن به محکمهٔ شرعي مربوط محول گردد.

در صورت عدم امکان استرداد محصولات بدست آمده بطور غیر مجاز،قیمت آن از متخلف اخذ میگردد.

**اته پنځوسمه ماده :**

د مؤسسو او ادارو د سرغړونې په صورت کې د دې قانون او د افغانستان اسلامي امارت د نورو تقنيني سندونو له مخې له طبيعي منابعونه د ګټې اخيستلو امتياز اخيستل کېږي او په هغو حالاتو کې چې طبيعت ته خطر متوجه کړي، سلبېږي..

## اتم فصل

## وروستني حکمونه

**نهه پنځوسمه ماده :**

دغه قانون په ټولو مؤسسو،دامارتي،ګډو خصوصي اداروا و اتباعو باندې د تطبيق وړدی.

**شپېتمه ماده :**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپورشي،ددغه قانون په نافذېدوسره دطبيعت د ساتنې هغه قانون چې د ۱۳۶۵هجري لمريز کال د کب ( حوت ) د مياشتې په پنځلسمه نېټه په (۶۲۸)ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی،لغوه بلل کېږي.

**مادۀ پنجاه وهشتم :**

در صورت تخلف مؤسسات وادارت امتياز استفاده از منابع طبيعی مطابق اين قانون و سائر اسناد تقنينی امارت اسلامی افغانستان متوقف و در حالاتيکه خطری را متوجه طبيعت گرداند سلب ميگردد.

## فصل هشتم

## احکام نهايي

**مادۀ پنجاه و نهم :**

اين قانون بالاي کليه مؤسسات، ادارات امارتي، مختلط، خصوصي و اتباع قابل تطبيق ميباشد .

**مادۀ شصتم :**

اين قانون ازتاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمي نشر گردد،با انفاذ اين قانون قانون حفاظۀ طبعيت منتشرۀ جريدۀ رسمي شماره (۶۲۸ ) مؤرخ ۱۵ حوت ۱۳۶۵ ملغی شناخته ميشود.

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

# دنباتي قرانطين دخدمتونوقانون .

[illegible]

[illegible]

۳- دکرنیزو موادو او نورو نباتي محصولاتو د تولید ، برابرولو ، لیږدولو ساتنې ،پلورلواوعملیي(پروسس) کې د قرانطیني تدبیرونو او مقرراتو له رعایتولو څخه ددائمي څارنې سمبالتیا.

څلورمه ماده :

په دې قانون کې دغه اصطلاح گانې لاندینی معناوي لري:

۱- نباتي آفتونه :له ټولو هغو ژوندیو عواملو څخه عبارت دي لکه حشرې نیتودونه ، ناروغۍ ، ( مرخیړي ویروسونه،بکتریاوې)اوبیکاره(هرزه)گیاوي چې پر نباتاتواو نباتي محصولاتو یرغل کوي او د کمیت او کیفیت له پلوه د تاوان باعث گرځي .

۲- قرانطیني آفتونه : له هغه ژوندي مضر عامل څخه عبارت دي چې اصلاً په هېواد یایوه سیمه کې موجود نه وي او له بل هېواد یا سیمې څخه راننوځي اوسرایت وکړي اواقتصادي زیان پېښ کړي .

۳- قرانطیني مواد :د ټولو هغو مالونو اجناسو او کرنیزو امتعو څخه عبارت دي

۳- سازماندهي مراقبت دائمي از رعایت مقررات و تدابیر قرانطینی در تولید تهیه،انتقال ، حفاظت ، عملیهٔ(پروسس) و فروش مواد زراعتي و سائر محصولات نباتي .

مادهٔ چهارم :

اصطلاحات آتي دراین قانون دارای معاني ذیل میباشد :

۱- آفات نباتي: عبارت است از تمام عوامل زنده مانند حشرات ، نیتود ها ،امراض (سمارق ها، و یروس ها باکتریا ها )وگیاه هاي هرزه که بالاي نباتات و محصولات نباتي حمله ورشده از لحاظ کمیت و کیفیت باعث خساره گردد.

۲- آفات قرانطینی : عبارت است از آن عامل زنده و مضریکه اصلاً در کشور یا یک منطقه موجود نبوده ، از کشور یا منطقهٔ دیگر داخل وسرایت نموده خسارهٔ اقتصادی به بار آورد .

۳- موادقرانطینی:عبارت است از تمام اموال ، اجناس و امتعهٔ زراعتي

چې په قرانطيني آفتونو ککړوي او د آفتونو د لېږديدو سبب شي .

۴- دچمتوکولو عمليه ( پروسس) :له هغې عمليې څخه عبارت ده چې د نباتي محصولاتو بڼه د ښې ګټې اخيستنې په منظور بدلوي.

۵- بهرني قرانطين : دهغو قرانطيني خدمتونو له معيارونو څخه عبارت دي چې يوازې په نړيواله ساحه کې تطبيقيږي.

٦- کورني قرانطين : له هغو قرانطيني خدمتونو څخه عبارت دي چې يوازې د هېواد په دننه سيمو او ولايتونو کې تطبيقيږي .

۷- تصديق ليک ( سرتيفيکيت ): له هغه نباتي روغتيائي تصديق ليک څخه عبارت دی چې د نباتي مال ديوې څانګړې او ټاکلې اندازې د صادرولو لپاره له قرانطيني کتنو وروسته د اجازه ليک په بڼه له قرانطيني څانګې څخه دبيې په بدل کې سوداګرواو نورو اشخاصو ته ورکول کېږي.

که باآفات قرانطيني آلوده بوده وباعث انتقال آفات ګردد.

۴- عمليهٔ تهيه (پروسس) : عبارت است از عمليه ايکه محصولات نباتي را به منظور استفادهٔ بهتر تغيير شکل ميدهد .

۵-قرانطين خارجی : عبارت است از معيار هاي خدمات قرانطيني که در ساحهٔ بين المللي تطبيق ميګردد.

٦- قرانطين داخلي : عبارت است از خدمات قرانطيني که صرف در ولايات و مناطق داخل کشور تطبيق ميګردد.

۷- تصديق نامه(سرتيفيکيت):عبارت است ازتصديق نامهٔ صحی نباتی که بعد از معاينات قرانطينی به صورت اجازه نامه ، جهت صدور يک مقدار معين و مشخص امتعهٔ نباتي ، از شعبهٔ قرانطين در بدل قيمت به تاجر و سائر اشخاص داده ميشود .

۸- عفوني ضد :د هغو نباتي آفتونو د وژوونکودرملو د استعمال عمليه ده چې د قرانطيني موادو دبې ضرره کولو په مقصد کارول کېږي .

**پنځمه ماده :**

نباتي قرانطيني تدبيرونه په لاندې موارد و کې نيول کېږي :

۱- دکرنې تخمونه ، قلمې ، نيالگي، زينتي نباتات،ځنگلي نباتات اونورنباتي محصولات چې دنباتي آفتونواوبيکاره (هرزه)گياوودلېږديدو سبب کېدای شي .

۲- مرخېړي ، باکترياگانې ، ويروسونه نيتودونه سپږی (کنې ) او حشرات .

۳- دنباتي آفتونو مجموعه (کلکسيون) او دهغوی دضرربېلگې.

۴- کرونـدې ، ځنگلونه ، څرځايونه کرنيزماشين آلات اود خاورې دلېږديدو اصلاح او چمتوکولو نور وسائل اوآلات .

۵- د ځينو صنعتي مالونوبارجامه، د ترلو وسائل ، د خاورې بېلگي (سمپل) دلېږدونې وسائل او نور هغه مواد چې لـه بهريا دهېوادله دننه ترقرانطين لاندې سيمو

۸- ضد عفوني :عبارت است ازعمليهٔ استعمال ادويهٔ کشندهٔ آفات نباتي که به مقصدبی ضرر نمودن مواد قرانطينی به کاربرده ميشود .

**مادهٔ پنجم :**

تدابير قرانطيني نباتي در موارد ذيل اتخاذ ميگردد:

۱- تخم هاي بذری ، قلمه ها، نهال ها نباتات زينتي، نباتات جنگلی و سائر محصولات نباتي که باعث انتقال آفات نباتي و گياه هاي هرزه شده بتواند.

۲-سمارقها، باکترياها ، ويروس ها نيتودها ، کنه ها و حشرات .

۳- مجموعه (کلکسيون) های آفات نباتي و نمونه های ضرر آنها .

۴- مزارع،جنگلات ، علفچرها ، ماشين آلات زراعتي وسائرآلات و وسائل انتقال،اصلاح وآماده نمودن خاک .

۵- بارجامهٔ بعضی اموال صنعتي ،وسائل بسته بندي ،نمونه (سمپل) های خاک وسائل حمل ونقل وسائر موادیکه باعث انتقال آفات نباتي و گياه های هرزهٔ

ځخه د نباتي آفتونو اوقرانطيني بيكاره (هرزه)ګياوو دلېږدوني سبب ګرځي .

۶- دامارتي او خصوصي مؤسسو د نباتي محصولاتو د زېرمو ګدامونه چې محصولات ، توليد ، برابراوپروسس كوي.

شپږمه ماده :

په هېواد كې دنباتي قرانطين دامارتي خدمتونو فعاليت د افغانستان اسلامي امارت دكرني او مالدارۍ وزارت له خوا په لاندې توګه رهبري كېږي :

۱-د نباتاتو د كورني او بهرني قرانطين د عملي تدبيرونونيول اوپه هېواد كې د هغو د تطبيق ځخه دمسؤليت لرل.

۲- دواک په حدودو كې د اوامرواو حكمونوصادرول اودلوائحومنظورول اود وزارتونواړوندومؤسسو،دخصوصي توليداتودمالكينواودافغانستان اسلامي امارت داتباعوله خوادهغواجرا كول.

۳-دنباتي آفتونواوقرانطيني بيكاره(هرزه) ګياوودفهرست برابرول او

قرانطيني از خارج يا مناطق تحت قرانطين داخل كشور ميګردد.

۶- ګدام هاي ذخيرهٔ محصولات نباتي مؤسسات امارتي و خصوصي كه محصولات را توليد ، تهيه وپروسس مينمايند.

مادهٔ ششم :

فعاليت خدمات امارتي قرانطين نباتي در كشور ، توسط وزارت زراعت و مالداري امارت اسلامي افغانستان طور ذيل رهبري ميګردد:

۱- اتخاذ تدابير عملي قرانطين داخلي و خارجي نباتات وداشتن مسؤليت تطبيق آن در كشور .

۲-اصداراوامرواحكام ومنظوري لوائح در حدودصلاحيت و اجراي آن توسط وزارت ها و مؤسسات مربوطه،مالكين توليدات خصوصي و اتباع امارت اسلامي افغانستان .

۳- تهيه و تنظيم فهرست آفات نباتي و ګياه هاي هرزهٔ قرانطيني كه جهت

تنظيم چي دهغو پرضد دمجادلې لپاره تدبيرونه نيول کېږي.

۴- د نباتاتودتخم ، نباتاتو ، نباتي محصولاتو او د خلکو د گټي اخيستني وړ نورو موادوڅخه په توريد،لېږدلواو گټي اخيستنه کې د قرانطيني تدبيرونو وضع کول چي دهېوادله بهرنه ترقرانطين لاندې سيمو ته داخل يالېږدول کېږي .

۵- د نباتي قرانطين په هکله له نړيوالو سازمانونو سره متقابله مرسته.

۶- له قرانطيني مضره آفتونو څخه دنباتلتو او د هغو د محصولاتو د سلامتيا د ساتنې په منظور د فن له ځانگړتياوو او معيارونو سره سم چي په (۱۹۵۱) کال د نباتلتو د ساتنې په نړيوال جوړنليک (کنوانسيون ) کې وضع او په (۱۹۷۹) کال کې تعديل شوی دی ، د قرانطيني موادو او تصديق ليکونو په صادرولو پورې له اړوندو چلرو څخه د پلټنې (وارسي) لپاره د مقرراتو دوضع کولو او له اړوندو وسائلو څخه د گټي اخيستلو په هکله د لازمو تدبيرونو نيول پدی شرط چي دکنوانسيون مواد دشريعت سره ټکر ونه کړي.

مجادله عليه آنها تدابير اتخاذ ميگردد.

۴- وضع تدابير قرانطيني در توريد انتقال واستفاده ازتخم نباتات ،نباتات محصولات نباتي و سائر اموال مورد استعمال مردم که از خارج کشور به مناطق تحت قرانطين داخل ياانتقال ميگردد.

۵- همکاري متقابل باسازمانهاي بين المللي در مورد قرانطين نباتي.

۶- اتخاذ تدابير لازم ، مبني بر وضع مقررات و استفاده از وسائل مربوطه درجهت وارسي ازامور مربوط به صدور موادقرانطيني وصدورتصديق نامه ها مطابق به مشخصات فن ومعيارهائيکه د رمقاولهٔ ( کنوانسيون) بين المللي حفاظهٔ نباتات سال (۱۹۵۱) وضع ودر سال ۱۹۷۹ تعديل گرديده ، به منظور حفظ سلامت نباتات و محصولات آنها از آفات مضرهٔ قرانطيني مشروط براينکه موادکنوانسيون باشريعت مخالف نباشد.

۷-دنباتي قرانطين په برخه کې دنړيوالو موافقه ليکونوعقد کول اوپه موافقه ليکونوکــې د درج شويوژمنوپه اجرأکولوکې فعاله ونډه اخيستنه په دي شرط چي دشريعت سره ټکرونه لري.

۸- دنباتي قرانطــين لــه آفتونوڅخــه د پاک والي په منظوردقرانطيني متخصصينــو ترنظر لاندي دامارتي ادارو،موسســـو او انفرادي سوداګروپه ذريعه لــه هبوادنــه بهردنباتي مالونودزياتي اندازې برابرول.

## دوه يم فصل

## دنباتي قرانطين د چارو تنظيم

**اوومه ماده :**

دنباتاتو د ساتنې او قرانطين رئيس ، په عين وخت کې دنده لري چې په هېوادکېدنباتي آفتونوقرانطيني چارې تنظيم،تفتيش اووڅاري.

**اتمه ماده :**

د ولايتونو د نباتاتو د ساتنې او قرانطـــين مديران دنده لري چې په خپلــو اړونــدو ولايتونوکي دنباتي آفتونودقرانطين چــارى تنظيم ، تفتيش او وڅاري .

**نهمه ماده :**

دنبــاتي قرانطــين آمريــن دهــېوادپـــه

۷- عقد موافقت نامه هاى بــين المللــي در قسمت قرانطين نباتي وسهمګيري فعالانـــه دراجراي تعهدات مندرج موافقـــت نامـــه هامشروط براينكه باشريعت مخالف نباشد .

۸- تهيه مقادير بزرګ امتعـــه نبـــاتي از خارج كشور ، ذريعه ادارات امـــارتي موسسات و تجار انفرادى ، تحت نظـــر متخصصين قرانطيني ، به منظور عـــارى بودن از افات قرانطين نباتى .

## فصل دوم

## تنظيم امور قرانطين نباتي

**ماده هفتم :**

رئيس حفاظه نباتات وقرانطين درعين زمـــان وظيفه داردكه امورقرانطيني افات نباتي رادركشور تنظيم،تفتيش ومراقبت نمايد.

**ماده هشتم :**

مديران حفاظه نباتات وقرانطين ولايـلت موظف اند تا امور قرانطين افات نباتي را در ولايات مربوطه خويـــش ، تنظيـــم مراقبت و تقتيش نمايند.

**ماده نهم :**

امرين قرانطين نباتى در سرحدات ،بنادر

سرحدونو، سمندري او ځمکنیو بندرونو ګمرکونو ، هوائي ډګرونو ، پوسته خانو او ځمکنیو انتقالاتي (ترانسپورتي) لاروکې دقرانطيني چارو پرپلټنه هم مکلف دي .

لسمه ماده :

دنباتي قرانطين د خدمتونو اداري ، لاندې مسائل تنظيم اوتر سره کوي:

۱- هېواد ته د نباتي تخم، نباتاتو اونباتي محصولاتو د واردولو په منظور د قرانطيني شرائطو وضع کول او دهيواد داخل ته يا له قرانطين لاندې سيمو څخه دهېواد نورو سيمو ته ددغو موادولېږدول.

۲- دنباتاتو د تخم، نباتاتو،نباتي محصولاتو اونورو هغو موادو قرانطيني او تجزيوي اوتحليلي ( لابراتواري)کتنې چې هېواد تـه واردشوي او د نباتي آفتونو او قرانطيني هرزه ګياوودلېږدونې باعث ګرځي .

۳- د بار جامو ، پوستي غوټو ، د مسافرينو د لاسي بکسونواو انتقالاتي وسائلوکتنه او د لزوم په صورت کې ئې ضد عفوني کول

دريائي و زميني ، ګمرکات ،ميدان هاى هوائي ، پوسته خانه هاو راه هاى انتقالاتي (ترانسپورتي ) زميني کشور مکلف به تفتيش امور قرانطين نيز ميباشند.

مادهٔ دهم :

ادارات خدمات قرانطين نباتى ، مسائل ذيل راتنظيم و انجام مي نمايند :

۱- وضع شرائط قرانطينى به منظور توريد تخم نباتات ، نباتات و محصولات نباتي به کشور و انتقال اين مواد در داخل کشور يا ازمناطق تحت قرانطين به سائر مناطق کشور.

۲- معاينات قرانطينى وتجزيوى وتحليلى (لابراتوارى )تخم نباتات،نباتات و محصولات نباتى وسائرموادیکه وارد کشورګرديده وباعث انتقال آفات نباتى و ګياه هاي هرزهٔ قرانطيني ميشود.

۳-معاينه و درصورت لزوم ضد عفوني نمودن بارجامه ها ، بسته ها ي پستي بکس هاي دستي مسافرين و وسائل

چي له بهر څخه دافغانستان اسلامي امارت ته واردېږي .

۴- دنباتي آفتونودتشخيص اودمالونودبار جامودضد عفوني کولودفن (تکنالوژئ)دپېژندنې په منظوردقرانطيني او تجزيوي اوتحليلي (لابراتواري)کتنودلارو چاروطرح کول .

۵- دهغوقرانطيني آفتونواوهرزه وښو دژوندپېژندنې(بيولوژيکي)او دژوند چاپېريال ساتنې(ايکالوژيکي)مطالعات چې په هېواد کې موجودنه وي، يا په يوه ډېره محدوده ساحه کې خپاره شوي وي .

٦- دقرانطيني نباتاتو او نباتي محصولاتوکتنې چي بهرته صادرېږي.

۷- په وزارتونو،موسسواوارونډو ادارو کې دنباتي قرانطيني خدمتونودتدبيرونو له اجرأکولو څخه څارنه .

۸ - په قوريو،دکرنيزو علمي څېړنو په موسسو،داصلاح شووتخمونو او دزينتي ګلانودروزني په موسسو کې دقرانطيني تدبيرونو له اجرأکولوڅخه څارنه چې

انتقالاتي که از خارج به امارت اسلامي افغانستان وارد ميگردد.

۴- طرح شيوه(ميتود)هاي معاينات قرانطيني تجزيوي وتحليلي(لابراتواري) به منظورتشخيص آفات نباتي وصنعت (تکنالوجي)ضدعفوني نمودن بارجامه هاي‌اموال.

۵-مطالعات زيست شناسي(بيولوژيکي)و حفاظت محيط زيست (ايکالوژيکي) آفات قرانطيني و ګياه هاي هرزهٔ ايکه در کشور وجود نداشته يا دريک ساحهٔ خيلي محدود انتشار يافته باشد .

٦-معاينات قرانطيني نباتات ومحصولات نباتي که به خارج صادر ميګردد.

۷- مراقبت از اجراي تدابير خدمات قرانطيني نباتي در وزارت خانه ها مؤسسات و ادارات ذيربط.

۸- مراقبت از اجراي تدابير قرانطيني در قوريه ها ، مؤسسات تحقيقات علمي زراعتي و مؤسسات اصلاح تخم و تربيهٔ ګل هاي زينتي که به منظور تهيه و توليد

د قلمو ، نيالګيو ، دکرنې د سالمو تخمونـو دبرابرولواوتوليد په منظورجوړې شوې وي.

۹-له قرانطيني مقرراتوڅخه دسـرغړوونکو د شرعي مجازاتو لپاره د تدبـيرونونيول او ځارنوالـۍ يانوروواکمنومراجعوتـه لـه سندونو سره دهغو ورپيژندل.

۱۰-دقانون دحکمونومطابق په هېوادکـې دکورنيواوبهرنيوقرانطيني تدبيرونودپرلـه پسـې اجرألپـاره دلائحوجـوړول اودحکمونوصادرول.

۱۱-دقرانطيني بيکاره(هرزه)ګيـاوواو د آفتونوپرضددمبارزې دنويوتګ لاروءوسـائلو اولاروچـارودرواجولواودخلکود پوهـې دسطحې دلوړولوپه منظوردتبليغ سمبالول.

۱۲-دنباتاتودتخمونواوهغونباتي محصولاتو لپاره چې له بهرڅخـه واردېږي داجـازه ليکونواونوروقرانطيني سندونو برابرول.

يوولسمه ماده :

دنباتي محصولاتو اونباتـاتو واردول ، د کرنې اومالدارۍ وزارت دتشخيص له مخې د صادروونکي هېواد له تصديق ليک سـره يو ځاي . سره کېږي .

قلمه ها،نهال ها،تخم هاي سالم بـذري تأسيس شده باشد .

۹- اتخاذ تدابير جهت مجازات شـرعي متخلفين از مقررات قرانطين ومعرفي آنها بااسناد به څارنـوالي ياسـائر مراجـع ذيصلاح.

۱۰- صدور احکام و ترتيـب لوائـح غرض اجراى منظـم تدابـير قرانطـين داخلـي وخـارجي در کشـورمطابق احکام قانون .

۱۱- سازماندهي تبليغ،به منظور بلنـد بردن سطح آګاهي مردم ورائج نمـودن روش هاي جديد، وسائل و طرق مجادله عليۀ آفات و ګياه هاي هرزۀ قرانطيني.

۱۲-تهيـۀاجازه نامـه هاوسائراسـناد قرانطيني، براي تخم هـاي نباتـات و محصولات‌نباتي‌که ازخارج‌واردمېګردد.

مادۀ يازدهم :

توريد نباتات و محصولات نباتي ، بـه اسـاس تشـخيص وزارت زراعـت و مالداري توأم با تصديق نامـۀ کشـور صادر کننده صورت ميګيرد.

دوولسمه ماده:

دنباتي قرانطين پلټونكي ، دغه لاندې واكونه لري:

۱-دقرانطيني نباتي آفتونواوبيكاره (هرزه) گياوودتشخيص‌اوتجزيوي او تحليلي (لابراتواري)كتنولپاره دنباتاتوتخمونو نباتاتواونباتي محصولاتود نمونې د اخيستلو په غرض اودتدبيرونو دنيولو په منظور سمندري بندرونو ،دځمكنيو نقليه وسائطو تم ځايونو ،هوائي ډگرونو عمومي پوسته خانو،انبارخانو (گدامونو) سيلوگانو ،ملكي الوتكو د امارتي موٌسسو او خصوصي توليداتو دمالكينوساحو ته پرته له خنډ څخه ورننوتل.

۲- دهغو قرانطيني موادو بندول او تركتنې لاندې راوستل چې هيواد ته دقانون خلاف وارد يا تر قرانطين لاندې سيمو څخه د هيواد، نورو سيموته لېږدول كېږي او دهغودتجزئې، تحليل او له منځه وړلو په هكله د لازموتدبيرونو نيول.

دهغو تاوانونو جبران كول چې د قرانطين د قانون د حكمونو د نه رعايت له امله

مادهٔ دوازدهم :

مفتشين قرانطين نباتى ، داراى صلاحيت هاى ذيل مى باشند:

۱- دخول بدون ممانعت به بنادر دريائى توقفگاه هاى وسائط حمل ونقل زمينى ميدان هاى هوائى، پوسته خانه هاى عمومى،انبارخانه ها،(گدام ها) سيلوهاطيارات ملكى ، ساحهٔ موٌسسات امارتى ومالكين توليدات خصوصى جهت بررسى واخذ نمونهٔ تخم نباتات،نباتات و محصولات نباتى براى معاينات تجزيوى تحليلى (لابراتوارى)،به منظورتشخيص آفات نباتى وگياه هاى هرزهٔ قرانطينى واتخاذ تدابيرلازم.

۲- متوقف ساختن وتحت معاينات قراردادن مواد قرانطينى كه به كشور خلاف قانون وارد يا از مناطق تحت قرانطين به سائر نقاط كشورانتقال گردد و اتخاذ تدابير مبنى بر تجزيه،تحليل وامحاى آن .

جبران خساراتيكه نسبت عدم رعايت احكام قانون قرانطين به وجود مى آيد

رامنځ ته کېږي دبهرني هېواد يا لېږدوونکي شخص په غاړه دي .

۳- له ادارو، ګمرکونو ، سمندري بندرونو هوائي ډګرونو ، دځمکنيو لېږدوونکو وسائطوله تم ځايونو،عمومي پوسته خانواو د خصوصي توليداتوله مالکينوځخه دنباتي وارداتي او صادراتي مالونو، انبارخانو (ګدامونو)،موادواو محصولاتو د لېږدونې د وسائلو په هکله د معلوماتوترلاسه کول اوداړوندوسندونوپلټل .

## دريم فصل

## دنباتي تخم ،نباتاتو او نباتي محصولاتو واردول او صادرول

ديارلسمه ماده:

له بهرڅخه دنباتي تخم،نباتاتواونباتي محصولاتوواردول په لاندنيوشرائطومجازدي :

۱- دصادروونکي هېواد،دنباتي روغتيائي تصديق ليک لرل.

۲- دنباتي قرانطين د موظفينو له خوا له پلټنې (بررسی) وروسته د نباتي وارداتي مالونو د داخليدو د اجازې ورکول.

۳- له هغو هېوادونو څخه د نباتي تخم

بدوش کشور خارجي يا شخص انتقال دهنده می باشد.

۳- حصول معلومات و بررسی اسناد مربوط از ادارات ، گمرکات ، بنادر دريائی ، ميدان های هوائی ، توقفگاه های وسائط حمل ونقل زمينی ، پوسته خانه های عمومی و مالکين توليدات خصوصی دربارهٔ اموال وارداتی و صادراتی،انبارخانه ها(گدام ها)ووسائل حمل ونقل موادومحصولات نباتی.

## فصل سوم

## تورید و صدور تخم نباتات نباتات و محصولات نباتی

مادهٔ سيزدهم:

توريدتخم نباتات،نباتات ومحصولات نباتیاز خارج کشور،تحت شرائط ذيل مجاز ميباشد:

۱- داشتن تصديق نامهٔ صحی نباتی کشور صادر کننده.

۲- اعطای اجازهٔ دخول اموال وارداتی نباتی ، بعد از تفتيش وبررسی توسط موظفين قرانطين نباتی .

۳- تورید تخم نباتات،نبات ومحصولات

نباتاتواونباتي محصولاتوواردول چې دنباتي قرانطين دولتي اداري ونه لري دنباتاتودساتني او قرانطين رياست دموظفينوله كتنې او تشخيص وروسته .

څوارلسمه ماده :

د سوداګرۍ وزارت او دافغانستان په اسلامي امارت کې نورې واردوونکې مؤسسې مکلفې دي چې هېرادته یا له هېواد څخه بهرته د نباتاتو او نباتي محصولاتو د لېږدولو په برخه کې دبهرنیوهېوادونو سره دتجارتي قرارداد دعقدپه وخت کې دنباتي قرانطین دموضوعاتود رعایتولوپه اړوند ، دنباتاتو د ساتنې او قرانطين رياست،غوښتنې په عقد کې شاملې کړي.

پنځلسمه ماده:

له هغو هېوادونو سره چې د کرنيزو محصولاتودسوداګرۍاړیکي موجودې وي دقرانطيني آفتونوله لېږدیدوڅخه دراولاړوشويو اقتصادي زيانونودمخنيوي په مقصد دنباتاتودساتنې اوقرانطين رياست متخصصين د امارت د استازو په توګه توظيفيږي .

نباتی ازممالکیکه دارای ادارات دولتی قرانطین نباتی نباشد، بعدازمعاینه و تشخیص موظفین ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین.

مادهٔ چهار دهم:

وزارت تجارت وسائر مؤسسات تورید کننده درامارت اسلامی افغانستان مکلف اند هنگام عقدقرارداد تجارتی با ممالک خارجی،درقسمت انتقال نباتات ومحصولات نباتی به کشوریاازکشور به خارج ،خواسته های ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین را به ارتباط رعایت موضوعات قرانطین نباتی در قرار داد شامل نمایند.

مادهٔ پانزد هم :

باممالکیکه روابط تجارتی محصولات زراعتی موجود باشد،به مقصد جلوگیری ازخسارات اقتصادی ناشی از انتقال آفات قرانطینی،متخصصین ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین،منحیث نمایندهٔ امارت توظیف میگردند.

شپاړسمه ماده :

هغه سرحدي بندرونه چې هېواد ته نباتي تخم ،نباتات اونور نباتي محصولات له هغو لارونه وارديږي ، دنباتاتو د ساتنې او قرانطين رياست په موافقه ټاکل کېږي .

اووه لسمه ماده :

کوم سرحدونه چې له هغو نه دنباتي قرانطين دآفتونو دخپرېدو خطرموجودوي په موقتي توګه تړل کېږي .

اتلسمه ماده :

هغه نباتي تخمونه،قلمي،نيالګي،ښکلائيز (زينتي) نباتات او نباتي محصولات چې دعلمي څېړنولپاره کارول کېږي، په آفتونو باندې دککړتيا يا نه ککړتيا له پامه پرته ،دقرانطيني مرحلوله تطبيق وروسته،هېواد ته وارديدلای شي .

نولسمه ماده :

داشخاصو ،ديپلوماتيکو استازو ،قونسلګريو اودافغانستان‌په اسلامي امارت کې‌مېشت د سوداګرۍ داستازوپه نامه له بهرنيو هېوادونو څخه په بکسونوياد پوستي غوټو

مادهٔ شانزدهم :

بنادرسرحدی که تخم نباتات ، نباتات و سائر محصولات نباتی ،از طریق آن وارد کشور میگردد، به موافقهٔ ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین تعیین میگردد.

مادهٔ هفدهم :

سرحداتیکه ازآن خطر انتشارآفات قرانطینی نباتی محتمل باشد،به طور موقت مسدود میگردد.

مادهٔ هجد هم :

تخم نباتات ، قلمه ها، نهال ها ، نباتات زینتی و محصولات نباتی که به مقصد تحقیقات علمی مورد استفاده قرار میگیرند، صرف نظر از مصاب بودن یا نبودن آن به آفت،بعد از تطبیق مراحل قرانطینی وارد کشور شده میتواند.

مادهٔ نزدهم :

ورودمحصولات نباتی ازممالک خارج در بکسها ویاازطریق پست وبسته هابه عنوان‌اشخاص نماینده گان دیپلوماتیک،قونسلگري هاو نماینده گان تجارتي مقیم امارت اسلامی

(پارسلونو)له لارې دنباتي محصولاتو واردېدل دبهرني قرانطين له معيارونو اومقرراتو سره سم ترسره کېږي .

شلمه ماده :

دککړونباتي تخمونو،نباتاتواونباتي محصولاتو یاقرانطيني بيکاره (هرزه) گياوو پاکول دواردوونکي په لگښت تر سره کېږي .

یوويشتمه ماده:

هغه‌نباتي‌تخمونه،نباتات‌اونباتي محصولات چې په غيرعبوري(ترانزيت)توگه افغانستان ته وارد يا په عبوري (ترانزيت) توگه دافغانستان له لارې لېږدول کېږي دکرنې اومالدارۍ وزارت دنباتاتودساتنې او قرانطين رياست دادارو له خواڅارل کېږي.

دآفتونواوبيکاره(هرزه)گياوود کشف په صورت کې، نومورې مالونه د واردوونکي لخوا د لگښت له ورکړې وروسته ضد عفوني او پاکېږي يا صادروونکي هېواد ته مستردا‌و يا له منځه وړل کېږي .

دوه ويشتمه ماده :

دنباتي محصولاتوصادروونکي انفرادي

افغانستان مطابق به معيار ها و مقررات قرانطين خارجي صورت ميگيرد.

مادهٔ بيستم :

پاک کاری تخم نباتات،نباتات و محصولات نباتی ملوث یاتخم گیاه های هرزهٔ قرانطینی به مصرف واردکننده صورت میگیرد.

مادهٔ بيست ويکم :

تخم نباتات،نباتات ومحصولات نباتی که به شکل غیرعبوری(ترانزیت)بهافغانستان واردویابه صورت عبوری ازطریقافغانستان انتقال داده میشوداز طرف ادارات رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين وزارت زراعت ومالداری مراقبت میگردد.

درصورت کشف آفات وگیاه هاي هرزه اموال مذکوربعدازپرداخت مصرف توسط وارد کننده،ضد عفونی وپاک کاری میشودیا بهکشورصادرکننده مستردویا محومیگردد.

مادهٔ بيست ودوم:

مؤسسات وتاجران انفرادی صادر

سوداگراوموسسې مکلف دي چې د محصولاتــو له باروني څخه لږ تر لـــږه ديــرش ورځې مخکې دنباتاتو د ساتنې او قرانطين رياست او يا پـــه ولايتونوکـــې دهغـــه اداروتـــه خبرورکړي او دصادرېدو له نيټې څخـــه لس ورځې دمخه نومــــوړي محصـــول د قرانطيني څېړنې لپاره حاضر کړي.

درويشتمه ماده :

دنباتي قرانطـــين موظفـــين دتجزيـــوي او تحليلي (لابراتواري)ژوروکتنولپاره کولای شي له صادراتياوورادتي نباتي محصولاتو څخه بېلگه اخيستنه (نمونه گيري)وکړي.

څلورم فصل

په داخل کې دنباتي قرانطين تدبيرونه

څلورويشتمه ماده:

په هېوادکې دننه دقرانطيني بيکاره(هرزه) گيــاوو او نباتي آفتونو د سر چينو (منابعو) په خپل وخت کشف ،مطالعه ، څېړنه اوڅارنـــه او په کښتونو ، د کرنيزومحصولاتوپه زيرمـــو اودقرانطيني موادودداخلېدوپه خايونوکـــې دهغو دبياخپرېدوڅخه مخنيوی اومجادلـــه په دائمي توگه ترسره کېږي.

کننده گان محصولات نباتي،مکلف اند که حداقل سي روز قبل ازبارگيريمحصولات به رياست حفاظـــهٔ نباتـــات وقرانطـــين وياادارات آن درولايات اطـــلاع داده و ده روزقبـــل از موعدصدورمحصـــــول متذکره را غرض تفتيش قرانطين حـــاضر نمايند.

مادهٔ بيست وسوم :

موظفين قرانطين نباتي ، غرض معاينـــات دقيق تجزيوي وتحليلـــي(لابراتـــواري) مي توانند از محصولات نباتي صـــادراتي ووارداتي نمونه گيري نمايند.

فصل چهارم

تدابير قرانطين نباتي درداخل

مادهٔ بيست وچهارم:

کشف به موقـــع ،مطالعـــه ، تحقيـــق مراقبت منابع آفات نباتي و گياه هـــاي هرزهٔ قرانطيني درداخل کشور ومجادلـــه و جلوگيري از انتشـــار بعـــدي آنـــها درمزارع،ذخائر محصولات زراعتـــي و مواضع دخول مواد قرانطيني به کشـــور طور دائمي صورت ميگيرد.

پنځه ويشتمه ماده :
په يوه سيمه کې دنباتي آفتونواوقرانطيني بيکاره(هرزه) ګياووډکشف کيدوپه صورت کې دهغودخپروونکو سرچېنو دمحدودولو او له منځه وړلو په خاطر فوري تدبيرونه نيول کېږي.

شپږويشته ماده :
دقرانطين وضع کول اويارفع کول،دکرنې اومالدارۍ د وزارت په وړانديز او دافغانستان اسلامي امارت د وزيرانو شورئ د مقام په منظورۍ صورت مومي.

اووه ويشتمه ماده:
ترکورني قرانطين لاندي سيمونه د نباتاتو د تخمونو ، نباتاتو او نباتي محصولاتو وتل د هغو شرائطو له په پام کې نيولو سره صورت مومي چې د کرنې او مالدارۍ وزارت له خوا ټاکل کېږي.

اته ويشتمه ماده:
وزارتونه ، مؤسسې او دخصوصي توليداتو خاوندان، دنباتي قرانطين داداری له تصديق پرته د نباتاتو اونباتي محصولاتوپه ليږدونه لاس نشي پورې کولی.

مادهٔ بيست و پنجم :
درصورت کشف آفات نباتي و گياه هاي هرزهٔ قرانطيني دريک منطقه،به منظور محدود ساختن و از بين بردن منابع انتشار آنها ، تدابير فوري اتخاذ ميگردد.

مادهٔ بست و ششم :
وضع قرانطين يا رفع آن ، به اثر پيشنهاد وزارت زراعتِ و مالداري و منظوری مقام شوراي وزيران امارت اسلامي افغانستان صورت ميگيرد .

مادهٔ بيست وهفتم :
خروج تخم نباتات ، نباتات و محصولات نباتي ازمناطق تحت قرانطين داخلي بادرنظرداشت شرائطي که از طرف وزارت زراعت و مالداري تعيين ميگردد ، صورت ميگيرد.

مادهٔ بيست و هشتم :
وزارت ها ، مؤسسات و مالکين توليدات خصوصي،بدون تصديق ادارهٔ قرانطين نباتی،به انتقال نباتات ومحصولات نباتي اقدام کرده نمي توانند.

نهه ویشتمه ماده:

اړوندوزارتونه اوهوائي شرکتونه مکلف دي چې دنظروړپولو(سرحدونو)اویاسیموکې دنباتي قرانطیني مراجعودفعالیت په غرض لازمې ودانۍ داړوندواداروپه واک کې ورکړي .

دېرشمه ماده :

امارتي مؤسسې ، امارتي کروندې (فارمونه) ، دخصوصي تولیداتو خاوندان او کروندګر لاندني مکلفیتونه په غاړه لري :

۱-دامارتي قرانطیني ادارو د لارښوونو له مخې دنباتي ناروغیواوآفتونواوبیکاره(هرزه) ګیاوود کشف په منظوردزېرمه تونونو د شاوخوا ټولو کروندواو ساحواوترقرانطین لاندې نباتي محصولاتود زېرمومنظمه (سیستماتیکه) کتنه او څېړنه .

۲-دنباتي ناروغیواوآفتونواوبیکاره (هرزه) ګیاوودکشفولو په صورت کې دنباتي قرانطین دخدمتونو امارتي اداروته سمدستي خبر ورکول.

۳- د کرنیزو محصولاتو د تولید ، زېرمې لېږدونې او پلورنې په وخت کې د نباتي

مادهٔ بیست ونهم :

وزارت هاي ذیربط وشرکت هاي هوائي مکلف‌اندکه تعمیرلازمه رادرسرحدات یا محلات موردنظر،غرض فعالیت مراجع قرانطین نباتی،به دسترس ادارات مربوط قرار دهند.

مادهٔ سي ام :

مؤسسات امارتي ، مزرعه (فارم) هاي امارتي ، مالکین تولیدات خصوصي و دهاقین مکلفیت هاي ذیل را به عهده دارند :

۱- تحقیق و معاینهٔ منظم (سیستماتیک) تمام مزارع و ساحات ماحول تحویلخانه ها و ذخائر محصولات نباتي تحت قرانطین ، به منظور کشف امراض و آفات نباتي و ګیاه هاي هرزه ، به اساس هدایات ادارات امارتي قرانطینی .

۲- اطلاع دهي عاجل ،به ادارات امارتي خدمات قرانطین نباتي ، در حالات کشف آفات وامراض نباتي و ګیاه هاي هرزه .

۳- اتخاذ تدابیر و قایوي به منظور جلوګیري از انتشار امراض و آفات

ناروغيو اوآفتونو او دبيکاره(هرزه) گياوو له خپرېدونه د مخنيوي په غرض د وقايوي لارو چارو لټول.

۴- د سيمې له بهر څخه د نباتاتو د تخم نباتاتو اونباتي محصولاتو د واردولو په وخت کې دنباتي قرانطين د قوانينو اومقرراتو جدي رعايتول.

۵- دنباتي قرانطين داداروپه موافقه دنباتاتو دقورېې دجوړولولپاره دمناسب ځاې ټاکنه.

٦- د قرانطيني خدمتونو د ادارو په موافقه د هغو مؤسسو ، امارتي کروندو (فارمونو) او کروند گروله خوا چې کرنيز تخمونه او د کرنې وړ مواد د پلورلو لپاره توليد وي دلوګي توليدوونکو خونو (فرمکيشن) يا د کرنيزو توليداتو د ضد عفوني کولو دستګاه ووبرابر ول.

پنځم فصل

موئدي

يودېرشمه ماده:

هغه څوک چي د نباتي قرانطين له قانوناو مقرراتونه سروغړوي،دشريعت اوقانون له

نباتي وگياه هاي هرزه در هنگام توليد ذخيره،انتقال وفروش محصولات زراعتي.

۴- رعايت جدي قوانين و مقررات قرانطين نباتي درهنگام توريد تخم نباتات،نباتات و محصولات نباتي از خارج منطقه.

۵-انتخاب محل مناسب براي اعمار قوريۀ نباتات،به موافقۀ ادارات قرانطين نباتي .

٦- تهيۀ اتاقهاي توليد دود ( فرمکيشن) يا دستگاه هاي ضد عفوني کنندۀ توليدات زراعتي از جانب مؤسسات مزرعه های (فارم هاي)امارتی و دهاقينيکه تخم بذري و مواد قابل غرس رابراي فروش توليدمينمايند، به موافقۀ ادارات خدمات قرانطين .

فصل پنجم

مؤيدات

مادۀ سي ويکم :

شخصيکه از قانون و مقررات قرانطين نباتي تخلف ورزد ،مطابق به

حکمونو سره سم دواکمنې محکمې له خوا مجازات کېږي.

دوه دېرشمه ماده :

هغه څوک چې د قرانطین د کتنې او څارنې د پړاوونو له تېرولو پرته له بهر څخه واردشوي نباتي مواد،له هوائي ډګرونو او نورو سرحدي سیمو څخه راولېږدوي، دواکمنې محکمې له خوا دشرعي حکمونوسره سم مجازا ت کېږي.

دري دېرشمه ماده:

په هغه صورت کې چې وارداتي نباتي محصولات د قرانطینې آفتونو لرونکي وي ددغه قانون د یوویشتمې مادې له حکم سره سم ، اجراآت تر سره کېږي.

څلوردېرشمه ماده:

هغه څوک چې دآفتونواوبیکاره (هرزه)ګیاووپرضددمبارزې په کار کې د قرانطین له مقرراتو څخه سروغړوي ، د شرعي او اړوندو نافذو قوانینوله حکمونو سره سم مجازات کېږي .

پنځه دېرشمه ماده :

ددې قانون د(۳۲)او(۳۴)مادوله بیابیا(متکرر)

احکام شریعتوقوانین نافذه ازطرف محکمهٔ ذیصلاح مربوط مجازات میگردد.

مادهٔ سي ودوم :

شخصیکه بدون طي مراحل معاینه و مراقبت قرانطین مواد واردهٔ نباتي از خارج را،از میدان هاي هوائي و سائر محلات سرحدي انتقال دهد طبق احکام شرعي و قوانین نافذهٔ مربوط مجازات میگردد.

مادهٔ سي و سوم :

در صورتیکه محصولات نباتي وارداتي داراي آفات قرانطیني باشد ، مطابق به حکم مادهٔ (۲۱) این قانون اجراآت میشود.

مادهٔ سي و چهارم :

شخصیکه د رامر مجادله علیه آفات و ګیاه های هرزه از مقررات قرانطین تخلف ورزد ، طبق احکام شرعي و قوانین نافذهٔ مربوط مجازات میگردد.

مادهٔ سي وپنجم :

بامتخلف متکرر مندرج مواد(۳۲و۳۴)

سرغړوونکوسره ددي قانون دلسمې مادې د(۹) فقرې له حکم سره سم چلندکېږي.

شپږمه فصل

وروستني حکمونه

شپږ دېرشمه ماده:

امارتي اداري ، مؤسسې او امارتي کروندې (فارمونه ) مکلف دي چې دنباتي قرانطيني خدمتونو له مؤظفينو اومسؤلينو سره د ضرورت په وخت کې دورسپارل شوودندو په پرمخ بيولوکې مرسته وکړي .

اووه دېرشمه ماده :

ددې قانون د حکمونو د اغېزمن تطبيق په منظور مقرره وضع کېږي.

اته دېرشمه ماده:

دغه قانون دتوشيح له نيټې نه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپورشي او ددې قانون په نافذېدوسره دنباتي قرانطين د خدمتونوهغه قانون چې د۳۱/ ۶/ ۱۳۶۶هـ.ش نېټې د رسمي جريدې په (۶۴۷) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی،دهغه له نورو مخالفو حکمونو سره لغوه ګڼل کېږي.

این قانون ،مطابق به حکم فقرهٔ (۹)مادهٔ دهم این قانون رفتار میشود.

فصل ششم

احکام نهائی

مادهٔ سی وششم :

ادارات امارتي،موٴسسات ومزرعه هاي (فارم هاي)امارتی ، مکلف اند حین ضرورت با مسؤلین و موٴظفین خدمات قرانطین نباتی ، در پیشبرد و ظائف محوله همکاری نمایند.

مادهٔ سی و هفتم :

به منظورتطبیق موٴثر احکام این قانون مقرره وضع میگردد.

مادهٔ سي و هشتم :

این قانون ، از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمي نشر گردد و با انفاذآن ، قانون خدمات قرانطین نباتي منتشرهٔ شمارهٔ (۶۴۷)موٴرخ۳۱سنبلهٔ ۱۳۶۶ هـ.ش جریدهٔ رسمي وسائراحکام مخالف آن ، ملغي شناخته میشود.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دحيواني طب (وترنرۍ)

# دخدمتونو قانون .

## دحیواني طب(وترنری)دخدمتونوقانون

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون دحیواني طب (وترنری)دخدمتونودتنظیمولو،دساري ناروغیودپیداکېدواوخپرېدودمخنیوي دامارتي ،ګډو،خصوصي اوشخصي کروندو(فارمونو)،حیواني پروربنت ځایونو(پالنځیو)اودحیواني غوجلو مسلخ،دحلالولودځایونو،نخاسونو،د حیواني محصولاتودتولیدوونکو اووړاندې کوونکوموسسود روغتیاساتنې دخارنې اودحیواني طب(وترنری)دژوندپېژندنې (بیولوژیکي)موادودبرابرولو اوتطبیق په مقصدوضع شوی دی.

**دوه یمه ماده :**

دحیواني طب (وترنری) دخدمتونولګښتونه دامارت له بودجې څخه تمویلېږي.

## قانون خدمات طب حیوانی(وترنري)

### فصل اول

### احکام عمومی

**مادۀ اول:**

این قانون به منظورتنظیم خدمات طب حیوانی(وترنری) جلوگیری‌ازانتشار وسرایت امراض ساری ،نظارت حفظ الصحۀ پرورشگاه های حیوانی، مزرعه(فارم) های امارتی مختلط خصوصی،شخصی،طویله های حیوانی،مسلخ ،کشتارگاه ها نخاس ها،مؤسسات تولیدوعرضه کنندۀ محصولات حیوانی وتهیه وتطبیق موادزیست شناسی (بیولوژیکی)طب حیوانی وضع گردیده است.

**مادۀ دوم:**

تمام مصارف خدمات طب حیوانی(وترنری) ازبودجۀ امارت تمویل میگردد.

دریمه ماده:

دحیواني طب (وترنري)خدمتونه دکرنې اومالداری وزارت دحیواني طب دریاست دمسلکي کارکوونکو اوڅانگوله خوادهېوادپه وزارتونو مؤسسواوپه هغوامارتي ګډو،خصوصي اوشخصي کروندو (فارمونو)او پالنځیوکې چې حیوانات لري اویاله حیواني محصولاتو اودحیواني طب له نظره ددرملواونورو ګټورو بیولوژیکي اوکیمیاوي موادواوحیواني خوړوله واردولو،تولیداوتوزیع اودڅارویو دنویونسلونوله تکثیرولوسره سراو کارلري په ټول هېوادکې ترسره کېږي.

څلورمه ماده :

په دې قانون کې لاندې اصطلاح ګانې دغه معناوی لري :

۱-دحیواني طب(وترنری )خدمتونه: دحیواني طب دخدمتونودتد بیرونوطرحه کول ،تنظیمول اوعملي کول،دما لداری دپرمختیااودهغې دتولیدي‌سطحې‌دلوړولو لپاره،دحیواني طب دپلانونو عملي کول

مادهٔ سوم:

خدمات طب حیواني (وترنری)توسط شعبات وکارکنان مسلکی ریاست عمومی طب حیوانی وزارت زراعت ومالداری دروزارت خانه ها،مؤسسات ومزرعه ها(فارم ها)وپرورشگاه های امارتی مختلط،خصوصی وشخصی که دارای حیوانات میباشد ویابا محصولات حیوانی،تورید،تولید وتوزیع ادویه وغیره موادکیمیاوي وبیولوژیکی مفیده،مواد خوراکهٔ حیوانی وتکثیر نسل های حیوانی جدید ازنقطهٔ نظرطب حیوانی سروکار دارند،درسرتاسرمملکت انجام می یابد.

مادهٔ چهارم :

اصطلاحات آتی دراین قانون معانی ذیل راافاده میکند:

۱-خدمات طب حیوانی (وترنري): عبارت است ازطرح،تنظیم وتعمیل تدابیرخدمات طب حیوانی، تطبیق پلان های طب حیوانی جهت انکشاف مالداری وبلندبردن سطح تولیدی آن

دحيواني ناروغيوپرخلاف مجادله،د ساري ناروغيوله پيداكېدواوخپرېدونه د افغانستان اسلامي امارت دواكمنۍ د ساحې اودانسانانواوخارويوترمنځ دګډو ساري ناروغيودخپرېدودمخنيوۍڅخه عبارت دی.

۲-ستنه وهونکی(واکسيناتور):هغه فني شخص دی چې‌ستنې(واکسين)تطبيقوي.

۳-دحيواني طب دژوندپېژندنې (بيولوژيکي)مواد:له واکسينونو توکسيدونو،انتي جنونو،زهرياتواو دحيواني طب دژوندپېژندنې له نورو موادوڅخه عبارت دي.

۴-حيوان:اهلي حيوانات،سمندري او وحشي ژوي ، الوتونکي،کبان ،دشاتو مچۍاودورېښموچينجي پکې شامل دي.

## دوه يم فصل

### دحيواني طب دخدمتونواداره اودندې

پنځمه ماده:

دکرنې اومالدارۍ وزارت دحيواني طب خدمتونه په مستقيمه توګه دحيواني طب درياست له لوري اداره اوتنظيمېږي. دحيواني طب دخدمتونوپه تشکيل کې مرکزي

مجادله عليه امراض حيواني، حفظ قلمروامارت اسلامی افغانستان ازدخول وسرايت امراض ساري وجلوګيری ازسرايت امراض ساري مشترک بين انسان وحيوان.

۲-آبله کوب(واکسيناتور):عبارت ازشخصی فني است که آبله(واکسين) راتطبيق ميکند.

۳-موادزيست شناسي(بيولوژيکي) طب حيواني: عبارت انداز واکسين ها،توکسيدها انتي جن ها،زهريات و ديگرموادزيست شناسی طب حيوانی.

۴-حيوان :شامل حيوانات اهلی وحشی،طيور،ماهي،زنبورعسل وکرم پيله ميباشد.

## فصل دوم

### اداره ووظائف خدمات طب حيوانی

مادۀ پنجم:

خدمات طب حيوانی وزارت زراعت ومالداری مستقيماً ازطرف رياست عمومیطب حيوانی اداره وتنظيم ميگردد.تشکيل طب خدمات حيوانی شامل

اودولايتونودحيواني طــب روغتيـائي مركزونه،دتجزيې اوتحليل(لابراتـــوار) اوتشخيص دستگاه،دقرانطين‌دچارواصلي اوفرعــي كلينيكونـــــه ،دواكســـين جوړولواوكنـــترول دســـتګاوې،د حيوانـــــي نـــــاروغيودڅېړنې (تحقيق)اوتشخېص مؤسسي ،دغـــوبنې شـــيدو،هګيواونوروحيوانـــــــي محصولاتودڅارنــــي اونظـــــارت مركزونـــــه اودحيوانــــي طــــب وقــــايوي اومعــــالجـ‌ـي برخــــې شامل دي .

**شپږمه ماده:**

دكرنې اومالدارۍ وزارت ،دملي دفـــاع دوزارت كورنيـــوچـــارودوزارت اونورو وزارتونواوامارتي مؤسسودحيواني طـــــب دخدمتونولارښوونــــــه كـــوي .دوزارتونواومؤســـــــود حيوانـــي طــب څانــــګې خپلـــې دندې دحيوانـــــي طــب دخدمتونـــو درياست له فني دستورالعملونو سره سم پرمخ بيايي.

مراكز صحى طب حيوانـــــى مركـــزى وولايات،دســـتگاه تجزيـــه وتحليـــل (لابراتـــــوار)تشــــــخيص و كلينيـــك هـــــاي اصلـــي وفرعـــى امورقرانطـــين،دســـتگاه هـــــاى توليد وكنترول واكســـين، مؤسســـات تحقيـــق وتشــــخيص امـــــراض حيوانـــى،مراكزنظـــارت وكنــــترول گوشـــت،شـــير،تخـــم وســـائر محصولات حيوانـــــى وبخـــش هـــاى وقـــايوى ومعـــالجوى طـــــب .حيوانى ميباشد.

**مادۀ ششم:**

وزارت زراعت ومالدارى،خدمات طـب حيوانى وزارت دفـــاع ملـــى ،وزارت امورداخلـــه وســـائر وزارت خانــــه هاومؤسسات امـــارتى وغيرامـــارتى را رهنمائي وهمكارى ميكند. شعبات طـب حيوانى وزارت خانه هـــا ومؤسســـات وظائف خويشرامطابق به دســـتورالعمل هاى فنى رياست عمومى طب حيوانـــى پيش ميبرند.

اوومه ماده:

دحيواني طب دخدمتونو دفعاليت دښه والي په مقصددکرنې اومالدارۍ وزارت په هېوادکې دحيواني طب څانگو ته پراختياواوپرمختياورکوي اودمسلکي کارکوونکودپوهې سطحه دزده کړې دورو(کورسونو)اودتربيتي غونډو(سيمينارونو)دجوړولو او بهرته دمسلکي کارکوونکو داستولوله لياري لوړوي دحيواني طب دخدمتونو معيارونه،ددرملو،دحيواني طب دژوندپېژندنې دموادواودعلاج اووقائي دنوروموادودلگښتونو معيارونه ،دحيواني طب رياست دعلمي شورئ په واسطه تصويبوي .

اتمه ماده :

دحيواني طب دخدمتونورياست دحيواني طب دخدمتونودښه والي،دساري ناروغيودخپرېدواودهغودمخنيوي دڅرنگوالي په هکله دعلمي اوحيواني طب دمؤسسورپوټونه ترلاسه کوي

مادۀ هفتم :

به منظوربهبودفعاليت های خدمات طب حيواني ،وزارت زراعت ومالداری،شعبات طب حيواني رادرکشورتوسعه وانکشاف داده، سطح دانش کارکنان مسلکی رااز طريق دائر نمودن دوره های آموزشی(کورس ها) مجالس تربيتی (سيمينارها)واعزام کارکنان مسلکی به خارج بلندبرده،معيارهای خدمات طب حيوانی،معيارهای مصارف ادويه،موادزيست شناسی طب حيوانی وسائر موادتداوی وقايوی ومعالجوی راتوسط شورای علمی رياست عمومي طب حيوانیبه تصويب ميرساند.

مادۀ هشتم :

رياست طب حيوانی گزارش های مؤسسات علمی وطب حيوانی رامبنی بر بهبودخدمات طب حيوانی،شيوع امراض ساری وطرزجلوگيری آنرااخذواطلاعات علمی

اودحيواني طب علمي اوتخنيکي اطلاعات له بهرنيوهيوادونواونړۍ والومؤسسوسره تبادله کوي اودمينه والودپوهې دسطحې دلوړولوپه مقصد هغه چاپ اوخپروي اوداحصائيې دمرکزي اداري په همکارۍ دحيواناتو احصائيه برابروي .

نهمه ماده :

حيواني طب دعلاج اووقائې موضوع دساري اوغيرساري ناروغيودمخنيوي تدبيرونه په کلکه په پام کې نيسي ،او دامارتي گډو،خصوصي اوشخصي حيواني کروندو(فارمونو)دپالنځيو دحيواني محصولاتواودغه رازدحيواني محصولاتودپلورنې دبازارونو(مارکيټونو) دحيواني صحت د روغتياساتنې شرائط په پام کې ساتي اودوحش بڼونه تر څارنې اوکنترول لاندې نيسي،دحيواناتوخواړه معاينه کوي اودعامې روغتيا اووزارت په همکارۍ دانسان او حيوان ترمنځ له گډوناروغيونه دانسان دساتنې په هکله لازم

وتخنيکی طب حيوانی را با ممالک خارج ومؤسسات بين المللی تبادله نموده وبه مقصد بلندبردن سطح دانش علاقمندان،آنراطبع ونشرمينمايد وبه همکاریرياست احصائيهٔ مرکزی احصائيهٔ حيوانات را ترتيب ميکند.

مادهٔ نهم :

طب حيواني موضوع تداوي، وقايه وتدابير جلوگيري از امراض ساري وغير ساري را به صورت جدي در نظر گرفته شرائط حفظ الصحهٔ صحت حيواني مزرعه ها وپرورشگاه هاي حيواني امارتي ، مختلط، خصوصي وشخصي محصولات حيواني ،مارکيت ها وبازار هاي فروش محصولات حيواني رادر نظرمي گيرد. باغهای وحش را تحت نظارت وکنترول قرار می دهد وخوراکه حيوانات رامعاينه می کند، به همکاري وزارت صحت عامه در مورد محا فظت انسان از امراض مشترک بين انسان وحيوان تدابير لازم اتخاذ می کندوبه منظور جلوگيري از سرايت امراض

تدبيرونه نيسي اوله بهرنه افغانستان ته دساري ناروغيو دخپرېدو دمخنيوي په مقصد لازم تصميمونه نيسي اوعملي کوي ئي .

لسمه ماده :

مؤسسې او اشخاص دحيواني طب دخدمتونو ددغو لاندې تصميمونو دعملي کولو مکلفيت لري :

۱-په ساري ناروغيو داخته حيواناتو ګوښه کول اويا له منځه وړل .

۲-په ناروغيوداخته څارويو دغوښې او حيواني محصولاتو نه پلورل او له هغونه ګټه نه اخيستل .

۳-له هغې سيمې نه دڅارويو او حيواني محصولاتو نه صادرول چې حيواني ساري ناروغي په کې موجودې وي .

۴-دناروغۍ د بيخي له منځه تللو تر وخته پورې ، هغې سيمې ته دروغو حيواناتو نه لېږدونه چې ناروغي پکې خپره شوې ده .

۵-دناروغۍدخپرېدو دساحو اودناروغۍدمشتبه (شکمنو)ساحو

ساري از خارج به داخل وازداخل به خارج افغانستان تصاميم لازم اتخاذ وآنرا عملي ميکند .

مادهٔ دهم :

مؤسسات واشخاص به تعميل تصاميم ذيل خدمات طب حيواني مکلفيت دارند:

۱-تجريد وياامحای حيوانات مبتلا به مرض ساري .

۲-عدم فروش واستفادهٔ گوشت يا محصولات حيواني مبتلا به مرض .

۳-عدم صدور حيوانات ومحصولات حيواني از محلی که در آن امراض ساري حيواني وجود دارند .

۴-ممانعت از ورود حيوانات سالم به محلی که درآن مريضي ساري شيوع يافته الی امحای کامل مريضی .

۵-مراقبت ونظارت ساحات شيوع مرض وساحات

خارنه اونظارت .

۶-دحيواني طب درياست له مخکنۍ موافقې پرته دحيواني طب دژوندپېژندنې موادو او درملو له واردولواوويشلو او بې کيفيته درملو له پلورلو څخه ډه ډه کول .

۷-له پورته ذکر شووتصميمونو څخه د تخلف اودنه همکارۍ په صورت کې د خصوصي ،شخصي ،امارتي او غيرامارتي مؤسسو ،ددرملو،حيواني محصو لاتو او د حيواني طب دژوند پېژندنې (بيولوژيکي) موادودتوليدوونکو،واردوونکواوواړاندې کوونکونماينده گۍ،هټۍ گانې دحيواني طب دمؤظفينو له خواتړل کېږي او دشرعي مجازاتو په غرض اړوندو مراجعوته ور پېژندل کېږي .

## دريم فصل

## دحيواني طب دخدمتونو علمي او مشورتي شورئ

**يوولسمه ماده :**

دحيواني طب دخدمتونو دښه تنظيم اولارښوونې په مقصد دکرنې اومالدارۍ

مشتبه به مرض .

۶-خودداري از تو ريد وتوزيع ادويه جات و مواد زيست شناسي حيواني بدون موافقۀ قبلي رياست عمومي طب حيواني وفروش ادويه جات بدون کيفيت.

۷-درصورت عدم همکاري وتخلف از تصاميم فوق دکاکين ونماينده گي هاى خصوصي ،شخصي،ومؤسسات امارتي وغير امارتي توليد،توريد وعرضه کنندۀ ادويه جات ،محصولات حيواني وموادزيست شناسي طب حيواني توسط مؤظفين طب حيواني مسدود و غرض مجازات شرعى به مراجع ذير بط معرفي ميگردد.

## فصل سوم

## شوراى علمى ومشورتى خدمات طب حيوانى

**مادۀ يازدهم :**

به منظورتنظيم ورهنمائي بهتر طب حيوانى در رياست خدمات طب

وزارت ،دحيوانی طب دخدمتونو په رياست کې دحيواني طب علمي مشورتي شورئ جوړيږي .

دوولسمه ماده :

علمي اومشورتي شورئ جوړه ده له : دحيواني طب دخدمتونورئيس، دحيواني طب(وترنری) دعلومودپوهنځي رئيس اودحيواني طب اومالداری دخدمتونودرياست له ماهرانو (متخصصينو)څخه .دعلمي اومشورتي شورئ غړي له پنځونه ترلسوتنوپورې دحيواني طب دخدمتونودرئيس په وړانديزاو دکرنې اومالداری دوزيرپه منظوری تاکل کيږي .

علمي اومشورتي شورئ داړتياپه وخت کې په غونډوکې دګډون اودتصميمونو دنيولولپاره داړوندووزارتونواومؤسسو استازوته بلنه ورکوي.

ديارلسمه ماده :

دعلمي اومشورتي شورئ مشرتوب د حيواني طب دخدمتونود رئيس په غاړه

حيوانی وزارت زراعت ومالداری شورای علمی ومشورتی طب حيوانی تشکيل ميگردد.

مادهٔ دوازدهم :

شورای علمیومشورتی مرکب است ازرئيس خدمات طب حيوانی،رئيس پوهنځی علوم طب حيوانی (وترنری)،متخصصين رياست طب حيوانی وخدمات مالداری. اعضای شورای علمی ومشورتی به تعدادپنج الیٰ ده نفربه پيشنهادرئيس خدمات طب حيوانی ومنظوری وزيرزراعت ومالداری تعيين ميشوند.

شورای علمی ومشورتی عنداللزوم نماينده گان وزارت خانه هاومؤسسات ذيعلاقه راجهت اشتراک درجلسات واتخاذتصاميم دعوت می نمايد.

مادهٔ سيزدهم :

رياست شورای علمی مشورتی به عهدهٔ رئيس خدمات طب حيوانیبوده ،معاون

دی،مرستیال اومنشي ئې درائې اخیستنې پراساس دعلمي اومشورتي شورئ لـــه غړونه ټاکل کېږي.

**خوارلسمه ماده**

علمي اومشورتي شورئ په هرو شپږو میا شتو کې دغړو له دریو برخونـــه د دوو برخو دشته والي په صـورت کـې یوځل غونډه کـوي اودغـه لانـدې تصمیمونه نیسي :

۱ ـدحیواني طب دخدمتونو د فعـالیت دښه تنظیم اوپراختیا په مقصد ددستورالعملونو تصویبول او دکرنې او مالدارۍ دوزیـر له منظورۍ وروسته دهغو عملي کول.

۲ ـدحیواني ناروغیو دوقائې،مجـادلې او دله منځه وړلو دلارو چارو تنظیمول .

۳ ـدانسان او حیوان تـر منـځ دګډو ناروغیوپر ضد دتدبیرونو نیول .

۴ ـد نخاسونو،څرځایونـــو،بـازارونواو د امارتې ګډو،خصوصي اوشخصي کرونـدو (فارمونو)دحیواني طب پـه روغتیاسـاتنې پورې اړوندو موضوع ګانوڅېړنه او په دې برخه کې دلازمو تدبیرونو نیول .

ومنشی آن از بین اعضای شورای علمـی ومشورتي به اساس رای ګیری انتخـاب می شوند .

**مادۀ چهاردهم :**

شورای علمی ومشورتی درهر شش مـاه یکبـار در صـــورت موجودیـــت دوثلـــث اعضـــای آن دائـــر ګردیـــده ،تصـامیم ذیـل را اتخـــاذ می نماید:

۱ ـتصویب دستورالعمل ها به مقصـــد انکشاف وتنظیم بهتر فعالیت خدمـــات طب حیواني وتطبیق آن بعد از منظور ی وزیر زراعت ومالداری .

۲ ـتنظیم طرق وقایه ، مجادله واز بـین بردن امراض حیوانی .

۳ ـاتخاذ تدابیر ضد امراض مشترک بـین انسان وحیوان .

۴ ـبررســي موضوعــات مربــوط بـــه حفظ الصحۀ طب حیواني ،بازارها نخـــاس ها،چراګاها،مزرعه های (فارم های) اما رتي مختلط ، خصوصي وشـــخصي واتخــاذ تصـــامیم لازمـــه درزمینـــــه .

۵-په توليدي مؤسسو، دحيواني او مو محصولاتو په وړاندې كوونكو اوپه هغو مؤسسو پورې په اړوندو مسئلو باندې غور او څېړنه چې حيوانات اوحيواني اومه محصولات لېږدوي او يا له هغو سره سر اوكار لري او په اړه ئي دلازمو تصميمو نو نيول .

٦-دحيواني طب ددندوپه تو گه دڅارويو او دحيواني محصولاتو دكميت او كيفيت دلوړولو په هكله دلازمو تدبيرونو نيول .

۷-له بهرنه دحيواني ناروغيو درانوتو او خپرېدو دمخنيوي او دغه راز له هېواد نه بهرته دناروغيو دلېږدېدو دمخنيوي په هكله دتدبيرونو نيول .

۸-دحيواني طب دكاركوونكو دخطر د امتيازونو په هكله اړوندو مقاماتوته دوړانديز وړاندې كول .

**پنځلسمه ماده :**

دسختو ساري حيواني ناروغيو دپيداكېدو په وخت كې شورئ ، په فوق العاده

۵-غور وبررسي مسائل مربوط به مؤسسات توليدي وعرضه كنندۀ محصولا ت خام حيواني ومؤسساتي كه حيوانات ومحصولات خام حيواني راانتقال مي دهند ويابا آنها سروكار دارند واتخاذ تصاميم لازم دررابطه .

٦-اتخاذ تدابير لازم درمورد بلند بردن كميت و كيفيت حيوانات ومحصولات حيواني منحيث وظائف طب حيواني .

۷-اتخاذ تدابير لازم در مورد جلوگيري از دخول و انتشار امراض حيواني از خارج وهمچنان درمورد جلوگيري از انتقال امراض از داخل به خارج .

۸-ارائه پيشنهاد درمورد امتيازات خطربه كاركنان طب حيواني به مقامات ذيصلا ح .

**مادۀ پانزدهم :**

هنگام بروز امراض ساري وخيم حيواني شوراي علمي ومشورتي به صورت

توګه غونډه کوي .

شپاړسمه ماده :

دلزوم په صورت کې،دعلمي اومشورتي شورئ تصميمونه ،دکرنې اومالدارۍ دوزير له خوا دمنظورۍ دتر لاسه کولو لپاره دافغانستان اسلامي امارت دوزيرانوشورئ ته وړاندې کېږي .

## څلورم فصل

### دحيواني طب دروغتيا ساتنې تدبيرونه

اووه لسمه ماده :

امارتي ،ګډ ،خصوصي او شخصي حيواني پالنځي(فارمونه)بايد دغه لاندې اساسات په پام کې ونيسي :

۱-دوداني دننه پاکول او ضد عفوني کول،دمړه حيوان په تخنيکي توګه له منځه وړل اويا دهغه ښخول .

۲-دتشخيص اوکتنو (معايناتو) تر بشپړيدو پورې دنويوواردو شويو خارويو تجريدول ، او پر هغو باندې دوقايوي تطبيقاتو ترسره کول .

۳-دحيواني طب دفني مامورينو په واک کې دکتنې او ستنې وهلو

فوق العاده دائر ميګردد .

مادۀ شانزدهم :

درصورت لزوم ،تصاميم شوراى علمي ومشورتي توسط وزير زراعت ومالداري جهت اخذ منظوري به شوراى وزيران امارت اسلامي افغانستان تقديم ميګردد .

## فصل چهارم

### تدابير حفظ الصحۀ طب حيواني

مادۀ هفد هم :

پرورش ګاه(فارم)هاى حيوانى امارتي مختلط، خصوصي وشخصي بايد اساسات ذيل را درنظر ګيرند :

۱-پاک کارى وضدعفونى نمودن داخل عمارت وازبين بردن جسد حيوان مرده به صورت تخنيکى ويادفن نمودن آن.

۲- تجريد حيوانات جديد الورود الیٰ تکميل معاينات، تشخيص وانجام تطبيقات وقايوي بر آنها .

۳- ګذاشتن حيوانات جهت معاينه وتطبيق مايه ابله (واکسين)در اختيار

(دواکسين دتطبيق )لپاره دحيواناتو ورکول او مېدې برخه کې دآسانتياوو برابرول.

۴- دڅاروي له روغتياوروسته د هغه څاروي چې دناروغۍ علامې ونلري د حلالولواودهغه دغوښې دپلورنې په هکله دحيواني طبيب داجازې ترلاسه کول .

۵-له شرعي حکمونوسره سم دڅارويو دحلالولودلارښوونو عملي کول .

**اتلسمه ماده :**

هغه حيواني غوښه او محصولات چې دګټې اخستنې وړ نه وي ، ددې قانون دموادو له مخې او د حيواني طبيب له فني نظرئې سره سمله منځه وړل کېږي.

**نولسمه ماده :**

دحيواني طب له کتنواودحيواني طب د روغتيائي تصديق ليک له لرلوپرته،بهرته دڅارويو او حيواني محصولاتو،غوړيواوحيوانى طب دژوندپېژندنې موادوصادرول اودغه رازهېوادته دهغوواردول منع دي.

مامورين فني طب حيواني وفراهم نمودن تسهيلات درزمينه.

۴- بعد از صحت يابي حيوان ، کسب اجازهٔ طبيب حيواني راجع به ذبح حيوان که داراي علائم امراض ساري نباشد و فروش ګوشت آن .

۵- عملي نمودن دستورالعمل های ذبح حيوانات مطابق به احکام شرعي .

**مادهٔ هجدهم :**

ګوشت ومحصولات حيواني که قابل استفاده نباشد بر اساس مواد اين قانون وبر طبق نظريهٔ فني طبيب حيواني از بين برده مي شود .

**مادهٔ نزدهم :**

صدورحيوانات ومحصولات حيواني روغن و موادزيست شناسي طب حيواني ازداخل به خارج وهم چنان ورود آن بداخل کشور،بدون معاينات وداشتن تصديق نامهٔ صحي طب حيواني ممنوع است .

شلمه ماده :

دكرنې او مالدارۍ وزارت دحيواني طب رياست، په هوائي ډگرونو، گمركونو، پولو (سرحدونو) او دخارويو د لېږدونې په تگ لوري كې دحيواني طب دخارنې مركز ونه جوړوي ترڅو دلېږدونې په وخت كې دخارويو دحيواني محصولاتو اودخارويود خوړو خارنه وكړي . په ناروغۍ شكمن خاروي اوحيواني محصولات دسرحدي هوائي ډگر اودگمرک دآمرانو په همكارۍ دلنډې مودې لپاره تر قرانطين لاندې ونيسي اودموضوع په هكله دحيواني طب ډېرې نږدې ادارې ته خبر وركوي .

يوويشتمه ماده :

دافغانستان اسلامي امارت په گاونډيو هېوادو كې دحيواني ساري ناروغيو د تشخيص په صورت كې دې دحيواني طب سرحدي ماهران(متخصصين) او دهغوی دنشتوالي په صورت كې دې سرحدي مؤظفين په څلورويشتوساعتونو كې

مادهٔ بيستم :

۲ـ دعصـري صنعـت (تکنـالوجي) لـه لارې داصـلاح شـويو نسـلونو د تکثير، دبوټو(نباتاتو)دبېلا بېلوجنسـونو دګډولـو اود څارويـو او الوتونکـو دښو نسـلونوالقاح چـې دهـېواد لـه اقتصادي او اقليمي شرائطو سره سـمون ولري،او دکرنې دتوليداتودسطحې دلوړولـو دلاروچـارو تبليـغ اورواجـول.

هـ :درسـاحهٔ تربيـه وتبليغـات زراعتي :

۱ـ به منظور تطبيـق مؤثـر تجـارب زراعتي،تأسـيس مؤسسـات تربيـوي وتحقيقـاتي وتجـهيزآن باشـخاص ورزيدهٔ مسلکي،وسائط ووسـائل کـار دفاتر وسـاختمان.

رهبري فعاليت های علمـي وتحقيقـاتي متکي به تحليـل و ارزيـابي منظـم و تعيين معيار هاي تخنيکـي واقتصـادي توليـدات از نـگاه پـرورش نباتـات ،حيوانـات وطيور وتعيـين طـرق اسـتفادهٔ مؤثـر از نتا ئـج آن .

۲ـ تبليـغ وترويـج طـرق بلنـد بردن سطح توليدات زراعتـي،توسـط صنعـت (تکنـالوجي) عصـری تکثيرنسـل هـای اصـلاح شـده تخليـط جنس مختلـف نباتـات القـاح نسـل هـای بـهتر حيوانـات وطيـور کـه باشـرائط اقتصـادي و اقليمـي کشورسازگارباشـد.

۳-دعلمي غونډوجوړولو له لارې دعلمي او تحقيقاتي ارزښتونو تبليغول، درپوټونو، رسالو او مجلو چاپول او په ورځپاڼو او جريدو کې دمضمونونو خپرول او داعلانونو،شعارونو او راډيوئي مرکو خپرول.

۴_ دکرنې،مالدارۍ،ځنګلونو،امارتي کروندو،دمېکانيزه مرکزونو (استيشنونو)اونورو اړوندو ځانګوداړتيا وړمسلکي کارکوونکو اوماهرانوروزل .

دامارتي کروندو،مېکانيزه مرکزونو او دنورو ادارودمامورينو لپاره دکرنې او مسلکي لنډې مودې زده کړې ددورو(کورسونو)جوړول .

و :له بهرنيودولتونواو نړيوالو مؤسسو سره داقتصادي ، علمي او تخنيکي اړيکو په ساحه کې :

۱-دشريعت په حدودوکې دقانون او مقرراتوسره سم دکرنې په اقتصادي، علمي اوتخنيکي برخوکې له بهرنيو دولتونو

۳- تبليغ دست آورد هاى علمي و تحقيقاتي به وسيلهٔ تدوير مجالس ومحافل علمي،طبع ګزارشها رساله هاومجلات ،نشر اعلانات شعارها،مصاحبه هاى راديوئي ونشر مضامين در جرائد وروزنامه ها .

۴_ تربيهٔ كاركنان مسلكي ومتخصصين موردنياز در رشته هاى زراعت ومالداري ،جنګلات،مزارع امارتي ،مراكز ميكانيزه وسائر شقوق مربوطه .

تدوير دوره هاي آموزشي (كورس هاى) كوتاه مدت زراعتي و مسلكي براي مامورين مزارع امارتي، مراكز ميكانيزه وسائر ادارات.

و:درساحهٔ روابط اقتصادي،علمي وتخنيكي بادول خارجي ومؤسسات بين المللي :

۱_ عقد موافقتنامه هاى همكارى وكمك هاى مالى وتخنيكي بادول ومؤسسات خارجي در ساحات

او موسسو سره دمالي او تخنيکي مرستو او همکارۍ دموافقه ليکونو لاسليک.

۲- په هېواد کې دکرنې دتوليداتو داغېزمنتوب دلوړتيااودغه راز بهرته دصادرولو وړ محصولاتو دزياتوالي په مقصد له نړيوالو اوبهرنيو موسسو سره دکرنې دپرمختيا په پلانونو کې د اړتيا وړشاملو مواد واو وسائلو دپېرودنې دتړون لاسليک کول او داقتصادي او ټولنيزې پرمختياله پلانونو سره سم دتقنيني سندونو دحکمونوله په نظر کې نيولو سره دبهرنيومنابعودمجازوشرعي سپارښتنواجراء کول.

## دريم فصل

## تشکيل اود فعاليتونو تنظيم

**شپږمه ماده :**

دکرنې او مالدارۍ وزارت په سر کې وزيردی چې دقانون له حکمونو سره سم ټاکل کېږي .

وزيردغه واک په حدودو کې اجراآت کوي چې قانون اودغې مقررې

زراعتي،اقتصادي، علمي وتخنيکي درحدوداحکام شريعت مطابق به قانون و مقررات .

۲-عقد قرارداد خريداري مواد ووسائل مورد ضرورت شامل پلان های انکشاف زراعت با موسسات بين المللي وموسسات خارجي به منظوربلند بردن موثريت توليدات زراعتي در کشور وهم در جهت ازدياد محصولات قابل صدوربه خارج،اجرای سفارشات مجازشرعي منابع خارجي،مطابق به پلان های انکشاف اقتصادي واجتماعي بادر نظرداشت احکام اسناد تقنيني مربـرط.

## فصل سوم

## تشکيل وتنظيم فعاليت ها

**ماده ششم :**

درراس وزارت زراعت ومالداري وزير قرار داشته که طبق احکام قانون تعيين ميشود.

وزيردرحدودصلاحيتي که قانون واين مقرره تعيين نموده،اجراآت مينمايد.

ټاكلي دي دكرنې اومالدارۍ په وزارت پورې تړلي اړوندې ادارې،تصدۍ او مؤسسې دوزير د اوامرواو لارښوونوپه ترسره كولومكلفې دي .

اوومه ماده :

دكرنې او مالدارۍ وزارت دوزيرله خوا رهبري كيږي او معينان لري وزير شخصاً په وزارت پورې داړوندو دندواومكلفيتونو دتر سره كولو مسئول دی .

دوزارت معينان اودڅانګو رئيسان او آمران دورسپارل شويو دندو په ترسره كولو كې فردي مسئوليت لري.

اتمه ماده :

دكرنې اومالدارۍ وزارت اداري شورىٰ لری چې وزير دهغې درئيس په توګه، دوزارت معينان اورئيسان اوداړوندو ادارو او مؤسسو آمران او مسؤل كادرونه ئې دغړوپه توګه دي.

داداري شورىٰ غړي دوزير په وړانديزدوزيرانوشورىٰ له خوامنظوريږي.

تمام ادارات،تصديها ومؤسسات مربوط اين وزارت مكلف به اجراى اوامر وهدايات وزير ميباشند .

مادۀ هفتم :

وزارت زراعت ومالداري از طرف شخص وزير رهبري گرديده و داراى معينان مي باشد. وزير شخصاً مسؤل اجراآت وظائف ومكلفيت هاى مربوط وزارت مي باشد.

معينان، رؤسا وآمرين شعبات وزارت در پيشبرد وظائف محوله مسؤليت فردي دارند.

مادۀ هشتم :

وزارت زراعت ومالداري داراى شوراى اداري بوده كه شخص وزيربه حيث رئيس ،معينان،رؤساى وزارت ،آمرين وكادرهاى مسؤل ادارات ومؤسسات مربوط به حيث اعضاى آن ميباشد.

اعضاى شوراى ادارى به پيشنهادوزير ازطرف شوراى وزيران منظورميگردد.

نهمه ماده :

دكرنې او مالدارۍ وزارت اداري شورۍ دوزارت اوداړوندو ادارو،تصديواومؤسسودفعاليتونوپه اړه دغه لاندې مسئلې څيړي اولارښوونه ئې كوي :

۱ـ دكرنې،مالدارۍ،اوبولګولو ځنګلونو، څرځايونو،دبوټو دساتنې مېكانيزه امارتي كروندو او دكرنې او مالدارۍ وزارت دنورو فعاليتونو په ساحوكې دتوليدي او پرمختيائي پلانونو دعملي كولوپه هكله دوزارت په اساسي فعاليتونو پورې داړندو مسئلو تحليلول اوڅېړل.

۲ـ داقتصادي اغېزمنتوب دلوړولو په مقصد دكارله ځواک،مالي سرچينواودپانګې اچونې له چارو نه په معقوله توګه ګټه اخيستل او دكرنې دتخمونو، كيمياوي سرې اود كرنې دنورومو ادو او وسائلوتدارک او برا برول.

مادۀ نهم :

شوراى اداري وزارت زراعت ومالداری،مسائل ذيل را در رابطه به فعاليت هاى وزارت ،ادارات،تصديها ومؤسسات مربوط بررسي ورهنمائي مي نمايد :

۱ـ بررسي وتحليل مسائل مربوط به فعاليت هاى اساسي وزارت مبني برطرح و تطبيق پلان هاى توليدى و انكشافي درساحات زراعت ومالداري ،آبياري ،جنګلات علفچرها، حفاظۀ نباتات مزارع امارتي وسائر فعاليت هاى وزارت زراعت ومالداري .

۲ـ استفادۀ معقول از نيروى كار منابع مالي ، امورسرمايه ګذاري، تدارک وتهيۀ تخم هاى بذري، كود كيمياوي،سائر مواد ووسائل زراعتي به مقصد بلند بردن مؤثريت اقتصا دى.

۳ـ دتکړه مسلکي کار کوونکو دټاکنې له پلوه دکرنې او مالدارۍ وزارت داړتیا دتأمینولو دلارې دکاره اغېز منتوب دلوړوالي په هکله لارښوونه او دکارکوونکود مسلکي سوئې لوړول او روزنه .

۴ـ دکرنې،مالدارۍ،اوبو لګولو ځنګلونو،څېړځایونو،امارتي کروندو مېکانیزه مرکزونو(استېشنونو) او دکرنې او مالدارۍ وزارت دنوروفعالیتونوپه برخوکې دعلمي اوتحقیقاتي پرمختګونو دعاملو په هکله لارښوونه.

۵ـ دهغوقوانینو،مقررو، اساسنامو لائحواو طرزالعملونو تسوید ول چې دکرنې او مالدارۍ وزارت له خوا طرحه او تنظیمېږي .

۶ـ دکرنې او مالدارۍ وزارت دتشکیل او بودجې دکلني پلان څېړنه .

۷ـ دکرنې اومالدارۍ وزارت داجراآ تو دحالاتو څېړل او دچارو څارل.

۸ـ دکرنې او مالدارۍ په وزارت

۳ـ رهنمائی در مورد بلند بردن مؤثریت کار به وسیلۀ تأمین ضرورت وزارت زراعت ومالداري ازلحاظ تعین کارکنان ورزیدۀ مسلکي وبلند بردن سويۀ مسلکي و تربيۀ کارکنان .

۴ـ رهنمائی درمورد تصمیم پیشرفت های علمي وتحقیقاتي درساحات زراعت و مالداري ،آبیاري،جنګلات علفچرهـا مزارع امارتي، مراکز (استیشن های)میکانیزه وسائر فعالیت های وزارت زراعت وما لداري.

۵ـ تسوید قوانین،مقررات ،اساسنامه ها لوائح و طرز العمل هایکه از طرف وزارت زراعت ومالداري طرح وتنظیم میګردد.

۶ـارزیابي پلان سالانه، تشکیل وبودجۀ وزارت زراعت ومالداري.

۷ـ بررسي وضع اجراآت ومراقبت اموروزارت زراعت وما لداري.

۸ـ استماع ګزارش های آمرین

پوري داړوندو ادارو،مؤسسو او ځانګو دآمرانود رپوټونو اوربدل او دهغو نورو مسئلواجراء کول چې دوزير له خوا سپارل کېږي.

**لسمه ماده :**

داداري شورئ تصميمونه داسلامي اصولومطابق درايوپه اکثريت نيول کېږي او دکرنې او مالدارئ په وزارت پورې په تړلو اړوندو ادارو،تصديو او مؤسسوباندې دعملي کولو وړدي.

**يوولسمه ماده :**

دکرنې اومالدارئ وزارت کولئ شي ديوه معين په مشرئ او دعلمي او مسلکي اشخاصو په ګډون علمي او مسلکي شورئ جوړه کړي.ددغې شورئ ددندو او واکونوحدود دلائحې په واسطه ټاکل کېږي.

**دوولسمه ماده :**

دکرنې او مالدارئ په وزارت پورې اړوندې ادارې او مؤسسې کولئ شي د کار د اغېزمنتوب د لوړولو او

ادارات،مؤسسات وشعبات مربوط وزارت زراعت ومالداري وانجام سائر مسائلی که توسط وزير راجع ميگردد.

**مادۀ دهم :**

تصاميم شوراى ادارى طبق اصول اسلامى به اکثريت آراءاتخاذ ميگرددوبالاى کليه ادارات،تصدي ها ومؤسسات مربوط وزارت زراعت ومالداري واجب التعميل است.

**ما دۀ يا زد هم :**

وزارت زراعت ومالداري ميتواند شوراى علمي ومسلکي راتحت رياست يکي ازمعينان به اشتراک اشخاص علمي ومسلکي ايجادنمايد. حدود وظائف وصلاحيت هاى شوراى مذکور،توسط لائحه تعيين ميگردد.

**مادۀ دوازدهم :**

ادارات ومؤسسات مربوط وزارت زراعت ومالداري ،ميتوانند به منظوربلند بردن مؤثريت وفراهم ساختن تسهيلات كار

دآسانتیاوودبرابرولوپه مقصددکارد ماهیت سره سم داداري دآمرپه مشرۍ او دارونډو مسلکي مامورينو په ګډون په خپلوادارو کې دماهرانو خانګړې مسلکي هيئت (کميسيون )جوړ کړي .

دماهرانو د مسلکي هيئت (کميسيون)غړي اوددندو لائحه داداري شورئ له خواتصويب او دوزير له خوا منظوربېږي .

## څلورم فصل
## و روستني حکمونه

**دیارلسمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍ وزارت مهرلري چې په هغه کې دافغانستان اسلامي امارت نښان اودوزارت نوم درج شوی دی.

**څوارلسمه ماده :**

دغه مقرره دتو شيح له نيټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي او ددغې مقررې په نافذېدو سره د کرنې اودځمکو داصلاحاتو وزارت داجراآتو او فعاليتونو دتنظيم هغه مقرره چې د ۱۳۶۰ هجري لمريز کال

مطابق به ماهيت کار هيئت متخصصين (کميسيون)مسلکي جداګانه رادر ادارات خويش تحت رياست آمر اداره به اشتراک مامورين مسلکي مربوط تأسيس نمايند. اعضا ولائحهٔ وظائف هيئت متخصصين (کميسيون)مسلکي توسط شورای اداری تصويب وازطرف وزير منظور ميګردد.

## فصل چهارم
## احکام نهائي

**مادهٔ سيزدهم :**

وزارت زراعت ومالداری دارای مهری ميباشد که در آن نشان امارت اسلامي افغانستان ونام وزارت درج شده است .

**مادهٔ چهاردهم :**

اين مقرره از تاريخ توشيح نافذ ودر جريدهٔ رسمي نشر ګردد وبا انفاذ آن مقررهٔ تنظيم اجراآت وفعاليت هاي وزارت زراعت واصلاحات ارضي منتشرهٔ شمارهٔ(۵۰۱)مورخ پانزده دلو سال

دسلواغې دمياشتې په پنځلسمه نيټه چې درسمي جريدې په (۵۰۱) گڼه کې خپره شوې ده .لغوه بلل کېږي .

۱۳۶۰هجـــــري شمســـــي جريـــــدۀ رســـــمي ملغـــــې شمرده ميشـــود.

بِسْمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْم

# دنباتي قرانطين دخدمتونومقرره .

دنباتي قرانطين دخدمتونو مقرره

لومړی فصل

عمومي حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه مقرره دنباتي قرانطين دقانون د(۳۷) مادې دحکم له مخې وضع شوېده .

**دوهمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍ وزارت په هېواد کې دنباتي قرانطين مسؤل دی چې دنباتاتو دساتنې او قرانطين درياست له لارې په ملي او نړيواله سطحه خپلې دندې ترسره کوي .

**درېيمه ماده :**

دنباتاتو دساتنې او قرانطين رياست په مرکزکې له رئيس اومرستيال ،په ولايتونوکې دقرانطين دعمومي مديريتونو او مسلکي او اداري مامورينو څخه چې دکرنې او مالدارۍ وزارت په محدوده کې دقانون له حکمونو سره سم فعاليت کوي،جوړشوی دی .

مقررهٔ خدمات قرانطين نباتي

فصل اول

احکام عمومي

**مادهٔ اول:**

اين مقرره ،به تأسي از حکم مادهٔ (۳۷) قانون قرانطين نباتي ،وضع گرديده است .

**مادهٔ دوم :**

وزارت زراعت ومالداری مسؤل قرانطين نباتي در کشور بوده از طريق رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين وظائف خويش را در سطح ملي و بين المللي انجام ميدهد .

**مادهٔ سوم :**

رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين،متشکل است از رئيس ومعاون در مرکز ،مديريت هاي عمومي قرانطين در ولايات و مامورين مسلکي و اداري که در محدودهٔ وزارت زراعت ومالداري مطابق احکام قانون فعاليت مينمايند .

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

خلورمه ماده :

په مرکزکې دنباتاتو دساتنې او قرانطـــين رياست اوپه ولايتونو کې دنباتاتودســاتنې اوقرانطين مدير يتونه ددغو لاندې دندوپه ترسره کولومکلف دي :

۱_دنباتي قرانطين دســاحوټاکنه.

۲_دنباتي قرانطين له آفتونو ،نــاروغيو اوهــرزه ګيــاوو څخــه دنمونـــوي مجموعو(کلکسيون)برابــرول .

۳_له هېوادڅخه بهراوله بهر څخـــه داخــــل تــــه دقرانطينــــــي آفتونو،ناروغيواوبيکاره (هــرزه) ګيــاوو له لېږديدوڅخه مخنيــوی.

۴_دنباتي روغتيــائي تصديــق ليکونــو (سرتيفيکت) کتنه اوپدې برخـــه کــې دډاډترلاسه کــول .

۵_دنباتي واورداتي امتعې کتنـــه او لــه آفتونــو، نــاروغيواوقرانطيني بيکـــاره (هرزه) ګياوو څخه دنومــوړي امتعــې دپاکوالي په هکله دډاډترلاسه کـــول.

## فصل دوم

## وظائف وصلا حيت ها

مادهٔ چهارم :

رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين درمرکــز ومد يريت های حفاظهٔ نباتات وقرانطـــين درولايات مکلف به انجام وظائف ذيـــل ميباشند :

۱_تعيين ساحات قرانطين نبـــاتي .

۲_تهيهٔ مجموعــهٔ(کلکســيون) هـــاي نمونوي آفات،امــــراض وګيــاه هـــای هرزهٔ قرانطين نبــاتي .

۳_جلوګيري از انتقال آفات، امــــراض وګيــاه هـــاي هـــرزهٔ قرانطينـــــي ازخـــارج بــه داخـــل واز داخــــل به خارج کشــور .

۴_ملاحظهٔ تصديق نامه (ســرتيفيکت) هـــای صحـي نبـــاتي وحصـــول اطمينان درزمينــه .

۵_معاينــهٔ امتعــهٔ نبــاتي وارداتـــــي وحصول اطمينان درمورد عاري بـــودن امتعهٔ متذکره، ازآفات،امــراض وګيــاه های هرزهٔ قرانطينـــي .

۶_ دهغونباتي محصولاتواولېږدوونکو واسطوضدعفوني کول چې له بهرنيوهېوادونوڅخه، دهېواد په دننه کې له قرانطين لاندې يادهېوادله نوروسيمو نه لېږدول اورالېږدول کېږي.

۷_ بهرته دصادريدو لپاره دچمتو نباتي محصولاتو کتنه.

۸ _ دنباتي آفتونو،ناروغيواوبيکاره (هرزه) ګياوو دپه خپل وخت کشف اودنباتي قرانطين له پلوه دهېواددسيمو دوېشني په منظوردزراعتي محصولاتودانبارونو(ګدامونو)اونورو کورنيو زيرمو څېړنه.

۹_ له نباتي آفتونو،ناروغيواوبيکاره (هرزه )ګياووسره دمبارزې په منظورله کورنيواوبهرنيوعلمي مؤسسوسره مرسته (همکاري).

۱۰_ له څېړنو او آزمېښتونوڅخه دلاس ته راغلو پايلو تعميمول اودقرانطيني آفتونواوبيکاره(هرزه) ګياوو پرضد دمبارزې له لاروچاروسره دخلکوبلدول.

۶_ضدعفوني کردن محصولات نباتي ووسائط نقليه ايکه از کشورهاي خارج،مناطق تحت قرانطين داخل ياسائر مناطق کشورنقل وانتقال مييابد.

۷_ معاينهٔ محصولات نباتي آمادهٔ صدور به خارج.

۸ _ بررسي محصولات زراعتي انبارخانه ها (ګدام ها)وسائرذخيره ګاه هاي داخلي ،به منظور کشف به موقع آفات وامراض نباتي وګياه هاي هرزه وتقسيم بندي مناطق کشور،ازلحاظ قرانطين نباتي.

۹_ همکاري باموٌسسات علمي داخلي وخارجي،به منظور مبارزه با آفات وامراض نباتي وګياه هاي هرزه.

۱۰_ تعميم نتائج حاصله از بررسي ها وآزمائشات وآشناساختن مردم به طريق مبارزه با آفات قرانطيني وګياه هاي هرزه.

۱۱_ دهغوتخمونو،قلمو،نيالګيو زينتي بوټواونوروهغو نباتاتو کتنه چې په امارتي اوانفرادي کرونډو(فارمونو)او تودوخونوکې دکرنې لپاره له بهرڅخه واردېږي.

۱۲_ دنباتي قرانطين دنړيوالو مقرراتو درعايت له مخې دهغې نباتي امتعې دلېږدولوپه هکله د تړونونوکتنه چې له بهرنيوهېوادوسره تړل کېږي اوپدې برخه کې دنظروړاندې کول.

پنځمه ماده :

ګمرکونه،پوسته خانې،هوائي ډګرونه اوسرحدي بندرونه،هېواد ته دنباتي محصولاتودلېږدوونکو واسطو دراتګ په وخت کې ،د لاندې مواردو په رعايتولو مکلف دي :

۱_دمحمولې(بګاژ)او پُستي غوټو(پارسلونو) داندازې اوشمېرپه يادونې سره دنباتي محصولاتو لېږدوونکو واسطوداخليدودنېټې ټاکنه اودنباتي قرانطين موظفينوته خبر ورکول .

۱۱_معا ينۀ تخم هاي بذري ،قلمه ها، نهال ها ، بته ها ي زينتي وديګر نباتا تيکه به منظور زرع در مزرعه (فارم) ها وګرم خانه هاي امارتي وانفرا دي از خارج وارد ميشود.

۱۲_ملاحظۀ قرارداد هائيکه در مورد انتقال امتعۀ نباتي با کشور هاي خارجي عقدميګردد، از نګاه رعايت مقررات بين المللي قرانطين نباتي وابرازنظردرمورد.

مادۀ پنجم :

ګمرکات ، پسته خانه ها، ميدانهاي هوائي و بنادر سرحدي ، حين ورود وسائط نقليه حامل پيداوار نباتي به کشور، مکلف به رعايت مواردذيل مي باشد:

۱_تعين تاريخ ورود وسائط نقليه حامل پيداوار نباتي باذکر مقدار،تعداد بسته (پارسل ) هاي پُستي ومحموله (بګاژ )و دادن اطلاع به مؤظفين قرانطين نباتي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دڅرځاى اومرعي قانون .

۲_ دنباتي قرانطين دمؤظفينو دکتنې لپاره دنباتي وارده محصولاتو په اړوند د سندونو تسليمول .

۳_ دنباتي قرانطين دمؤظفينو دکتنې اوتشخيص تروخته پورې ،په مناسب ځای کې دنباتي محصولاتو دبارونو او پُستي غوټوساتنه.

**شپږمه ماده :**

دوارداتي اوصادراتي نباتي محصولاتو اودنوموړومحصولاتو لرونکو لېږدوونکو واسطو کتنه داړوندوګمرکي تعاملاتو له اجراءکولو سره په يو وخت کې ترسره کېږي.

**اوومه ماده :**

دنباتي قرانطين مؤظفين کولای شي دلاس دغوټولو لېږدوونکو نه ددوی په غوټوکې دنباتي محصولاتو دقرانطين دموجوديت په هکله لازم معلومات ترلاسه اودنباتي قرانطين دقانون او ددې مقررې حکمونه پرې تطبيق کړي.

۲_ تسليمي اسناد مربوط محصولات نباتي وارده به کشور، جهت ملاحظهٔ مؤظفين قرانطين نباتي .

۳_ حفظ ونگهداشت محموله ها و بسته هاي پُستي محصولات نباتي،در محل مناسب الیٰ زمان معاينه وتشخيص مؤظفين قرانطين نباتي.

**مادهٔ ششم :**

معاينهٔ محصولات نباتي وارداتي وصادراتي ووسائط نقليهٔ حامل پيداوار متذکره، همزمان با اجرای تعاملات گمرکي مربوط به آن ،صورت ميگيرد.

**مادهٔ هفتم :**

مؤظفين قرانطين نباتي،ميتوانندازانتقال دهنده گان محموله هاي دستي راجع به موجوديت قرانطين محصولات نباتي در محموله های شان،معلومات لازم را کسب واحکام قانون قرانطين نباتي و اين مقرره رابالاي شان تطبيق نمايند.

اتمه ماده :

دنباتي قرانطين مؤظفين دتجزيوي اوتحليلي (لابراتواری) ژورې کتنې په منظورله وارداتي او صادراتي نباتي محصولاتوڅخه په لاندې شرائطو سره بېلګې اخلي :

۱ ــ دتړل شوو(بسته بندي شويو)نباتی محصولاتوبیلګه اخیستنه په لاندې توګه:

ــ له (۱-۱۰)غوټو،له ټولوغوټوڅخه.

ــ له (۱۰-۱۰۰)غوټو،دټولوغوټوپه سلوکې له (۲۰) څخه .

ــ له(۱۰۰-۱۰۰۰)غوټو،په سلوکې له (۱۰)څخه.

ــ له زروڅخه زياتو غوټو،په سلوکې له (۵)څخه.

۲ ــ ددريو کيلو ګرامويه اندازه دنه تړل شوو نباتي محصولاتو بېلګه اخيستنه په لاندې ډول ده :

ــ له پورتني سطحې څخه تر(۲۰)سانتي متروژوروالي پورې.

ــ له منځ څخه دلوړوالي تر نېږدې نيم ژوروالي پورې.

ــ له لاندينۍ برخې څخه دمحمولې له لاندې څخه.

مادۀ هشتم :

مؤظفين قرانطين نباتي از محصولات نباتي صادراتي ووارداتي،به منظور معاينات دقيق تجزيوی وتحليلی (لابراتواری)باشرائط ذيل نمونه ګيري مي نما يند :

۱ ــ نمونه ګيري محصولات نباتی بسته بندي شده به ترتيب ذيل :

ــ از(۱-۱۰)بسته،ازتمام بسته ها .

ــ از(۱۰-۱۰۰)بسته از(۲۰)فيصد بسته ها.

ــ از(۱۰۰-۱۰۰۰)بسته از (۱۰) فيصدآن.

ــ از بيش ازهزاربسته از(۵) فيصدآن.

۲ــنمونه ګيري محصولات نباتي بسته بندي نشده به مقدار (۳) کيلو ګرام به ترتيب ذيل:

ــ ازسطح فوقاني به عمق(۲۰) سانتي متر.

ــ ازوسط به عمق تقريباً نصف ارتفاع.

ــ ازقسمت تحتاني ازپائين محموله.

۳_ دنباتي محصولاتو دوروپستي غوټوبېلګه اخيستنه په لاندې ډول ده:

_ له (۱-۲۵) غوټو،ټولي غوټې کتل کېږي.

_له(۲۵) غوټوڅخه زياتي، دهغو ($\frac{۱}{۴}$) کتل کېږي.

۴_دنباتاتو دنيالګيو،قلمو اوريښو بېلګه اخيستنه په لاندې ډول ده :

_نيالګي اوقلمي په سلوکې سل کتل کېږي.

_ترځمکې لاندې ريښې او ساقې تر (۵۰۰)دانو پورې په سلو کې سل کتل کېږي .

۵_دتازه سبو او مېوو بېلګه اخيستنه په لاندې ډول ده :

| دغوټو(پارسلونو) شمېر | دهغوغوټوشمېر چې کتل کېږي | دکتنې وړ موادومقدار |
|---|---|---|
| له(۱۱۰)غوټونه | (۱۰)غوټې | (۳۰۰)دانې |
| له(۱۰۰)غوټونه زياتي تر(۵۰۰) غوټوپورې | (۲۰)غوټې | (۶۰۰)دانې |
| له(۵۰۰)غوټونه زياتي | (۳۰)غوټې | (۱۰۰۰)دانې |

۳_نمو نه گيري محصولات نباتي بسته بندي هاي کوچک پُستي به ترتيب ذيل:

_از(۱_۲۵)بسته، تماماً بسته ها معاينه ميگردد.

ازبيش از(۲۵)بسته ($\frac{۱}{۴}$) آن معاينه مي گردد.

۴_نمونه گيري نهال ها،قلمه ها وريشه هاى نباتات به ترتيب ذيل :

نهال ها وقلمه ها صد فيصد معاينه مى گردد.

_ريشه ها و ساقه ها ي زير زميني الیٰ (۵۰۰)عدد،صد فيصد معاينه مى گردد.

۵_نمونه گيري سبزيجات وميوه جات تازه به ترتيب ذيل:

| تعدادبسته (پارسل) | تعدادبسته هائيكه معاينه ميگردد | مقدارمواد قابل ملاحظه |
|---|---|---|
| از(۱۱۰)بسته | (۱۰)بسته | (۳۰۰)دانه |
| ازبيش از(۱۰۰) الیٰ(۵۰۰)بسته | (۲۰)بسته | (۶۰۰)دانه |
| بيش از(۵۰۰) بسته | (۳۰)بسته | (۱۰۰۰)دانه |

نهمه ماده :

(۱)دنباتي قرانطين مؤظفين كولاى شي واردشوي نباتي محصولات دبندرونو اوهوائي ډګرونوپه انبارخانواونوروزېرمتونونوكې تركتنې اوڅېړنې لاندې ونيسي.

(۲)اړوندې ادارې مكلفې دي(چې) دمؤظفينو دڅېړنې لپاره آسانتياوې برابرى اولازم معلومات دهغوى په واک كې وركړي.

## دريم فصل

## كورنى قرانطين

لسمه ماده :

په هېواد كې له امارتي، ګډو،خصوصي او انفرادي نباتي قوريو څخه كتنه جبري امر دى چې دنباتي قرانطين دمؤظفينو له خوا دقرانطيني آفتونودكشفولو په منظورترسره كېږي.

يوولسمه ماده :

ټولې امارتي، ګډې اوخصوصي مؤسسې او انفرادي اشخاص مكلف دي(چې) دقوريو ترجوړولودمخه خپلې قورېې دنباتي قرانطين په نږدې دفترونوكې ثبت كړي.

مادۀ نهم :

(۱) مؤظفين قرانطين نباتي ميتوانند محصولات نباتي وارده به انبارخانه هاي گمركي، بنادر،ميدان هاي هوائي وسائر ذخيره گاه هاراامورد ملاحظه و بررسي قرار دهند.

(۲) ادارات مربوطه مكلف اند،تسهيلات راجهت بررسي مؤظفين فراهم ومعلومات لازم را در اختيار آن ها قرار دهند .

## فصل سوم

## قرانطين داخلي

مادۀ دهم :

معاينه وبازديد از قوريه هاي نباتي در كشور،اعم ازامارتي،مختلط،خصوصي وانفرادي امراجباري بوده ،توسط مؤظفين قرانطين نباتي،به منظوركشف آفات قرانطيني صورت ميگيرد.

مادۀ يازدهم :

تمام مؤسسات امارتي،مختلط،خصوصي واشخاص انفرادي مكلف به ثبت قوريه هاى شان درنزديكترين دفترقرانطيني نباتي،قبل ازاحداث آن ميباشند.

**دوو لسمه ماده :**

دنباتي محصولاتو کروندګراومالکان مکلف دي چې په خپلومزارعو،قوريو او بڼونوکې دقرانطيني آفتونودلګېدوپه وخت کې،له موضوع څخه ډېر ژر نږدې قرانطيني مرکز ته خبر ورکړي.

**ديارلسمه ماده :**

دنباتي قرانطين مؤظفين مکلف دي چې د قرانطيني آفتونودپيداکيدونه په خبرېدوسره دهغوله خپرېدلو څخه دمخنيوي لپاره په عاجله توګه اقدام وکړي اولاندې تدبيرونه عملي کړي:

_ په آفتونو باندې دککړې سيمې ټاکل او اعلامول او دککړتيادسرچينې له نظره دهېواد دسيمو وېشنه .

_ له ککړوسيمو څخه روغوسيموته د نباتي محصولاتو اونباتاتو دلېږدونې منع کول.

_دآفت دلومړنۍ سرچينې دله منځه وړلو په منظورډېر ژراواغېزمن اقدامات کول.

**خوارلسمه ماده :**

دقرانطيني آفتونو دکشف په منظور دنباتي محصولاتو دموقتي او دائمي

**مادهٔ دوازدهم :**

دهاقين وصاحبان محصولات نباتي حين بروز آفات قرانطيني در مزارع قوريه جات وباغ های شان ، مکلفيت دارند ازموضوع به اسرع وقت به نزديکترين مرکزقرانطيني اطلاع دهند.

**مادهٔ سيزدهم :**

مؤظفين قرانطين نباتي ، حين دريافت اطلاع از بروزآفات قرانطيني، مکلف اند جهت جلوګيري از انتشار آن عاجلاً داخل اقدام ګرديده وتدابير ذيل را عملي نمايند:

_تعيين واعلام منطقهٔ آلوده به آفات وتقسيم بندي مناطق کشور از نظر منبع آلودګي.

_ممنوعيت حمل ونقل نباتات ومحصولات نباتي ، از مناطق آلوده به مناطق سالم.

_اقدامات موٴثروفوري،به منظور ازبين بردن منبع اوليهٔ آفت.

**مادهٔ چهاردهم :**

معاينه وتفتيش انبار خانه ها ،سيلو ها وديګر ذخيره هاي دائمي و موٴقتي

انبارخانو ،سيلو گانو او نورو زيرمتونونو کتنه اوڅېړنه، دداخلي قرانطين دمؤظفينو له خوا تر سره کېږي.

## څلورم فصل

## بهرنی قرانطين

**پنځلسمه ماده :**

دافغانستان اسلامي امارت او گاونډيو هېوادونو ترمنځ دنباتي مالونو دسوداگرۍ قرارداددعقد کولوپه وخت کې دقرانطين په اړوند لاندې موضوعات چې دنباتاتو دساتنې اوقرانطين درياست له خوا وړاندې کېږي،په قرارداد کې شاملېږي:

۱ـ که چېرې دعقدکوونکو هېوادونو په سرحدي سيموکې نباتي آفتونه وليدل شي،ددواړو خواوو دسرحد په پنځوس کيلو مترۍ کې دهغوله پراختياڅخه دمخنيوي په منظورلازم اوفوري اقدامات عملي کېږي.

۲ـ په تړون کې دشاملو نباتي محصولاتو دترلاسه کولو د ځای او محصولات نباتي ، به منظور کشف آفات قرانطيني،توسط مؤظفين قرانطين داخلي صورت ميگيرد.

## فصل چهارم

## قرانطين خارجي

**مادهٔ پانزدهم :**

حين عقد قرارداد تجارتي امتعهٔ نباتي بين امارت اسلامي افغانستان وممالک همجوار،موضوعات ذيل نيز به ارتباط امورقرانطين که ازجانب رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين ارائه ميشود،شامل قرارداد ميگردد:

۱ـ هرگاه درمناطق سرحدي کشور هاي عقدکننده قرارداد،آفات نباتي به ملاحظه برسد،درپنجاه کيلومتري سرحد طرفين ،اقدامات لازم وفوري جهت جلوگيري از انتشار آن عملي ميگردد .

۲ـ ارائهٔ معلومات دقيق درموردمحل وناحيهٔ حصول محصولات

سيمې په هكله ددقيقو معلوماتو وړاندې كول او په قرانطيني ناروغيو باندې دنوموړو ځايونو او سيمودككړوالي او نه ككړوالي په هكله لازم معلومات.

۳_ په عفوني ضد وسائلو باندې دنه لاسبري په صورت كې،نباتي محصولات له هغه ځايه غوره كېږي چې په قرانطيني ناروغيو ككړنه وي.

شپاړسمه ماده :

په كروندوكې،هېواد ته دراغلو(واردوشويو)نباتاتودتخم تكثيرول،دنباتي قرانطين دمؤظفينو له موافقې پرته جواز نه لري .

پنځم فصل

دنباتي محصولاتو اونباتي تخمونوواردول اوصادرول

اووه لسمه ماده :

هېواد ته دراغلو نباتي محصولاتوروغتيائي تصديق ليک،په هغه صورت كې چې دمحصولاتوله نړيوالو جايزه مقرراتوسره سمون ولري داعتبار وړ گڼل كېږي.

نباتي،شامل قرار داد ومعلومات لازم راجع به آلودگي يا عدم آلوده بودن محل وناحيهٔ متذكره به آفات قرانطيني.

۳_درصورت عدم دسترسي به وسائل ضدعفوني كننده، محصولات نباتي ازمحلي انتخاب ميشود كه آلوده به آفات قرانطيني نباشد .

مادهٔ شانزدهم :

تكثيرتخم نباتات وارد شده به كشور،درمزارع ،بدون موافقهٔ مؤظفين قرانطين نباتي جوازندارد.

فصل پنجم

ورود وصدور تخم نباتات ومحصولات نباتي

مادهٔ هفدهم :

تصديق نامهٔ صحي محصولات نباتي وارده به كشور،درصورتيكه به مقررات جائزه بين المللي محصولات مطابقت داشته باشد،مورد اعتبار پنداشته ميشود .

اتلسمه ماده :

(۱) هغه امارتي ، ګډ او خصوصي مؤسسې، سوداګر او انفرادي اشخاص چې نباتي محصولات د سوداګري مالونو په بڼه يا نورو بڼو صادريائي له ځانه سره وړي، مکلف دي چې، له قرانطيني مقرراتو سره سم د ګمرکي پړاوونو له تېرولو څخه دمخه له قرانطيني ځانګو څخه نباتي روغتيائي تصديق ليک واخلي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقرې کې درج شوي مؤسسې او اشخاص مکلف دي چې د ګمرکي پړاوونو له تېرولو څخه دمخه د نباتي قرانطين ځانګو ته ورشي او دلاندنيو معلوماتولرونکې ليکلي غوښتنليک وړاندې کړي :

ـ د نباتي محصول نوم، اندازه او ځاى.
ـ کوم هېواد ته صادريا وړل کېږي .
ـ په نباتي موادو بار دلېږدوونکو وسائطو ډول.
ـ وسائط د افغانستان اسلامي امارت له کوم بند رنه تېرېږي.

مادهٔ هجدهم :

(۱) مؤسسات امارتي، مختلط وخصوصي، تجار و اشخاص انفرادي ايکه محصولات نباتي را به شکل مال التجاره يا ديگر اشکال صادر يا با خود مى برند ، مکلف اند، طبق مقررات قرانطيني قبل از طي مراحل ګمرکي، از شعبات قرانطين تصديق نامهٔ صحي نباتي اخذ نمايند.

(۲) اشخاص ومؤسسات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده مکلف اند، قبل از طي مراحل ګمرکي به شعبات قرانطين نباتي مراجعه و درخواستي تحريري حاوي معلومات ذيل را ارائه دارند :

ـ اسم، مقدار ومحل محصول نباتي .
ـ به کدام مملکت صادر يا برده ميشود.
ـ نوع وسائط نقليه حامل مواد نباتي.
ـ وسائط از کدام بندر امارت اسلامي افغانستان عبور مي نمايند.

**نولسمه ماده :**

دنباتي تخمونو واردول دنباتي قرانطين دمؤظفينوپه مخكيني خبرتيااوموافقې سره ترسره كيداي شي .

**شلمه ماده :**

دكرنې په منظوردنباتي تخمونوواردول دنباتي قرانطين دمؤظفينو له مخكيني خبرتيا پرته جواز نه لري .

**يوويشتمه ماده :**

كه چېري هېوادته واردشوی دنباتاتو تخم دنباتي قرانطين دتجزيوي اوتحليلي (لابراتواري )كتنو وروسته په ناروغيو اخته وپېژندل شي،ضدعفوني كېږي او دلزوم په صورت كې له منځه وړل كېږي .

**دوه ويشتمه ماده :**

دګمركاتوعمومي اداره مكلفه ده چې، د هرراز نباتي محصولاتوعبوري (ترانزيت) لېږدونه، دافغانستان اسلامي امارت له قلمرو څخه ترتېريدو دمخه په رسمي توګه دنباتاتو دساتنې او قرانطين رياست ته خبر وركړي .

**مادهٔ نزدهم :**

ورود تخم نباتات باموافقت واطلاع قبلي مؤظفين قرانطين نباتي صورت ګرفته ميتواند.

**مادهٔ بيستم :**

ورود تخم نباتات به منظور كشت بدون اطلاع قبلي به مؤظفين قرانطين نباتي جواز ندارد.

**مادهٔ بيست ويكم :**

هرګاه تخم وارد شدهٔ نباتات به كشور،بعد از معاينات تجزيوى وتحليلي(لابراتوارى) قرانطين نباتي آلوده به آفات تشخيص ګردد،ضد عفوني ګرديده ودر صورت لزوم محو ميګردد.

**مادهٔ بيست ودوم :**

ادارهٔ عمومي ګمركات،مكلف است تاحمل ونقل عبوري (ترانزيت) هر ګونه محصولات نباتي را،قبل از عبور ازقلمروامارت اسلامي افغانستان رسماًبه اطلاع رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين برساند.

درويشتمه مــاده :

هېواد ته دهر ډول ژونـــد ی حشـــرې راوړل، دژوند په هره دوره کـــې چــې وي، جواز نه لــري .

څلورويشتمه مــاده :

دنباتاتودســاتني او قرانطــين رياســت کولای شي داړتيــاپــه صــورت کـــې دکرنې او مالدارۍ وزارت پـــه اجــازه دګټوروحشراتوپــه راوړلــو(واردولــو) لاس پوري کــړي.

پنځه ويشتمه ماده:

دمجموعــو(کلکســيونونو)دجوړولـــو ياعلمي څېړنـــو لپــاره دمړوحشـــراتو راوړل پــه هغــه صــورت کــې چــې ضدعفوني شوې وي ،دنباتاتو دســـاتنې او قرانطــين د رياســت لــه موافقـــې وروسته جوازلـــري.

شپږم فصل

وروستني حکمونه

شپږويشتمه ماده:

دکرنې اومالدارۍ وزارت،دماليې وزارت دســـوداګري وزارت،دګمرکـــــاتو

مادهٔ بيست وسوم :

ورودهرنوع حشرهٔ زنده به کشـــوردر هردورهٔ زنده ګي که قرارداشته باشـــد جوازندارد.

مادهٔ بيست وچهارم:

رياســت حفاظـــهٔ نباتــات وقرانطـــين درصورت ضرورت ميتواند به توريـــد حشرات مفيـــد بـــه استيذان وزارت زراعـــــــت ومـــــــــالداري اقدام نما يــد .

مادهٔ بيست وپنجم :

ورودحشرات مرده براي مجموعـــه هـــا (کلکسيونها) يا بررســي هـــاي علمـــي درصورتيکـــه ضـــد عفونـــي شـــــده باشد،بعدازموافقـــهٔ رياســـت حفاظـــهٔ نباتــــــــات وقرانطــــــــــــــين جــوازدارد.

فصل ششم

احکام نهائي

مادهٔ بيست وششم :

وزارت زراعت ومالداري ،وزارت ماليـــه وزارت تجارت،ادارهٔ عمومي ګمرکـــات

عمومي اداره اونورې امارتي، ګډې اوخصوصي اړوندې ادارې اوانفرادي اشخاص دنباتي قرانطين دقانون اوددغې مقررې دحکمونوپه رعايتولو مکلف دي.

**اووه ويشتمه ماده:**

دنباتي قرانطين مؤظفين دنباتي قرانطين دقانون اوپه دې مقررې کې له درج شوو حکمونو سره سم دځپلو دندو په اجراءکولو مکلف دي او دسرغړونې غفلت يا له وظيفوي بې پروائي (سهل انګاري) نه درامنځ ته شوي ناخبرۍ په صورت کې دقانون له حکمونوسره سم شرعي مجازات کېږي .

**اته ويشتمه ماده:**

دنباتي قرانطين مرکزونه ځانګړې مهر لري چې دنباتاتو دساتنې اوقرانطين درياست نوم اونښان (سمبول) پکې درج شوی دی.

**نهه ويشتمه ماده:**

دغه مقرره دتوشيح له نېټې نه نافذ ه او په رسمي جريده کې دې خپره شي او ددغې مقررې په نافذېدوسره دنباتي قرانطين

وسائر ادارات ذيربط امارتي،مختلط خصوصي واشخاص انفرادي ،مکلف به رعايت احکام قانون قرانطين نباتي واين مقرره مي باشند.

**مادهٔ بيست وهفتم:**

مؤظفين قرانطين نباتي مکلف به اجراى وظائف شان ،مطابق احکام مندرج قا نون قرانطين نباتي واين مقرره بوده ودر صورت تخلف ، غفلت ياعدم اطلاع ناشي از سهل انګاري وظيفوي دررابطه بابروز آفات نباتي مطابق احکام قانون مجازات شرعي ميشوند .

**مادهٔ بيست وهشتم:**

مراکزقرانطين نباتي داراى مهر مخصوص بوده که نام و نشان (سمبول) رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين درآن درج مى باشد.

**مادهٔ بيست ونهم :**

اين مقرره ازتاريخ توشيح نافذ ودرجريدهٔ رسمي نشرگردد وباانفاذ آن مقررهٔ خدمات قرانطين نباتي

دخدمتونومقرره چې د ۱۳۷۰/۵/۱۵ ه.ش نېټې په (۷۴۸)ګڼه رسمي جريـــده کې خپره شوې ده،ملغې ګڼل کېږي.

منتشرۀ شـــماره (۷۴۸)مـــؤرخ ۱۳۷۰/۵/۱۵هـــ.ش جريـــدۀ رســـمي ملغې شناخته ميشـــود.

بسم الله الرحمن الرحيم

# دنباتي ناروغيواوآفتونوضددرملو

# (پستي سايدونو)دواردولو

# وېش اواستعمال مقرره.

دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درملو
(پستي سايدونو) دواردولو،وېش او
استعمال مقرره

لومړی فصل

عمومي حکمونه

لومړۍ ماده :

(۱) دغه مقرره دنباتاتودساتني ، دکرنې دحاصلاتو دسطح دلوړولو او دلګوونکو(مستهلکينو)دروغتيا دتأمينولو په خاطردنباتي ناروغيو او آفتونو ضدد ډاډمن کيفيت او کميت لرونکو بې خطره درملو(پستي سايدونو)دواردولو وېشلو او سمې کارونې په شرائطوپورې اړوندو چارو دتنظيمولو په مقصد وضع شوې ده .

(۲) هغه دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درمل چې دانساني او حيواني روغتيا په برخه کې استعماليږي ددغې مقررې په حکمونو کې شامل نه دي.

مقررهٔ ټوريد،توزيع واستعمال ادويهٔ
ضد آفات وامراض نباتی
(پستي سايد ها)

فصل اول

احکام عمومی

مادهٔ اول:

(۱)اين مقرره ، به منظور تنظيم امور مربوط به شرائط توريد ، توزيع واستعمال سالم ودارای کيفيت و کميت مطمئن وبی خطر ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتی (پستي سايدها)جهت حفاظهٔ نباتات ، بلند بردن سطح حاصلات زراعتی وتأمين صحت مستهلکين وضع گرديده است .

(۲) ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتی که دربخش صحت انساني وحيوانی استعمال ميشود شامل احکام اين مقرره نمی باشد.

دوه يمه ماده :

دنباتي ناروغيو او آفتونوضد درمل (پستي سايدونه) له هغو موادو څخه عبارت دي چې د ودې ،توليد ، زېرمه كولو،حمل اونقل،زراعتي محصولاتو،انساني اوحيواني خوړودعملياتي مرحلو (پروسس) اووېشلو په وختونو كې دډول ډول نباتي آفتونو دمخنيوي،جذب اودفعې او څارنې په منظور اويا دحيواناتو دبهرنيوپرازيتونو پر ضد استعماليږي .

هغه مواد چې دنباتاتودودې دتنظيمولو،دپاڼودتويولو، وچوونكي درمل دميوې ديكه كولو عامل ،دبچكي مخه نيوونكي درمل او هغه مواد چې دحاصل تر اخيستلومخكې او وروسته دزېرمه كولو او حمل او نقل په وخت كې له خوساكېدواوورستيدو څخه دحاصلاتو دساتنې په منظور كارول كېږي ، هم په هغو كې شامل دي .

مادۀ دوم :

ادويۀ ضد آفات وامراض نباتی (پستي سايدها) عبارت از مواديست كه به مقصد جلوگيری و امحاء ، جذب و دفع يا مراقبت انواع آفات نباتی در وقت نمؤ، توليد ، ذخيره حمل و نقل ، توزيع،مراحل عملياتی (پروسس) غذای انسانی وحيوانی محصولات زراعتی ويا مواديكه عليه پرازيت هاي خارجی حيوانات استعمال ميشود،مواديكه جهت تنظيم نموی نباتات ، ريختاندن برگ ادويۀ خشک كننده، عامل يكه كنندۀ ميوه، ادويۀ جلوگيري كنندۀ جوانه ومواديكه قبل ازبرداشت حاصل و بعد از آن به مقصد حفاظت محصولات از گنديدن و پوسيدن دراثنای ذخيره وحمل ونقل بكار ميرود،نيز درآن شامل ميباشد .

## دوه یم فصل

### ثبت (راجستریشن)

دریمه ماده :

دنباتي ناروغیو او آفتونو ضد درملو واردول وېشل او استعمالول چې کمي او کیفي مشخصات ئې د نباتاتو د ساتنې او قرانطین د ریاست لخوا تصدیقېږي، د کرنې او مالدارۍ وزارت د نباتاتو د ساتنې او قرانطین د ریاست د ثبت د سند په ترلاسه کولو سره د عامې روغتیا وزارت په موافقه صورت مومي.

څلورمه ماده :

تولیدوونکي مؤسسه کولای شي د ثبت یا په ثبت کې د تعدیل غوښتنه وکړي پلورونکي مؤسسه د تولیدوونکي مؤسسې په اجازه کولای شي ، د ثبت او تعدیل غوښتنه د نېټې په یادونې سره وکړي او لاسلیک ئې کړي .

پنځمه ماده :

د ثبت غوښتنه باید د نباتي ناروغیو او آفتونو ضد درملو د فزیکي او کیمیاوي

## فصل دوم

### ثبت (راجستریشن)

مادۀ سوم :

تورید، توزیع واستعمال ادویۀ ضد آفات وامراض نباتی که مشخصات کمي وکیفي آنها توسط ریاست حفاظۀ نباتات و قرانطین تصدیق میگردد، به اساس کسب سند ثبت (راجستر) ریاست حفاظۀ نباتات وقرانطین وزارت زراعت ومالداری به موافقۀ وزارت صحت عامه صورت میگیرد.

مادۀ چهارم :

مؤسسۀ تولیدکننده، میتواند درخواست ثبت یا تعدیل درثبت دست داشتۀ خود را تقاضا نماید. مؤسسۀ فروشنده به اجازۀ مؤسسۀ تولید کننده ، میتواند درخواست تعدیل ثبت را باتذکر تاریخ مطالبه و امضاء نماید.

مادۀ پنجم :

درخواست ثبت حاوی ارقام و معلومات لازم دربارۀ خواص فزیکي

خواصو او اغېزمنتيا. دنباتي ناروغيواوآفتونوضد درملودسميت ددرجې،دزهريت،دخنډېدواو محيطي اغېزو په هکله لازم ارقام او معلومات او دارېتيا وړ تجربوي مواد ولري چې په لومړۍ ګڼه ضميمه کې ليکل شويدي په اوسنيو تخنيکي مسائلو پورې اړوندې ضميمې او نورې ضميمې له اړتياسره سم دکرنې او مالدارۍ وزارت لخوا دعامې روغتيا وزارت په همکارۍ برابريږي او خپريږي.

شپږمه ماده :

هغه مؤسسه چې دنباتي ناروغيواوآفتونو ضد درمل ئې پخوا په مؤقتي يا تجارتي ډول ثبت کړي دي، که چېرې فعاله ماده يامواد(A.I) ئې دبلې مؤسسې په واسطه ترلاسه او تنظيم (فارموليت)شي دغه وروستنۍ مؤسسه هم دثبت دغوښتنې په وړاندې کولو مکلفه ده .

اوومه ماده :

دتوليدوونکې اويا پلورونکې مؤسسې له خوا دثبت او يا هر ډول تعديل غوښتنه

وکيمياوي وموثريت ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتي،درجهٔ سميت،ديرماني زهريت، تأثيرات محيطی ادويهٔ ضد آفات‌وامراض‌نباتي ومواد‌مورد ضرورت تجربوی باشدکه در ضميمهٔ شماره يک درج گرديده است ضمائم مربوط به مسائل تخنيکی موجودوضمائم ديگرحسب ضرورت از طرف وزارت زراعت ومالداری به همکاري وزارت صحت عامه ترتيب ونشرميگردد.

مادهٔ ششم :

مؤسسهٔ ايکه ادويهٔ ضد آفات و امراض نباتي را قبلاً ثبت مؤقتی يا تجارتي نموده،در صورتيکه ماده يا مواد فعال(A.I) آن توسط مؤسسهٔ ديگراخذ وتنظيم (فورموليت)شود اين مؤسسهٔ بعدی نيز مکلف به ارائهٔ درخواست ثبت ميباشد.

مادهٔ هفتم :

درخواست ثبت وياهرنوع تعديل از طرف‌مؤسسهٔ توليدکنندەويافروشنده

دکرنې او مالدارۍ وزارت دنباتاتو دساتنې او قرانطین ریاست ته وړاندې کېږي.

اتمه ماده :

دتولیدوونکي او پلورونکي په ګډون دنباتي ناروغیو او آفتونو ضددرملو وړاندې کوونکي مؤسسه،دثبت غوښتنه له لاندې ډولونو څخه په یوډول وړاندې کوي:

۱_ تجربوي ثبت (راجستر).

۲_ مؤقتي ثبت (راجستر).

۳_ تجارتي ثبت (راجستر).

په هېواد کې دثبت (راجسرېشن) دهریوه ډول لپاره دغوښتنلیک وړاندې کول دنباتي ناروغیو او آفتونو ضد درملو دسابقې او دپخواني استعمال له مخې صورت مومي .

نهمه ماده :

تجربوي ثبت (راجسترېشن):دغه ډول ثبت(راجسترېشن)د هغو نباتي ناروغیو او آفتونوضددرملو لپاره کېږي چې پخواپه هېوادکې استعمال شوی نه وي.

هغه دنباتي ناروغیواو آفتونوضددرمل چې په

به ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین وزارت زراعت ومالداری ارائه میگردد.

مادهٔ هشتم :

مؤسسه عرضه کننده،اعم از تولید کننده وفروشندهٔ ادویه ضد آفات وامراض نباتی،درخواست ثبت را به یکي از اشکال ذیل ارائه میدارد:

۱_ ثبت (راجستر) تجربوی.

۲_ ثبت (راجستر) مؤقتی.

۳_ ثبت (راجستر) تجارتی.

ارائهٔ درخواستی برای هر یک ازاشکال ثبت (راجستریشن) به اساس سابقه واستعمال قبلی ادویهٔ ضد آفات و امراض نباتی درکشور صورت میگیرد.

مادهٔ نهم :

ثبت (راجستریشن) تجربوی: این نوع ثبت‌برای‌ادویهٔ‌ضدآفات‌وامراض نباتي صورت میگیرد که قبلاً در کشورمورداستعمال نبوده است.

ادویهٔ ضدآفات

تجربوي ډول ثبتېږي، په پراخه اوهر اړخيزه توګه ترتجربواوازمايښتونولاندې نيول کېږي، ترڅوپه هغو محصولاتوکې دنباتي ناروغيواو آفتونوضد درملودپاتې شونو سطحه چې وربانديې استعمالېږي مشخصه اود درمل شيندنې دوروستي پړاو اودحاصلاتودټولولو ترمنځ موده اودهغوداستعمالولو څرنګوالې وټاکل شي. دتجربوي ثبت داعتبار موده دوه کاله ده، دهغوتجربواو آزمايښتونو نتيجې چې دغوښتونکي لخوابرابرېږي، له يوه کال وروسته دنباتي ناروغيواوآفتونوضد درملو دموقتي ثبت په مقصد څېړل کېږي.

لسمه ماده :

(۱) موقتي ثبت (راجسترېشن): دنباتي ناروغيواو آفتونو ضد درملوله وېشلو مخکې صورت مومي .

(۲) دموقتي ثبت غوښتنه دهغونباتي ناروغيواو آفتونو ضد درملو لپاره کېږي چې دغه لاندې خصوصيتونه ولري:

۱- دخوکلونولپاره دناوړه اغېزوله رامنځته کېدوپرته په هېوادکې استعمال شوي وي.

وامراض نباتی که ثبت تجربوی میگردد تحت تجارب و آزمایشات وسیع وهمه جانبه قرار داده میشود، تاسطح بقایای ادویهٔ ضد آفات وامراض نباتی درمحصولاتیکه بالای آنها استعمال میشود، مشخص ومیعادبین آخرین مرحلهٔ دوا پاشی ورفع حاصل وچگونگی استعمال آن معین گردد. مدت اعتبار سطح تجربوی دو سال میباشد، نتائج تجارب وآزمایشاتیکه ازطرف درخواست دهنده متعاقباً تهیه میگردد بعداز یکسال به منظور ثبت مؤقت ادویهٔ ضد آفات وامراض نباتی بررسی میشود.

مادهٔ دهم :

(۱) ثبت (راجستریشن) مؤقت :قبل ازتوزیع ادویهٔ ضد آفات و امراض نباتی صورت میگیرد.

(۲) ثبت (راجستریشن) مؤقت برای ادویهٔ ضدآفات وامراض نباتی درخواست میشودکه حائزخصوصیات ذیل باشد:

۱- برای چندسال درکشوربدون بروز اثرات نامطلوب استعمال شده باشد.

۲- دپاتې شونو ناوړه اغېزه ئې له منل شوې نړيوالې ټاکلې اندازې نه ټيټه وي .

۳-په هغه صورت کې چې استعمال ئې په نورو هېوادونو کې په زړه پورې نتيجه ورکړې وي،دمؤقتي ثبت داعتبارموده درې کاله ده،په هغه صورت کې‌چې دهراړخيزې څېړنې او تحليل دترلاسه شووارقامو کميت او کيفيت دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درملودکارولو ددوام اجازه ورنکړي، د استعمالولو موده ئې محدودېږي.

يوولسمه ماده :

تجارتي ثبت ( راجستر ):په هغه حالت کې صورت مومي چې داړتيا وړ ټول ارقام وښيي چې کېدلی شي ، د نظر وړ دنباتي ناروغيو او آفتونوضددرمل له زيات تاوان پرته استعمال کړو،دهغوداعتبارموده پنځه کاله ده .

دولسمه ماده :

دحق الزحمې په بدل کې دثبت (راجستريشن)دغوښتنليک څېړنه،ددوه-يمې ګڼې ضميمې له مخې کېږي.دحق الزحمې

۲- اثر نامطلوب بقاياى آن پائينتر ازحد معين قبول شدهٔ بين المللي باشد .

۳-درصورتيکه استعمال آن‌درسائر کشورهانتيجهٔ مطلوب داده باشد مدت‌اعتبارثبت‌موّقت سه‌سال‌مي‌باشد درصورتيکه کميت وکيفيت‌ارقام حاصل شده،بررسي وتحليل همه جانبه،دوام استعمال ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي رااجازه ندهد،مدت استعمال آن محدودميگردد.

مادهٔ يازدهم :

ثبت(راجستر)تجارتي:درحالتي صورت مي گيردکه تمام ارقام موردنيازنشان دهد که ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي مورد نظرراميتوان بدون خسارهٔ فاحش استعمال نمود،مدت اعتبارآن پنج سال مي باشد .

مادهٔ دوازدهم :

بررسي درخواست ثبت ( راجستريشن) در بدل حق الزحمه طبق ضميمهٔ شماره (۲)صورت ميگيرد ، پول حق الزحمه به حساب واردات امارت تحويل ميگردد.

پيسې دامارت دواردانوحساب ته تحويلېږي
دنباتي نـــاروغيواوآفتونوضددرملودتجزئې او
تحليل ددستگاه(لابراتوار) داړتياوړ كيميـــاوي
موادودواردولواودخدمتونولگښتونه دتقنينـــي
سندونوله حكمونوسره سم اجراءكېږي .

ديارلسمه ماده :

ثبت په هر پړاو كې دنوو معلوماتو له مخې،له
سره،نوي اوتعديل كېداى شي.

څوارلسمه ماده:

دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درملوازمـايښت
او ثبت په هېواد كې دموجودو شرائطو لـــه
مخې كېږي. له هغــو درمــلو پرتــه چــې
دنباتاتودساتنې دقرانطين رياست ئې دځپلـــو
تجربو او معلوماتوله مخې غير ضروري بــولي
دنباتي ناروغيو اوآفتونوضــــد در ملــو د آز-
مايښت غوښتنليک چې په راتلونكي كال كې
آزمايښت كېږي دمرغومي له مياشتې مخكـــې
وړاندې كېږي.

پنځلسمه ماده :

په ولايتونو،څېړنيزومؤسســـواوپوهنتونونـــو
كــې دنبــاتي آفتونــو ضــــد درملـــو

مصـــارف خدمـــات وتوريـــد مـــواد
كيمياوي موردضرورت دستگاه تجزيـــه
وتحليل (لابراتوار) ادوية ضـــد آفـــات
وامـــراض نبـــاتي،طبـــق احكـــام
اسناد تقنيني اجراءميشود.

مادهٔ سيزدهم :

ثبت درهرمرحله برمبناي معلومات جديد
دوباره تجديد وتعديل شده ميتواند.

مادهٔ چهاردهم :

امتحان وثبت (راجستر) ادويهٔ ضد آفات
وامراض نباتي تحت شرائط موجـــودهٔ
كشور صورت ميگيرد ، بـــه استثناي
آنهائيكه رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين
بر مبناي تجارب ومعلومات دست داشته
غير ضروري ميپنـــدارد ، در خواســـت
امتحان ادوية ضـــد آفـــات وامـــراض
نبـــاتي كـــه درســـال بعدآزمـــايش
ميگردد، قبل از ماه جدي ارائه ميشود.

مادهٔ پانزدهم :

امتحان ادويهٔ ضد آفات وامراض نبـــاتي
توسط اعضاي فنـــي دســـتگاه تجزيـــه

آزمايښت ، دکرنې اومالدارۍ وزارت دنباتاتو دساتنې درياست دتجزئې او تحليل ددستګاه (لابراتوار) دفنې غړو په واسطه يا دهغو په لارښوونه دنباتاتودساتنې دڅانګوپه واسطه صورت مومي.

شپاړسمه ماده :

تجربې او آزمايښتونه له نړيوالو منل شوو لاروچارو نه په ګټې اخيستنې سره په هغه ځاې کې ترسره کېږې چې دنباتې ناروغيو او آفتونو ضد درمل دځمکې پر مخ اوبو باندې ناوړه اغېزه ونکړي .

اووه لسمه ماده :

که چېرې دهغې ساحې په حاصل باندې دتجربې له امله چې دنباتې ناروغيو او آفتونو ضد درمل پکې تر تجربې لاندې نيول شوي دي او پر نباتاتو باندې ددرملودپاتې اندازې سميت له پلوه له منل شوې نړيوالې اندازې نه‌کم تثبيت شي،له دغه حاصل نه دانسانې‌او حيوانې خوړو په توګه ګټه اخيستل کېداى شي.

وتحليل (لابر اتوار) رياست حفاظهٔ نباتات وزارت زراعت ومالداري ويا به رهنمائي آنها توسط شعبات حفاظهٔ نباتات در ولايات،مؤسسات تحقيقاتي وپوهنتون ها صورت مي گيرد .

مادهٔ شانزدهم :

تجارب و آزمايشات با استفاده از روش هاي قبول شدهٔ بين المللي در جائيكه ادويه ضدآفات وامراض نباتي اثر نامطلوب بالاي آبهاي سطح الارضي نگذارد،اجرا‌ميشود .

مادهٔ هفد هم :

هرگاه دراثرتجربه بالاي حاصل ساحه ايکه ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي درآنجاتحت تجربه گرفته شده ومقدار باقيماندهٔ ادويه بالاي نباتات ازنگاه سميت ازاندازهٔ قبول شدهٔ بين المللي کمترتثبيت گردد،ازاين حاصل منحيث غذاي انساني وحيواني استفاده شده ميتواند.

**اتلسمه ماده :**

که چېرې په نباتي محصول کې دنباتي آفتونو ضد درملو دپاتې شونو (بقاياوو) اندازه له منل شوې اندازې نه زياته وي يا په هغه صورت کې چې دکوم علت له مخې دنباتي آفتونوضد درملودپاتې شونو داندازې اخيستنې ترسره کول ناشوني وي، تر تجربې لاندې ساحې دحاصل دبيې ورکړه چې دلته منځه وړلو وړوي،له هغې مشخصې بودجې نه چې په همدې مقصد دتجربو او آزمايښتونو لپاره ورکړې شوې ده ، جبيره کېږي.

**نولسمه ماده :**

دتجربو له امله تر لاسه شوي ارقام او معلومات د دريمې ګڼې ضميمې له مخې دثبت (راجستريشن) دهيئت (بورد) لخوا څېړل کېږي.

**شلمه ماده :**

ددې مقررې په دريمه ماده کې ددرج شوو دثبت داسنادو له صادرولو مخکې په نباتي ناروغيواوآفتونوضددرملوباندې دتجربوله امله ترلاسه شوي معلومات

**مادهٔ هجدهم :**

هرگاه مقدار بقاياي ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتي در محصول نباتي بلندتر از اندازهٔ قبول شده باشد ويا در صورتيکه بنابرعللي اندازه گيري بقاياي ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتي اجراء شده نتواند پرداخت قيمت حاصل ساحهٔ تحت تجربه که قابل امحامي‌باشد،ازبودجهٔ مشخصيکه بدين منظوربراي تجارب وآز مايشات داده شده،جبران ميگردد .

**مادهٔ نزدهم :**

ارقام ومعلومات حاصلهٔ تجارب توسط هيئت (بورد) ثبت (راجستريشن) طبق ضميمهٔ شماره (۳) ارزيابي ميگردد .

**مادهٔ بيستم :**

قبل ازصدوراسنادثبت مندرج مادهٔ سوم اين مقرره،معلومات ونتائج حاصلهٔ تجارب بالاي ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي صرف به نمايندهٔمرجع درخواست دهنده

اونتيجې يوازې دغوښتنليک دوړاندې کوونکي مرجع،اړوندومؤسسواوهغو واکمنو آمرانواومرستيالانوته چې دثبت په عمليه کې برخه اخلي ، دثبت د هيئت آمر او دنباتاتو دساتنې او قرانطين رئيس ته وړاندې کېږي .

**يوويشتمه ماده :**

هغه ارقام چې دغوښتنليک ورکوونکي لخوا دثبتولو په مقصد وړاندې کېږي،په خوندي ډول ساتل کېږي اودغوښتنليک ورکوونکي له ليکلي موافقې پرته افشاء کېدلي نشي .

## دريم فصل

### بنديزونه اومحدوديتونه

**دوه ويشتمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍوزارت په لاندې مواردو کې دنباتي ناروغيواوآفتونوضد درملودمؤقت او ياتجارتي ثبتولو غوښتنليک مستردوي:

۱-دهغو دسم اودقيق استعمال باوجود پر چاپېريال،انسان اونبات باندې دمعکوسواو نامطلوبواغېزو رامنځته کېدل.

آمرين و معاونين مؤسسات مربوطه كه در عمليهٔ ثبت سهم ميگيرند، آمر هيئت ثبت ورئيس حفاظهٔ نباتات وقرانطين ارائه ميگردد .

**مادهٔ بيست ويكم :**

ارقاميكه توسط درخواست دهنده به مقصد ثبت ارائه ميگردد ، طور محرم نگهداري شده،بدون موافقهٔ تحريري درخواست دهنده افشاء شده نميتواند .

## فصل سوم

### قيود و محدود يت ها

**مادهٔ بيست ودوم :**

وزارت زراعت ومالداري درخواست ثبت (راجستر)مؤقت وياتجارتي ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي رادرمواردآتي مستردمينمايد:

۱- بروز تأثيرات معكوس ونامطلوب بالاي انسان ، نبات و محيط باوجود استعمال درست و دقيق آن .

۲- دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درملو دهراړخيزې څېړنې لپاره دوړاندې شويو ارقامو ، نه بسوالى .

۳- دژوند پېژندنې (بيولوژيکي) او دنباتي ناروغيو او آفتونو ضد درملو دکيفيت نه قناعت بخښونکې اغېزې .

**درويشتمه ماده :**

دکرنې او مالدارۍ وزارت کولى شي دنباتي ناروغيواوآفتونو ضد درملو موقتي يا تجارتي ثبت(راجستر)چې دغه لاندې خصوصيتونه ولري،مسترديامحدودکړي :

۱-په هغه صورت کې چې کرل شوي نباتات د مستهلکينواوچاپېريال لپاره خطرناک وګڼل شي.

۲- ښه او مناسب کيفيت ونه لري .

۳- داوږدې مودې لپاره دوړاندې کولو او استعمالولو وړنه وي .

**څلورويشتمه ماده :**

دنباتي ناروغيو اوافتونوضد درملو له زېرمې نه چې ثبت(راجستر)ئې مسترديا محدودېږي،دنباتاتو دساتنې او قرانطين درياست له خانګړو لارښوونو سره سم ګټه اخيستل کېداى شي .

۲- عدم کفايت ارقام ارائه شده براي ارزيابي همه جانبه ادويه ضد افات وامراض نباتي .

۳- عدم تاثير قناعت بخش زيست شناسي (بيولوژيکي ) وکيفيت ادويه ضد افات وامراض نباتي .

**ماده بيست وسوم :**

وزارت زراعت ومالداري ميتواند ثبت (راجستر)موقتياتجارتي ادويه ضد افات وامراض نباتي راکه داراي خصوصيات ذيل باشد،مستردیامحدود سازد:

۱-درصورتيکه براي مستهلکين،نباتات کشت شده ومحيط خطرناک محسوب شود.

۲- کيفيت خوب ومناسب نداشته باشد.

۳- براي مدت طولاني قابل عرضه و استعمال نباشد .

**ماده بيست وچهارم :**

از ذخيره ادويه ضد آفات وامراض نبا تي که ثبت (راجستر) آنها مسترد يا محدود ميشود، بر حسب هدايات خاص رياست حفاظه نباتات وقرانطين ، استفاده شده ميتواند .

پنځمه ویشتمه ماده :

دکرنې اومالدارۍ وزارت دبوټودساتنې او قرانطین ریاست په بیړنیو وختونوکې دناڅاپې افتونو دحملې او خپرېدودمخنیوي او څارنې لپاره دارتیاوړنباتې ناروغیو او افتونو ضد درملو دبرابرولواوکارولوځانګړې اجازه تراعظمي مودې یوکال پورې صادروي اوددغه اجازه لیک دصادرولوپه هکله دعامې روغتیا وزارت ته خبرورکوي .

شپږ و یشتمه ماده :

په بیړنیوحالاتوکې مجازې مؤسسې او انفرادي سوداګر دکرنې اومالدارۍ وزارت له لارښوونې سره سم دثبت دعملیې داداري پړاوونوله تېرولو پرته ځانګړې تدبیرونه نیسي اوپه ډېرلنډممکن وخت کې دارتیاوړنباتي ناروغیواوآفتونوضددرمل برابروي .

## څلورم فصل

## وارد ول اووېشل

اووه ویشتمه ماده :

دهېواددنباتاتودساتنې لپاره دارتیاوړ نباتي ناروغیو او آفتونو ضد درملو ډول او اندازه

مادهٔ بیست وپنجم :

ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین وزارت زراعت ومالداري،درمواقع عاجل جهت جلوګیري ومراقبت ازحمله و شیوع آفات غیرمترقبه،اجازهٔ خاص تهیه واستعمال ادویهٔ ضدآفات وامراض نباتيموردنظرراالي مدت اعظمي یکسال صادرووزارت صحت عامه رااز صدوراین اجازه نامه مطلع میسازد.

مادهٔ بیست ششم :

درحالات عاجل مؤسسات وتجارانفرادي مجاز،به اساس هدایت وزارت زراعت ومالداري اقدامات خاص را بدون طي مراحل اداري عملیهٔ ثبت،اتخاذودرکوتاه ترین مدت ممکنه ادویهٔ ضد آفات وامراض نباتي مورد ضرورت را تهیه مي نماید .

## فصل چهارم

## تورید وتوزیع

مادهٔ بیست وهفتم :

نوع ومقدارادویهٔ ضد آفات وامراض نباتي موردنیاز براي حفاظهٔ نباتات

هر کال دنباتاتو دساتني اوقرانطين دریاست له خوا تثبيت اوټاکل کېږي .

اته ویشتمه ماده :

دنباتي ناروغيو اوآفتونو ضددرملو واردول یوازې دهغومؤسسو اویاانفرادي سوداګرو لخواچې امارت اجازه ورکړې،دهغه فهرست له مخې چې دکرنې اومالدارۍ وزارت د نباتاتو دساتني اوقرانطين رياست ئې منظوروي دهغو مقرراتو اومحدوديتونوپه رعايتولوسره چې دعامې روغتيا وزارت وقايوي طب ئې دنباتي ناروغيو اوآفتونو ضددرملو په اړونـد دکارکوونکو اومستهلکينودروغتيااوسلامتيا دتأمينولو په لاره کې لګوي،ترسره کېږي.

هغه معلومات چې بايد مؤسسې اوانفرادي سوداګرئي دنباتي ناروغيو اوآفتونو ضددرملودواردولو دمنظورۍ داخيستلولپاره وړاندې کړي،دکرنې او مالدارۍ اوعامې روغتياوزارت لخواټاکل کېږي .

نهه ویشتمه ماده :

دنباتي ناروغيو اوآفتونو ضددرملوویش دمجازونماينده ګيو اوپرچون پلورنځيو واردوونکومؤسسو او اړوندو انفرادي سوداګروپه واسطه دهغوادپه

کشورسالانه توسط رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين تعيين وتثبيت ميګردد .

مادهٔ بيست وهشتم :

تورید ادویهٔ ضد آفات وامراض نباتي تنها توسط مؤسسات وياتجارانفرادي که امارت اجازه دهد،برحسب فهرست که رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين وزارت زراعت ومالداري منظورمي نمايد بارعايت مقررات محدوديت هاي که طب وقايوي وزارت صحت عامه جهت تأمين صحت وسلامت کارکنان ومستهلکين به ارتباط ادويهٔ ضدآفات و امراض نباتي وضع مينمايد،صورت ميګيرد معلوماتي راکه بايدمؤسسات وياتجارانفرادی برای اخذمنظوری توريدادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي ارائه بدارد،ازطرف وزارت زراعت ومالداري ووزارت صحت عامه تعيين ميشود .

مادهٔ بيست ونهم :

توزيع ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتي توسط نماينده ګيهاو پرچون فروشي هاي مجاز مؤسسات تورید کننده وتجارانفرادي

مرکزاوولایتونوکې عملي کېږي .

**دېرشمه ماده :**

پرچون پلورونکوته دجواز صادرول دنباتاتو دساتنې اوقرانطین د ریاست له خواله اړتیاسره سم دواردوونکو اوانفرادي اشخاصو دلیکلی غوښتنې له مخې ترسره کېږي ، په دې شرط چې دنباتي ناروغیواوآفتونوضد درملودپلورنې اوزېرمه کولوله هغې کړنلارې سره سم چې دکرنې اومالدارۍ اوعامې روغتیادوزارت له خوا په ګډه وضع کېږي ، دهغودساتنې اوزېرمه کولو لپاره ډاډ من اوبېخطره شرائط اودهغودپلورنې لپاره دې مناسب ځای برابرکړي .

پخوانی جواز له یوکال وروسته په هغه صورت کې نوی کېږي چې دپلورنې مجوزه شرطونه رعایت شوي وي.

**یودېرشمه ماده:**

دنباتي ناروغیواوآفتونوضد درملو واردوونکی دخپلوپلورنیزونماینده ګیو

مربوط درمرکزوولایات عملي میگردد .

**مادهٔ سي ام :**

صدورجوازبراي پرچون فروشان ازطرف ریاست حفاظهٔ نباتات وقرانطین،برحسب ضرورت نظربه درخواست تحریري واردکننده واشخاص انفرادي صورت میگیرد ،مشروط براینکه شرائط مطمئن وبي خطررابراي نگهداري،ذخیره ومحل مناسب را براي فروش آنها،مطابق طرزالعمل فروش وذخیرهٔ ادویهٔ ضدآفات وامراض نباتي که مشترکاًازطرف وزارت زراعت ومالداري ووزارت صحت عامه وضع میگرددتدارک نماید .

جوازسابقه بعد ازیکسال درصورتي تجدید میشود که شرائط مجوزهٔ فروش رعایت گردیده باشد.

**مادهٔ سي ویکم :**

واردکننده گان ادویهٔ ضد آفات وامراض نباتي دربرابر فعالیت نماینده گي هاي

اوپرچون پلورونکودفعاليت په وړاندې مسئوليت لري اودپرچون پلورونکوفعاليت دتحويلخانې اوپرچون پلورنې دهټيوحالت په منظمه توګه څاري .

دوه دېرشمه ماده :

دنباتاتودساتنې اوقرانطين رياست کولی شي دهغې پرچون پلورنې جواز چې دپلورنې مجوزه شرائط ئې نه دي رعايت کړي سلب کړي .

درې دېرشمه ماده :

دنباتي ناروغيواوآفتونوضد درملوپلورل په خاصوهټيوکې صورت مومي اودسړکونو په غاړوکې دهغوپلورنه مجازنه ده .

څلور دېرشمه ماده :

مؤسسې يا انفرادي سوداګردې دخپلوواردکړيونباتي ناروغيواوآفتونوضد درملوپلورنه چې دمجازو پرچون پلورونکو په واسطه،ددې مقررې له حکمونوسره سم ترسره کېږي ، تضمين اواړوند پرچون پلورونکې دې ارباسې چې دپلورنې جوازترلاسه اوپخپل وخت ئې نوی کړي.

فروش وپرچون فروشي هاي خويش مسئوليت کامل داشته وفعاليت پرچون فروشان،وضع تحويلخانه ودکان هاي پرچون فروشي رابه طورمنظم مراقبت مينمايند .

مادۀ سي ودوم :

رياست حفاظۀ نباتات وقرانطين ميتواند جوازپرچون فروشي را که شرائط مجوزۀ فروش رارعايت نه نموده سلب نمايد .

مادۀ سي وسوم :

فروش ادويۀ ضد آفات وامراض نباتي دردکان هاي خاص صورت ميگيرد ودر کنارسرک هافروش آن مجازنمي باشد.

مادۀ سي وچهارم :

مؤسسات وياتجارانفرادي،فروش ادويۀ ضدآفات وامراض نباتي توريدي شان را که توسط پرچون فروشان مجاز طبق احکام اين مقرره صورت ميگيرد،تضمين وپرچون فروشان مربوط راوادارميسازند که جوازفروش رااخذوبه موقع آنرا تجديد نمايند.

پنځه دېرشمه ماده :

هغه پلورونکي چې له جواز پرته دنباتي ناروغيو او آفتونو ضددرملوپه پلورلو لاس پوري کړي، ددې مقررې د (۴) گڼې ضميمې د په نظرکې لرلو سره مجازات کېږي.

شپږدېرشمه ماده :

دنباتي ناروغيواوآفتونوضد درمل چې دسړکونوپه غاړوکې پلورل کېږي دنباتاتودساتنې اوقرانطين رياست ته له مخکنۍ خبرتياپرته، دپلورنې په هماغه ځای کې دپوليسو لخوراټول اودمحکمې په حکم مستردېږي .

اووه دېرشمه ماده :

دهېواد په مرکزکې دنباتي ناروغيو اوآفتونو ضد درملودوېش لارښوونه اوڅارنه دنباتاتودساتنې اوقرانطين رياست اوپه ولايتونوکې دنباتاتودساتنې دمديريتونو په واسطه صورت مومي .

اته دېرشمه ماده :

دنباتاتودساتنې اوقرانطين رياست په مرکز

مادهٔ سي وپنجم :

فروشنده ايکه بدون جوازبه فروش ادويهٔ ضدآفات وامراض نباتي مبادرت ورزده بادرنظرداشت ضميمهٔ شماره (۴) اين مقرره مجازات ميشود.

مادهٔ سي وششم :

ادويهٔ ضد آفات وامراض نباتي که درکنار سرکها به فروش ميرسد، درهمان محل فروش بدون اطلاعية قبلي به رياست حفاظهٔ نباتات وقرانطين توسط پوليس جمع آوري وبه حکم محکمه استرداد آن صورت ميگيرد .

مادهٔ سي وهفتم :

